۱- هغه مالک يا د هغه قانوني استازی چې مالونه د ګمرک قلمرو ته واردوي، صادروي يا د ګمرک د محصول د بيا ورکړې ادعا ثبتوي يا بهرني مالونه لېږدوي رالېږدوي يا زېرمه کوي.

۲- هغه مالک يا د هغه قانوني استازی چې د بهرنيو مالونو په تورېد، لېږد رالېږد، زېرمې او يا د کورنيو مالونو په صادرولو لاس پورې کوي.

۳- هغه شخص چې د هغه فعاليتونه د اظهار ليک ثبت ته اړتيا ولري.

(۲) د مالونو د سندونو د ساتنې موده د کال له پايته رسېدو وروسته په لاندې ډول پيلېږي:

۱- هغه مالونه چې په آزاد دوران ترخيص شوي وي، او يا د صادرولو لپاره څرګند شوي وي، د هغو موده د کال له پای څخه چې په هغه کې اظهار

اسناد گمرکی مربوط را حداقل برای مدت دو سال غرض کنترول ادارۀ گمرک حفظ و نگهداری نمایند و عندالمطالبه آنرا بدسترس شان قرار دهند:

۱- مالک يا نمايندۀ قانونی وی که اموال را به قلمرو گمرکی وارد، صادر يا ادعای باز پرداخت محصول گمرکی را ثبت يا اموال خارجی را حمل ونقل يا ذخيره می نمايد.

۲- مالک يا نمايندۀ قانونی وی که به تورید، حمل ونقل، ذخيرۀ اموال خارجی و يا صدور اموال داخلی می پردازند.

۳- شخصی که فعاليت های او نياز به ثبت اظهار نامه داشته باشد.

(۲) مدت نگهداری اسناد اموال بعد از ختم سال، طور ذيل آغاز می گردد:

۱- اموالی که به دوران آزاد ترخيص شده باشد و يا برای صدور، اظهار گرديده باشد، مدت آن از ختم سال که

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکونه د آزاد دوران د ترخيص يا صادرولو لپاره منل شوي دي، تاکل کېږي.

۲- هغه مالونه چې د وارداتو د محصول په تخفيفي نرخ يا صفري نرخ تر نظر لاندې ګټې اخيستنې په حساب ترخيص شوي وي، د کال له پای څخه چې هغوی ندي غوښتي د ګمرکي څارنې تابع وي.

۳- هغه مالونه چې په آزاده ساحه يا په وړيا ګدامونو کې ځای پر ځای شوي وي، د کال له پای څخه چې هغوی اړوند تضمينات ړدي.

۴- هغه مالونه چې د نورو ګمرکي کړنلارو تر حکم لاندې راغلي وي، د کال له پای څخه چې اړوند ګمرکي کړنلاره بشپړه شوې وي.

(۳) که چېرې د ګمرکي دين په هکله ګمرکي کنترول وښيي چې په حسابونو کې د اړوندو اطلاعاتو ثبت اصلاح ته اړتيا لري او له موضوع څخه تر نظر لاندې شخص ته اطلاع ورکړل شوې وي، نوموړي سندونه او اطلاعات ددې

در آن اظهارنامه ها برای ترخيص دوران آزاد يا صدور قبول گرديده، تعيين می گردد.

۲- اموالی که با نرخ تخفيفی و يا نرخ صفری محصول واردات به حساب استفادۀ مورد نظر ترخيص گرديده باشد، از ختم سال که آنان نخواسته اند تابع نظارت گمرکی باشند.

۳- اموالی که در ساحۀ آزاد يا در گدام های مجانی جا بجا شده باشد،از ختم سال که آنان تضمينات مربوط را می گذارند.

۴- اموالی که تحت حکم ساير طرزالعمل های گمرکی قرار گرفته باشد، از ختم سال که طرز العمل مربوط گمرکی تکميل گرديده است.

(۳) هر گاه کنترول گمرکی در رابطه به دين گمرکی نشان دهد که ثبت اطلاعات مربوط در حسابات، نياز به اصلاح دارد وموضوع به شخص مورد نظر اطلاع داده شده باشد، اسناد و اطلاعات مذکورعلاوه ازمدت زمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادې په (۱) فقره کې درج د اټکل شوې مودې سربېره، د دوو نورو کلونو لپاره هم ساتل کېږي.

(۴) که چېرې دعوي په محکمه کې اقامه یا د محکمې اقدامات پیل شوي وي، سندونه او اطلاعات ددې مادې په (۱) فقره کې درج د اټکل شوې مودې لپاره یا د محکمې تر وروستني حکم پورې ساتل کېږي.

**<u>د تورید کوونکي د محلاتو او ودانیو پلټنه (بازرسي)</u>**

**شپاړسمه ماده:**

د ګمرک مامورین کولای شي د سوداګریزو اړتیاوو او د اړوند اشخاصو د غوښتنې پر بنسټ د تورید کوونکي اړوند غیر مسکوني محلات او ودانۍ وپلټي. پدې صورت کې د محل د ګمرک رئیس د حالاتو په پام کې نیولو سره د ترسره شوو خدمتونو لګښتونه تثبیتوي او له تورید کوونکي څخه یې لاسته راوړي.

پیش بینی شده مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، برای دوسال دیگر نیز حفظ ونگهداری می شود.

(۴) هرگاه دعوی در محکمه اقامه یا اقدامات محکمه آغاز شده باشد،اسناد و اطلاعات برای مدت پیش بینی شده مندرج فقرهٔ (۱) این ماده یا الی حکم نهائی محکمه حفظ و نگهداری می گردد.

**<u>بازرسی محلات وساختمانهای توریدکننده</u>**

**مادهٔ شانزدهم:**

مامورین گمرک می توانند به اساس نیازمندی های تجارتی و تقاضای اشخاص ذیربط، محلات و ساختمان های غیر مسکونی مربوط به تورید کننده را بازرسی نمایند. در این صورت رئیس گمرک محل با نظر داشت حالات، مصارف خدمات انجام شده را تثبیت و از تورید کننده تحصیل می نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اظهاروونکی**

**اووه لسمه ماده:**

**(۱) لاندې اشخاص کولای شي، ګمرکي اظهار لیک او د هغو اړوند سندونه د ګمرک اداري ته وړاندې کړي:**

**۱- د مالونو مالک یا د هغه استازی چې په افغانستان کې د مالونو د پلورلو واک ولري.**

**۲- هغه کمیشنکار چې ددې قانون د حکمونو سره سم، یې د کمیشنکاری جواز اخیستی وي.**

**(۲) ددې قانون په پنځه پنځوسمه ماده کې درج شوي پستي مالونه او هغه مالونه چې ددې قانون په اته پنځوسمه ماده کې د درج شوو مسافرو په واسطه واردېږي، له دې حکم څخه مستثني دي.**

**د مالونو ګمرکي تصفیه**

**اتلسمه ماده:**

**د وارداتي او صادراتي مالونو ګمرکي تصفیه د سوداګر یا د هغه د قانون**

**اظهارکننده**

**مادۀ هفدهم:**

**(۱) اشخاص ذیل می توانند، اظهارنامۀ گمرکی واسناد مربوط آن را به ادارۀ گمرک ارایه نمایند:**

**۱- مالک اموال یا نمایندۀ وی که صلاحیت فروش اموال را در افغانستان داشته باشد .**

**۲- کمیشنکار که جواز کمیشنکاری را مطابق احکام این قانون اخذ نموده باشد.**

**(۲) اموال پستی مندرج مادۀ پنجاه وپنجم این قانون و اموالی که توسط مسافرین مندرج مادۀ پنجاه وهشتم این قانون وارد می گردد، از این حکم مستثنی می باشد.**

**تصفیۀ گمرکی اموال**

**مادۀ هجدهم:**

**تصفیۀ گمرکی اموال وارداتی و صادراتی توسط تا جر یا نمایندۀ قانونی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازي يا د جواز لرونكـــي ګمركـــي كميشن كار پــه واســطه د اړونـــدې كړنلارې سره سم صورت مومي.

## كميشن كاري

**نولسمه ماده:**

(۱) ګمركي كميشن كاري هغه شــغل دی چې شخص له ماليې وزارت څخه د جواز د ترلاسه كولو وروســته، هغــه سرته رسوي.

(۲) د ګمركي كميشن كارۍ د جواز د ترلاسه كولــو شــرطونه، حقــوق او وجايب، په جلا كړنلاره كې تنظيمېږي.

## د تصميمونو نيول

**شلمه ماده:**

(۱) ګمركي مامورين كولای شـــي، د اظهار كوونكي د غوښتنليک پر بنسټ د ګمركي تقنيني سندونو سره ســم د مشخصې ګمركي معاملې پــه هكلــه تصميم ونيسي. غوښتنليک وركوونكی مكلف دی، د تصميم د نيولو په غرض اړوند معلومات او ســندونه د هغــوی لاسرسي ته وركړي.

وی يا كميشن كـــارگمركی دارنـــدۀ جواز، طبق طرزالعمل مربوط صورت می گيرد.

## كميشن كاری

**مادۀ نزدهم:**

(۱) كميشن كاری گمركی شغل است كه شخص بعد از كســـب جـــواز از وزارت ماليـــــه، آن را انجـــــام می دهد.

(۲) شرايط كسب جواز، حقــوق و وجايب كميشن كاری گمركـــی، در طرزالعمل جداگانه تنظيم می شود.

## اتخاذ تصاميم

**مادۀ بيستم:**

(۱) مامورين گمرک می توانند، بـــه اساس درخواست اظهـــار كننـــده، در مورد معاملۀ گمركی مشخص مطـــابق اسناد تقنينی گمركی تصـــميم اتخـــاذ نمايند. درخواست كننده مكلف است، معلومات و اسناد مربـــوط را غـــرض اتخاذ تصميم به دسترس آنهـــا قـــرار دهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د ګمرک مامورين مکلف دي، زيات نه زيات د (۳۰) ورځو په ترڅ کې پدې هکله تصميم ونيسي او غوښتنليک ورکوونکي ته خبرتيا ورکړي.

(۳) که چېرې نيول شوی تصميم د غوښتنليک ورکوونکي يا نورو اشخاصو د ګټو سره ټکر ولري، د ګمرک مامورين مکلف دي، له موضوع څخه د دلايلو په وړاندې کولو سره په ليکلي ډول غوښتنليک ورکوونکي ته خبرتيا ورکړي.

(۴) غوښتنليک ورکوونکی کولای شي، ددې قانون د حکمونو سره سم، په نوموړي تصميم باندې اعتراض وکړي.

### د تصميمونو لغو

**يوويشتمه ماده:**

(۱) د ګمرکونو لوی رئيس کولای شي، هغه تصميم چې ګمرکي مامورينو ددې قانون د شلمې مادې په(۱) فقره کې د درج شوي غوښتنليک

(۲) مامورين گمرک مکلف اند، حد اکثر در خلال (۳۰) روز در مورد تصميم اتخاذ و به درخواست کننده اطلاع دهند.

(۳) هرگاه تصميم اتخاذ شده مغاير منافع درخواست کننده يا ساير اشخاص باشد، مامورين گمرک مکلف اند، موضوع را با ارايهٔ دلايل طور کتبی به در خواست کننده اطلاع دهند.

(۴) در خواست کننده می تواند، بالای تصميم مذکور مطابق احکام اين قانون اعتراض نمايد.

### لغو تصاميم

**مادهٔ بيست و يکم:**

(۱) رئيس عمومی گمرکات می تواند، تصميمی را که مامورين گمرکی مبنی برارايهٔ معلومات نامکمل وغير دقيق در

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکـــوونکي د ناپشـــپړو او نـــادقيق معلوماتو د وړاندې کولو پر بنا يـــا د گمرکي تقنيني سندونو مغاير نيولی وي، لغو کړي.

(۲) د گمرکونو لوی رئيس مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کـــې د درج شوي تصميم له لغـــو کېـــدو څخـــه غوښتنليک ورکـــوونکي تـــه خبرتيـــا ورکړي.

## الزامي تصميم

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) د گمرکونو لوی رئيس کـــولای شي، د وارد شوو مالونو د اصلي هېواد (منشأ) په هکله او هم د گمرکي تقنيني سندونو د لاښه تطبيق په منظور د دريو کلونو مودې لپـــاره الزامـــي تصـــميم ونيسي. دغه تصميم د هغه د نيول کېدو لـــه نېټـــې څخـــه د اعتبـــار وړ دی.

(۲) د الزامي تصميم د نيولو ډول پـــه کړنلاره کې تنظيمېږي.

خواست کننده مندرج فقرۀ (۱) مادۀ بيستم اين قانون يا مغاير اسناد تقنينـــی گمرکی اتخاذ نمـــوده باشـــند، لغـــو نمايد.

(۲) رئـــيس عمـــومی گمرکـــات مکلـــف اســـت، از لغـــو تصـــميم منـــدرج فقـــرۀ (۱) ايـــن مـــاده، بـــه درخواســـت کننـــده اطـــلاع دهد.

## تصميم الزامی

**مادۀ بيست و دوم:**

(۱) رئيس عمومی گمرکات می تواند، در مورد کشور اصلی (منشأ) امـــوال وارد شده و نيزبه منظور تطبيق بهتـــر اسناد تقنينی گمرکی، تصميم الزامی را برای مدت سه سال اتخاذ نمايد. ايـــن تصميم از تاريخ اتخاذ آن مدار اعتبار می باشد.

(۲) طرز اتخاذ تصـــميم الزامـــی در طرزالعمل تنظيم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پر ګمرکي تصميمونو بيا کتنه (تجديد نظر)**

**درويشتمه ماده:**

(۱) که چېرې اظهاروونکی په ګمرکي تصميم قناعت ونلري، کولای شي د ګمرک له اداري څخه د دلايلو په وړاندې کولو سره د هغه د بيا کتنې غوښتنه وکړي.

د بيا کتنې مطالبه تر اعتراض لاندې تصميم د تعميل خنډ نه ګرځي او ګمرکي دين د وروستني تصميم تر صادرېدو پورې د امانت په ډول ساتل کېږي. ددې قانون په يو سلو نهه نوي يمه ماده کې درج شوي تصميمونه له دې حکم څخه مستثني دي.

(۲) پر ګمرکي تصميمونو د بيا کتنې غوښتنليک د تصميم له ابلاغ څخه وروسته د (۱۰) ورځو په ترځ کې د ګمرک د سيمه ييزو واکمنو دفترونو له لارې د ګمرکونو د لوی رياست په نامه وړاندې کېږي.

(۳) د ګمرکونو لوی رياست مکلف

**تجديد نظر بر تصاميم گمرکی**

**مادۀ بيست وسوم:**

(۱) هرگاه اظهار کننده به تصميم گمرکی قناعت نداشته باشد، می تواند با ارايۀ دلايل تجديد نظرآنرا از ادارۀ گمرک مطالبه نمايد.

مطالبۀ تجديد نظر مانع تعميل تصميم مورد اعتراض نمی گردد و دين گمرکی الی صدور تصميم نهائی طور امانت نگهداری می شود. تصاميم مندرج مادۀ يکصد و نود ونهم اين قانون از اين حکم مستثنی است.

(۲) درخواست تجديد نظر بر تصاميم گمرکی از طريق دفاتر ذيصلاح منطقوی گمرک عنوانی رياست عمومی گمرکات در خلال (۱۰) روز بعد از ابلاغ تصميم، ارايه می گردد .

(۳) رياست عمومی گمرکات مکلف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، ترد بیا کتنې په هکله تـر (۲۰) ورځو پورې تصمیم ونیسي، له دې پرته موضـوع د اعتـراض د غوښـتنلیک ورکوونکي په ګټه فیصله کیږي. خـو داچې په بیا کتنه کې ځنډ د غوښتنلیک ورکوونکي د تقصیر له امله وي.

(۴) که چیرې د اعتراض د غوښتنلیک ورکوونکی د ګمرکاتو د لوی ریاست په تصمیم قناعـت ونکـړي او یـا د ګمرکاتو د لوی ریاست له لوري د بیا کتنې غوښتنلیک رد شي، کولای شي خپل اعتراض د ګمرکي حکمیت ادارې او یا واکمنې محکمې ته وړاندې کړي.

(۵) غوښتنلیک ورکوونکی مکلف دی، د تصمیم د لاسته راوړلو له نیټې څخه تر پنځلسو ورځو پورې خپل اعتراض د ګمرکي حکمیت ادارې او یا واکمنې محکمې ته وړاندې کړي او تر تنـازع لاندې پیسو دوه سلنه د لګښـتونو د تضمین په نامه ورکړي.

است، الی (۲۰) روز در مورد تجدید نظر تصـمیم اتخـاذ و در غیـر آن موضوع به نفع درخواسـت کننـدۀ اعتراض، فیصله می گردد. مگر اینکه تأخیر در تجدید نظر ناشی از تقصـیر درخواست کننده باشد.

(۴) هرگاه درخواست کنندۀ اعتراض، به تصمیم ریاست عمومی گمرکـات قناعت ننماید و یا درخواست تجدیـد نظر از طرف ریاست عمومی گمرکات رد گردد، می تواند اعتراض خود را به ادارۀ حکمیت گمرکی و یا به محکمۀ ذیصلاح تقدیم نماید.

(۵) درخواست کننده مکلف اسـت، از تاریخ دریافت تصمیم الی پـانزده روز اعتـراض خویشـرا بـه ادارۀ حکمیت گمرکی ویـا بـه محکمـۀ ذیصلاح ارایه و دو فیصد مبلغ مـورد تنازع را به عنوان تضـمین مصـارف بپر دازد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريیم فصل

## د اعتراض بررسي

**د ګمرکي حکميت د اداري رامنځته کول**

**څلېريشتمه ماده:**

(۱) پر ګمرکي تصميمونو د اعتراضونو د بررسۍ په منظور د ګمرکي حکميت اداره د ماليې وزارت په چوکاټ کې رامنځته کېږي.

(۲) د ګمرکي حکميت اداره له دريو غړو څخه جوړه ده چې د ماليې وزارت په وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ ټاکل کېږي.

**د ګمرکي حکميت د اداري قرار**

**پنځه ويشتمه ماده:**

(۱) د ګمرکي حکميت اداره ګمرکي تقنيني سندونو ته په پام سره، پر ګمرکي تصميمونو اعتراضونه تر بررسۍ لاندې نيسي او په دې برخه کې خپل قرار صادروي.

(۲) د ګمرکي حکميت د اداري قرار

## فصل سوم

## بررسی اعتراض

**ایجاد ادارۀ حکمیت گمرکی**

**مادۀ بیست و چهارم:**

(۱) به منظور بررسی اعتراضات بر تصامیم گمرکی، ادارۀ حکمیت گمرکی در چوکات وزارت مالیه ایجاد می گردد.

(۲) ادارۀ حکمیت گمرکی متشکل از سه عضو بوده که به پیشنهاد وزیر مالیه و منظوری رئیس جمهور تعیین می گردند.

**قرار ادارۀ حکمیت گمرکی**

**مادۀ بیست وپنجم:**

(۱) ادارۀ حکمیت گمرکی اعتراضات مبنی بر تصامیم گمرکی را با نظرداشت اسناد تقنینی گمرکی مورد بررسی قرار داده و در زمینه قرار خویش را صادر می نماید.

(۲) قرار ادارۀ حکمیت گمرکی در

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغو موضوعاتو کې چې ګمرکي دين تر پنځوسو زرو افغانيو پورې وي، د تطبيق وړ دی، پدې شرط چې اړخونه په هغه باندې قناعت ولري.

(۳) که چېرې تر منازعې لاندې ګمرکي دين له پنځوسو زرو افغانيو څخه زيات وي، اړخونه کولای شي اړوندې سوداګريزې محکمې ته مراجعه وکړي. د محکمې حکم وروستنی او واجب التنفيذ دی.

(۴) د وارده اعتراضونو د بررسۍ ډول په جلا مقرره کې تنظيمېږي.

## څلورم فصل

## ګمرکي تعرفه او د مالونو د بيې ټاکل

### ګمرکي تعرفه

**شپږ ويشتمه ماده:**

(۱) د ګمرکي تعرفې د بيې د ټاکلو په منظور، د تعرفې کمېټه د ماليې وزارت د عوايدو او ګمرکاتو د معين تر رياست لاندې په لاندې ترکيب سره رامنځته کېږي:

منازعاتی که دين گمرکی الی مبلغ پنجاه هزار افغانی باشد، قابل تطبيق می باشد، مشروط براين که طرفين به آن قناعت داشته باشند.

(۳) هرگاه دين گمرکی مورد منازعه بيشتر از مبلغ پنجاه هزار افغانی باشد، طرفين می توانند به محکمهٔ تجارتی مربوط مراجعه نمايند. حکم محکمه نهايی و واجب التنفيذ می باشد.

(۴) طرز بررسی اعتراضات وارده در مقررهٔ جداگانه تنظيم می گردد.

## فصل چهارم

## تعرفهٔ گمرکی و تعيين قيمت اموال

### تعرفهٔ گمرکی

**مادهٔ بيست وششم:**

(۱) به منظور تعيين نرخ تعرفهٔ گمرکی، کميتهٔ تعرفه تحت رياست معين عوايد وگمرکات وزارت ماليه به ترکيب ذيل ايجاد می گردد :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د سوداګرۍ او صنایعو د وزارت معین.
۲- د اقتصاد وزارت معین.
۳- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت معین.
۴- د کانونو او پطرولیم وزارت معین.
۵- د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې رئیس.
(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې کمېټه د ګمرکي تعرفې بیه تأییدوي او د منظورۍ لپاره یې د مالیې وزیر ته وړاندیزوي.
(۳) د تعرفې کمېټه کولای شي، اقتصادي شرایطو ته په پام سره په ګمرکي تعرفه کې بدلونونه د مالیې وزیر ته وړاندیز کړي.
(۴) د مالیې وزیر د وړاندې شوو دلیلونو په کتنې سره، پدې اړه لازم تصمیم نیسي.
(۵) د مالیې وزارت مکلف دی، په کال کې دوه ځله ( د کال په لومړۍ شپږو میاشتو او د کال په دوه یمو شپږو میاشتو کې) د تعرفې د کمېټې له

۱- معین وزارت تجارت و صنایع.
۲- معین وزارت اقتصاد.
۳- معین وزارت زراعت ابیاری و مالداری.
۴- معین وزارت معادن و پترولیم.
۵- رئیس اتاق تجارت و صنایع افغانستان.
(۲) کمیتهٔ مندرج فقرهٔ (۱) این ماده نرخ تعرفهٔ گمرکی را تائید و جهت منظوری به وزیر مالیه پیشنهاد می نماید.
(۳) کمیتهٔ تعرفه می تواند، با نظر داشت شرایط اقتصادی تغییرات را در تعرفهٔ گمرکی به وزیر مالیه پیشنهاد نماید.
(۴) وزیر مالیه بملاحظهٔ دلایل ارایه شده تصمیم لازم را در زمینه اتخاذ می نماید .
(۵) وزارت مالیه مکلف است، سال دو مرتبه (در شش ماه اول سال و شش ماه دوم سال) از اجراآت کمیتهٔ تعرفه غرض ارزیابی به

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجراآتو څخه د ارزونې لپاره اقتصادي عالي شوري ته رپوټ وړاندې کړي.

(٦) ګمرکي تعرفه د میثاقونو، بین المللي مقاولاتو او نورو تقنیني سندونو تابع نشي کېدلای، خو دا چې ددې میثاقونو، بین المللي مقاولاتو او نورو تقنیني سندونو ګمرکي حکمونه د تعدیل یا ضمیمې په توګه په ګمرکي تعرفه کې ځای پر ځای شي.

(٧) د ګمرکاتو لوی ریاست مکلف دی، د مالونو د تشریح او کود ایښودنې (کود ګذاري) په هکله د مالونو تعرفوي طبقه بندي د ګمرکاتو د نړیوال سازمان (WCO) د همغږې شوي سیستم سره سم عیار کړي، د ګمرکي تعرفې اړوند محصول له هغه سره متناسب وضع کړي.

(٨) د تعرفې د کمېټې سکرتریت د ګمرکاتو د لوی ریاست په غاړه دی.

شورای عالی اقتصادی گزارش ارایه نماید.

(٦) تعرفهٔ گمرکی تابع میثاقها، مقالات بین المللی و سایر اسناد تقنینی بوده نمی تواند، مگر این که احکام گمرکی ناشی از این میثاق ها، مقالات بین المللی و سایر اسناد تقنینی منحیث تعدیل یا ضمیمه در تعرفهٔ گمرکی گنجانیده شود.

(٧) ریاست عمومی گمرکات مکلف است، طبقه بندی تعرفوی اموال را در مورد تشریح و کود گذاری اموال مطابق سیستم همآهنگ شده سازمان جها نی گمرکات (WCO) عیار نموده، محصول مربوط به تعرفهٔ گمرکی را متناسب به آن وضع نماید.

(٨) سکرتریت کمیتهٔ تعرفه به عهده، ریاست عمومی گمرکات می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مالونو ګمرکي بيه

**اووه ويشتمه ماده:**

د مالونو ګمرکي بيه د نړيوالې سوداګرۍ د سازمان (WTO) د بيې د ټاکنې له پلورسره سم، د ۱۹۹۴ کال د تصويب شوې د تعرفې د عمومي موافقه ليک (ګاټ)، اووه مې مادې حکم، ددې قانون د حکمونو او اړوندې کړنلارې سره سم د ګمرک د مامورينو له لوري ټاکل کېږي.

## د مالونو د ګمرکي بيې د ټاکلو د تګلاره

**اته ويشتمه ماده:**

د ګمرکي دين د اخيستلو په منظور د وارده مالونو ګمرکي بيه، له لاندې تګلارو څخه د يوې سره سم ټاکل کېږي:

د معاملاتي بيې تګلاره.
د يو شان مالونو د بيې تګلاره.
د مشابه مالونو د بيې تګلاره.
د وضعي بيې تګلاره.
د محاسباتي بيې تګلاره.

## قيمت گمرکی اموال

**مادۀ بيست و هفتم:**

قيمت گمرکی اموال مطابق فروش قيمت گذاری سازمان تجارت جهانی (WTO)، حکم مادۀ هفتم موافقتنامۀ عمومی تعرفه (گات) مصوب سال ۱۹۹۴، احکام اين قانون و طرزالعمل مربوط از طرف مامورين گمرک تعيين می گردد.

## روش تعيين قيمت گمرکی اموال

**مادۀ بيست و هشتم:**

قيمت گمرکی اموال وارده به منظور اخذ دين گمرکی، مطابق يکی از روش های ذيل تعيين می گردد:

روش قيمت معاملاتی.
روش قيمت اموال يکسان.
روش قيمت اموال مشابه.
روش قيمت وضعی.
روش قيمت محاسباتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معکوسې بیې تګلاره.

**د معاملاتي بيې تګلاره**

نهه ويشتمه ماده:

(۱) د واردو شوو مالونو د ګمرکي بيې د ټاکلو بنسټ، د هېواد ګمرکي قلمرو ته د هغو د واردېدو پر وخت معاملاتي (د مالونو ورکړل شوې يا د ورکـــړې وړ رېښتينې) بيه ده.

د مالونو معـــاملاتي بيـــه، د وارداتـــي مالونو ورکړل شوې يـــا د ورکـــړې وړ رېښتينې بيـــه ده چـــې د مشـــتري له خوا بايع ته د ټولـــو لګښـــتونو او تأدياتو شامل ده.

(۲) د معاملاتي بيې تګـــلاره لانـــدې مواردو ته په پام سره د تطبيق وړ ده:

۱- له لاندې مواردو څخـــه پرتـــه د مالونو د تصرف يا ګټې اخيستنې پـــه هکله د پېرودونکي لپاره محـــدوديت شتون ونلري:

- په قانون کې درج شوي محدوديتونه.

- د جغرافيايي ساحې محدوديت چې په هغو کې مالونه مجدداً وپلورل شي.

روش قيمت معکوس.

**روش قيمت معاملاتی**

مادۀ بيست ونهم:

(۱) اساس تعيين قيمت گمرکی اموال وارد شده، قيمت معـــاملاتی (قيمـــت واقعی پرداخت شده يا قابل پرداخـــت اموال) حين ورود آن به قلمرو گمرکی کشور می باشد.

قيمت معاملاتی اموال، قيمت واقعـــی پرداخت شده يا قابل پرداخت امـــوال وارداتی است که شامل تمام مصارف و تأديات از طرف مشـــتری بـــه بـــايع می باشد.

(۲) روش قيمت معاملاتی با نظرداشت موارد ذيل قابل تطبيق می باشد:

۱- محـــدوديت بـــرای خريـــدار در مـــورد تصـــرف يـــا اســـتفاده اموال به غير از موارد ذيل، موجـــود نباشد:

- محدوديت های مندرج قانون.

- محدوديت ساحۀ جغرافيايی که در آن اموال مجدداً به فروش برسد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



– هغه محدوديت چې د مالونو گمركي بيه اغيزمنه نه كړي.

۲– د مالونو پلورل يا بيه د شـرطونو تابع نه وي چې د هغو سـره سـم د مالونو ارزښت تعيين كېداى نشي.

۳– له بيا پلورلو څخه د ترلاسه شوو عوايدو هېڅ برخه، د پيرودونكي پـه واسطه په مستقيمه يا نا مستقيمه توگه د مالونو تصرف يا گټـه اخيسـتنه دې پلورونكي ته اړه پيدا نكړي، خو داچې ددې قانون په اووه دېرشمه ماده كې د درج شوي حكم سره سـم مناسـب تعديل صورت موندلى وي.

۴– پيرودونكى او پلورونكى يو له بل سره قرابت ونلري.

## د يو شان مالونو د بيې ټگلاره

**دېرشمه ماده:**

كه چېرې ددې قانون په نه ويشتمه ماده كې له درج شوي حكم سره سـم د مالونو گمركي بيه ټاكل كېداى نشي، د هغو بيه د يو شـان مـالونو د بيـې د تگلارې پر بنسټ چې مخكې افغانستان

– محدوديت كه قيمت گمركی اموال را متأثر نسازد.

۲– فروش يا قيمت اموال تابع شرايطی نباشد كه مطابق آن ارزش اموال تعيين شده نتواند.

۳– هيچ قسمتی از عوايـد حاصـله ازفروش مجدد، تصرف يـا اسـتفادۀ اموال توسط خريدار بطـور مسـتقيم يـا غيـر مسـتقيم بـه فروشـنده تعلـق نگيرد،مگـر اينكـه قـبلاً تعديل مناسب طبق حكم مندرج مـادۀ سی و هفتم اين قانون صورت گرفتـه باشد .

۴– خريدار و فروشنده با هم قرابـت نداشته باشد.

## روش قيمت اموال يكسان

**مادۀ سی ام:**

هرگاه قيمت گمركی اموال طبق حكم مندرج مادۀ بيست ونهم ايـن قـانون تعيين شده نتواند، قيمت آن به اسـاس روش قيمت اموال يكسان كه قـبلاً به مقصد صـدور بـه افغانسـتان در

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د صادرېدو په مقصد په عين زماني مقطع کې وارد شوي، ټاکل کېږي.

د ورته مالونو د بيې ټګلاره

يو دېرشمه ماده:

که چېرې ددې قانون په دېرشمه ماده کې له درج شوي حکم سره سم د مالونو ګمرکي بيه ونشي ټاکل کېدای، د هغو بيه د ورته مالونو پر بنسټ چې مخکې افغانستان ته د صادرېدو په مقصد په عين زماني مقطع کې وارد شوي، ټاکل کېږي.

د وضعي بيې ټګلاره

دوه دېرشمه ماده:

که چېرې ددې قانون په يو دېرشمه ماده کې د درج شوي حکم سره سم د مالونو ګمرکي بيه ونشي ټاکل کېدای، د هغو بيه د وضعي ټګلارې پر بنسټ د مجازو کسراتو له وضع کولو وروسته له کورنيو مارکيټونو څخه تر ټولو لوړه بيه، ، ټاکل کېږي، پدې شرط چې پلور په هغه عين زماني مقطع کې صورت موندلی وي چې د مالونو بيه ټاکل

عين مقطع زمانی وارد شده، تعيين می گردد.

روش قيمت اموال مشابه

مادۀ سی ويکم:

هرگاه قيمت گمرکی اموال طبق حکم مندرج مادۀ سی ام اين قانون تعيين شده نتواند، قيمت آن به اساس اموال مشابه که قبلاً به مقصد صدور به افغانستان در عين مقطع زمانی وارد شده، تعيين می گردد.

روش قيمت وضعی

مادۀ سی ودوم:

هرگاه قيمت گمرکی اموال طبق حکم مادۀ سی و يکم اين قانون تعيين شده نتواند، قيمت آن به اساس روش وضعی بالاترين قيمت از مارکيت های داخلی، بعد از وضع کسرات مجاز تعيين می گردد، مشروط براينکه فروش در عين مقطع زمانی که اموال تعيين قيمت می گردد، صورت گرفته باشد، در غير آن مامورين گمرک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، له دې پرته د ګمرک مامورين کولای شي، د مالونو بيه د هغو مالونو بيې ته په پام سره چې د هغو له واردېدو څخه (۹۰) ورځې تېرېږي، وټاکي.

## د محاسباتي بيې ټګلاره

**دري دېرشمه ماده:**

که چېرې ددې قانون په دوه دېرشمه ماده کې د درج شوي حکم سره سم د مالونو ګمرکي بيه ونشي ټاکل کېدای، د هغو بيه د محاسباتي تګلارې پر بنسټ، لاندې مواردو ته په پام سره ټاکل کېږي:

۱- د واردو شوو مالونو په جوړولو يا پروسس کې د کارول شوو موادو بيه.

۲- د ګټې اندازه، عمومي لګښتونه له هغو لګښتونو سره مساوي چې د صادروونکي هېواد د توليدوونکو په واسطه د هماغه مالونو په پلورلو کې په پام کې نيول کېږي.

۳- ټاکل شوي ځای ته د وارداتي مالونو د لېږد رالېږد لګښتونه.

۴- په ټاکل شوي ځای کې د

می توانند، قیمت اموال را با نظرداشت قیمت اموالیکه (۹۰) روز از وارد شدن آن می گذرد، تعیین نمایند.

## روش قیمت محاسباتی

**مادۀ سی وسوم:**

هرگاه قیمت گمرکی اموال طبق حکم مادۀ سی ودوم این قانون تعیین شده نتوانند، قیمت آن به اساس روش محاسباتی با نظرداشت موارد ذیل تعیین می گردد:

۱- قیمت مواد بکار رفته درساخت یا پروسس اموال وارد شده .

۲- اندازۀ مفاد، مصارف عمومی مساوی به مصارف که در فروش عین اموال توسط تولید کنند گان کشور صادر کننده مد نظرگرفته می شو.

۳- مصارف حمل و نقل اموال وارداتی به محل تعیین شده.

۴- مصارف بارگیری،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بارگیری، لېږد رالېږد او تخليې لګښتونه.

۵- د بيمې لګښتونه.

**د معکوسې بيې تګلاره**

**څلور دېرشمه ماده:**

که چېرې د مالونو ګمرکي بيه ددې قانون په دري دېرشمه ماده کې د درج شوي حکم سره سم ونشي ټاکل کېدای، د هغو بيه د مؤجه دلايلو او په ۱۹۹۴ کال کې تصويب شوې د تعرفې د عمومي موافقه ليک (ګاټ) په اوومه ماده کې د درج شوي حکم او د ګمرک ادارې شته معلوماتو په پام کې نيولو سره او يا د مخکنيو تګلارو څخه د يوې مطابق ټاکل کېږي.

**د مالونو د ګمرکي بيې د ټاکلو شرطونه**

**پنځه دېرشمه ماده:**

د مالونو د ګمرکي بيې د ټاکلو لپاره د ګمرکي مالونو د ارزونې شرطونه او ډول ددې قانون په اته ويشتمې تر څلوردېرشمې مادو کې د درج شوو

حمل و نقل و تخلیه در محل تعیین شده.

۵- مصارف بیمه.

**روش قیمت معکوس**

**مادۀ سی وچهارم:**

هرگاه قیمت گمرکی اموال طبق حکم مادۀ سی وسوم این قانون تعیین شده نتوانند، قیمت آن با نظرداشت دلایل مؤجه و حکم مندرج مادۀ هفتم موافقتنامۀ عمومی تعرفه (گات) مصوب سال ۱۹۹۴ و معلومات دست داشتۀ ادارۀ گمرک و یا مطابق یکی از روش های قبلی تعیین می گردد.

**شرایط تعیین قیمت گمرکی اموال**

**مادۀ سی وپنجم:**

شرایط و طرز ارزیابی اموال گمرکی جهت تعیین قیمت گمرکی اموال، با نظرداشت روش های مندرج مواد بیست وهشتم الی سی وچهارم این

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګلارو په پام کې نیولو سره په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

**د وابسته اشخاصو تر منځ پېر او پلور**

**شپږ دېرشمه ماده:**

(۱) که چېرې د مالونو د بیې د ټاکلو په هکله د پېرودونکي او پلورونکي تر منځ وابستګي شتون ولري، د پېر، پلور او معاملاتي بیې شرایط د ګمرک د ادارې له خوا تر بررسۍ لاندې راځي.

(۲) که چېرې د ګمرک اداره ثابته کړي چې د پېرودونکي او پلورونکي تر منځ وابستګۍ د مالونو پر ګمرکي بیې اغیزه وارده کړې ده، موضوع په لیکلي ډول د مالونو د واردوونکي خبرتیا ته رسوي او د ځواب د وړاندې کولو لپاره هغه ته مناسب فرصت ورکوي.

(۳) که چېرې واردوونکی ثابته کړي چې د پېرودونکي او پلورونکي وابستګي په عین زماني مقطع کې ده، پدې صورت کې د مالونو ګمرکي بیه له معاملاتي تګلارې څخه په ګټه

قانون در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

**خرید و فروش میان اشخاص وابسته**

**مادۀ سی وششم:**

(۱) هرگاه در مورد تعیین قیمت گمرکی اموال میان خریدار و فروشنده وابستگی موجود باشد، شرایط خرید، فروش و قیمت معاملاتی از طرف ادارۀ گمرک مورد بررسی قرار می گیرد.

(۲) هرگاه ادارۀ گمرک ثابت نماید که وابستگی بین خریدار و فروشنده بالای قیمت گمرکی اموال تأثیر وارد نموده، موضوع را طور کتبی به وارد کنندۀاموال اطلاع داده و فرصت مناسب راجهت ارایۀ پاسخ به وی می دهد.

(۳) هرگاه واردکننده ثابت نماید که وابستگی فروشنده و خریدار در عین مقطع زمانی بوده، در این صورت قیمت گمرکی اموال با استفاده از روش معاملاتی تعیین

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيستنې ټاکل کېږي.

**د ورکړل شوې يا د ورکړې وړ پر ريښتينې بيې زياتوالی**

**اووه دېرشمه ماده:**

ددې قانون د نه ويشتمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مالونو د گمرکي بيې په ټاکلو کې لاندې موارد د واردو شوو مالونو د ورکـــړل شـــوې يـــا د ورکړې وړ په ريښتينې بيـــې بانـــدې سنجش او زياتېږي:

۱- لاندې لگښتونه تر هغه حده چې د پېرودونکي په واسطه تخمين شوي وي، پدې شرط چې مخکې د ورکړل شوې يا د ورکړې وړ په ريښتينې بيې کـــې شامل نه وي:

- د کميشنکارۍ اجرت او حق العمل، د پېرودلو د کميشن په استثنې.

- د کانتينر يا بارجامې بيه چې د مال جزء حساب شوي وي.

- د بسته بندۍ، کارگر يـــا مـــوادو لگښتونه.

۲- لاندې بيې د وارداتي مالونو د توليد

می گردد.

**افزود بر قيمت واقعی پرداخـــت شده يا قابل پرداخت**

**مادۀ سی وهفتم:**

در تعيين قيمت گمرکی اموال مندرج فقرۀ (۱) مادۀ بيســـت و نهـــم ايـــن قانون موارد ذيل بر قيمـــت واقعـــی پرداخت شده يا قابل پرداخت امـــوال واردشـــــده ســـــنجش وافـــــزود می گردد:

۱- مصـــارف ذيـــل، تـــا حديکـــه توسط خريدار تخمين شـــده باشـــد، مشروط براين که قبلاً در قيمت واقعی پرداخت شده يا قابل پرداخت شـــامل نباشد:

- اجرت کميشنکاری وحق العمل، به استثنای کميشن خريد.

- قيمت کانتينر يا بارجامه که جزء مال حساب شده است .

- مصارف بسته بندی، کـــارگر يـــا مواد.

۲- قيمت های ذيل به طور مستقيم يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پلورلو لپاره په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د پلورونکي په واسطه په وړیا ډول یا په لږ بیه ، پدې شرط چې مخکې په ریښتیني بیه کې شامل نه وي:

– د موادو ترکیبات، هغه مشابه اجزاء او شیان چې د واردو شوو مالونو په تولید کې کارول شوي دي.

– اسباب، لوازم، نور وسایل او جنسونه چې له هغوی څخه د واردو شوو مالونو په تولید ګټه اخیستل کیږي.

– د وارداتي مالونو په تولید کې لګول شوي مواد.

– د انجنیری، دیزاین، طرحې، د اسکیج پلان لګښتونه چې د واردوونکي هېواد څخه پرته په بل ځای کې اجراء شوي او واردو شوو مالونو د تولید لپاره اړین وي.

۳– د هغو مالونو اړوند حق الامتیاز، د جواز لیک بیه چې بیه یې ټاکل شوې، پدې شرط چې مخکې په ریښتیني بیې کې شامل شوي نه وي.

۴– د بیا پلورلو له عوایدو څخه د هرې برخې بیه، د هغو واردو شوو مالونو په

غیر مستقیم توسط فروشنده بطور مجانی یا قیمت کمتر برای تولید و فروش اموال وارداتی، مشروط براین که قبلاً در قیمت واقعی شامل نباشد:

– ترکیبات مواد، اجزاء و اشیای مشابه که در تولید اموال واردشده بکار رفته است.

– اسباب، لوازم و سایر وسایل و اجناس که در تولید اموال واردشده از آن استفاده شده باشد.

– موادمصرف شده در تولید اموال وارداتی.

– مصارف انجنیری، دیزاین، طرح، پلان اسکیج،که در جای دیگر به غیر از کشور واردکننده اجراء شده و برای تولید اموال واردشده ضروری باشد.

۳– حق الامتیاز، قیمت جوازنامۀ مربوط به اموال که تعیین قیمت شده، مشروط براین که قبلاً در قیمت واقعی شامل نگردیده باشد.

۴– قیمت هر قسمت ازعواید فروش دوباره، در اختیار گذاشتن یا استفاده از

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک کې ورکول یا ګټه اخیستنه چې پلورونکي ته اړه پیدا کوي.

۵- د بارګیری، لېږد رالېږد، بیمې، تخلیې لګښتونه، او ټاکل شوي ځای ته د مالونو په لېږد پورې اړوند نور لګښتونه.

**د مالونو په ګمرکي بیه کې د لګښتونو نه شمولیت**

**اته دېرشمه ماده:**

لاندې لګښتونه د مالونو په ګمرکي بیه کې نه شاملېږي، پدې شرط چې په جلا ډول د ورکړل شوې یا د ورکړې وړ په ریښتینې بیه کې وړاندې شوي وي:

۱- په افغانستان کې ټاکل شوي ځای ته له رسېدو وروسته د مالونو لېږد رالېږد.

۲- جوړول، نصب، مونتاژ، ساتل یا تخنیکي همکاري چې د واردو شوو مالونو له تورید وروسته صورت موندلی دی، لکه صنعتي تأسیسات، ماشین آلات یا تجهیزات.

۳- هغه لګښتونه یا منفعت چې د

اموال واردشده که به فروشنده تعلق می گیرد.

۵- مصارف، بارگیری، حمل ونقل، بیمه، تخلیه و سایر هزینه های مرتبط به انتقال اموال به محل تعیین شده.

**عدم شمولیت مصارف در قیمت گمرکی اموال**

**مادهٔ سی وهشتم:**

مصارف ذیل شامل قیمت گمرکی اموال نمی گردد، مشروط براینکه طور جداگانه در قیمت واقعی پرداخت شده یا قابل پرداخت ارایه گردیده باشد:

۱- حمل ونقل اموال بعد از مواصلت در محل تعیین شده در افغانستان.

۲- ساخت، نصب، مونتاژ، نگهداری یا همکاری تخنیکی که بعد از تورید اموال واردشده صورت گرفته است مانند تأسیسات صنعتی، ماشین آلات یا تجهیزات.

۳- مصارف یا منفعت که تحت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېرودونکي په واسطه د واردو شوو مالي ترتیباتو لاندې او د وارداتي مالونو د پېرلو اړوند وي، پرته له دې چې مالي وجوه د پلورونکي یا بل شخص په واسطه برابر شوي وي، پدې شرط چې مالي ترتیبات مخکې په لیکلي ډول صورت موندلی وي او پېرودونکی وکولای شي هغه په لاندې ډول ثابت کړي:

– د ۱ ډول مالونه په اظهار شوې رېښتینې بیې پلورل شوي دي، لکه ورکړل شوې یا د ورکړې وړ رېښتینې بیه.

– افغانستان ته د واردو شوو مالونو د بیا تولید لګښتونه.

– د پېرودلو کمېشن.

– د مالونو د توريد یا پلورلو په منظور وارداتي محصول یا په افغانستان کې د ورکړې وړ نور لګښتونه.

## د ګمرکي مالونو د بیې محاسبه

**نه دېرشمه ماده:**

(۱) د تقنیني سندونو مطابق د مالونو بیه

ترتیبات مالی وارد شده توسط خریدار ومرتبط به خریداری اموال وارداتی باشد، صرف نظر از اینکه وجوه مالی توسط فروشنده یا شخص دیگر تهیه شده باشد، مشروط براینکه ترتیبات مالی قبلاً بشکل کتبی صورت گرفته وخریدار بتواندآنرا ذیلاً ثابت نماید:

–چنین اموال به قیمت واقعی اظهار شده بفروش رسیده است، مانند قیمت واقعی پرداخت شده یا قابل پرداخت.

– مصارف تولید مجدد اموال وارد شده به افغانستان.

– کمیشن خریداری.

– محصول وارداتی یا سایر مصارف قابل پرداخت در افغانستان،به منظورتورید یا فروش اموال.

## محاسبهٔ قیمت اموال گمرکی

**مادهٔ سی ونهم:**

(۱) قیمت اموال مطابق اسناد تقنینی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانۍ په رايجو پيسو محاسبه کېږي.

(۲) که چېرې د مالونو بيه په بهرنيو اسعارو تثبيت شوې وي، د گمرکي بيې ټاکل د د افغانستان بانک د تبادلې د نرخ مطابق چې د اظهار ليک د ثبتولو په وخت کې د اجراء وړ دي، محاسبه کېږي.

(۳) د تبادلې نرخ د د افغانستان بانک په واسطه د هرې مياشتې د کاري ورځې په پای کې اعلانېږي او د هرې مياشتې د شپږمې ورځې له پيل څخه د بلې مياشتې تر شپږمې ورځې پورې د اعتبار وړ دي.

(۴) که چېرې د د افغانستان بانک د اعلان شوي تبادلې نرخ ددې مادې په (۲) فقره کې د درج له محاسبه شوي نرخ څخه پنځه سلنه يا زيات توپير ولري، نوی نرخ ټاکل کېږي او گمرکاتو ته د اعلان او ابلاغ څخه وروسته د دوه يمې کاري ورځې څخه، په هماغه متباقي موده کې د تطبيق وړ نرخ په توگه تر گټې اخيستنې لاندې راځي.

به پول رايج افغانی محاسبه می گردد.

(۲) هرگاه قيمت اموال به اسعار خارجی تثبيت شده باشد، تعيين قيمت گمرکی، مطابق نرخ تبادله د افغانستان بانک که در زمان ثبت نمودن اظهارنامه قابل اجراء بوده، محاسبه می گردد.

(۳) نرخ تبادله توسط دافغانستان بانک در آخر روز کاری هر ماه اعلان می گردد و از آغاز روز ششم هر ماه الی روز ششم ماه بعدی مدار اعتبار می باشد.

(۴) هرگاه نرخ تبادله اعلان شدهٔ دافغانستان بانک، پنج فيصد يا بيشتر از نرخ محاسبه شده مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده تفاوت داشته باشد، نرخ جديد تعيين و از روز دوم کاری بعد از اعلان و ابلاغ آن به گمرکات، به حيث نرخ قابل تطبيق در متباقی همان ميعاد مورد استفاده قرار می گيرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له ګمرکي محصول څخه معافیت

**څلوېښتمه ماده:**

لاندې وارداتي مالونــه لــه ګمرکــي محصـــــول څخـــــه معـــــاف دي:

۱- د ګمرکي تعرفې د مندرجاتو سره سم د رسمي سفرونو په وخت کــې د دولت د کارکوونکو په واســطه وارد شوي مالونه، پدې شرط چې د هغو بیه له سل زره افغانیو څخه تېرى (تجاوز) ونکړي.

۲- د واکمنو مقاماتو له تأیید وروسته د سیاسي نماینــدګیو، بــین المللــي او قونسلي سازمانونو د دفترونو وسایل او په افغانستان کې مېشــت د بهرنیــو هېوادونو د نمایندګانو د کور لوښــي (لوازم).

۳- د قرارداد د شرایطو سره ســم د هغو بهرنیو اتباعو شخصي لوازم چې په افغانستان کې دنده ترسره کوي.

۴- د اړوندو ادارو له تصدیق وروسته تعلیمي، تحصیلي، او د دولتي علمــي څېړنو مؤسساتو ته مجــاز کتابونــه،

## معافیت از محصول گمرکی

**مادهٔ چهلم:**

اموال وارداتــی ذیــل از پرداخــت محصول گمرکی معاف می باشد:

۱- امـــوال وارد شـــده توســـط کارکنان دولت حــین ســفر هــای رســـمی طبــق منــدرجات تعرفــهٔ گمرکی، مشروط بر اینکــه قیمــت آن از یکصد هــزار افغــانی تجــاوز ننماید.

۲- وسایل دفــاتر نماینــدگی هــای سیاسی، ســازمانهای بــین المللــی و قونسلی ولوازم خانــهٔ نماینــدگان ممالک خـــارجی مقــیم افغانســتان، بعـــــد از تائیـــــد مقامــــــات ذیصلاح.

۳- لوازم شخصی اتباع خارجی که در افغانستان ایفای وظیفه مــی نماینــد، مطابق شرایط قرارداد.

۴- کتب، جراید، مجلات و اخبــار مجاز برای مؤسسات تعلیمی، تحصیلی و تحقیقات علمی دولتی بعد از تصدیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرايد، مجلې او اخبار.

۵- د اړوندو ادارو يا مؤسسو له تصديق وروسته هغه مالونه چې د دولتي پروژو د تمويل لپاره د قرضونو او مساعدتي مالونو د ورکړې له لارې چې د دولتي يا نادولتي خيريه او پرمختيايي کورنيو او بين المللي ادارو يا مؤسسو په واسطه يا د هغوی لپاره هېواد ته واردېږي.

٦- د هغو افغان کارکوونکو شخصي مالونه چې په بهر کې مېشت په سياسي نمايندګيو او بين المللي او قونسلي سازمانونو کې دنده ترسره کوي او د هغوی د کورنۍ د غړو چې په بهر کې تر ګټې اخيستنې لاندې راغلي وي.

۷- د ګمرکي تعرفې د مندرجاتو سره سم د مسافرينو شخصي محموله او مالونه.

۸- سوداګريزې نمونې( سمپل) او اشتهاري تحفې.

۹- د پست پارسل چې د هغو بيه له لسو زرو (۱۰۰۰۰) افغانيو څخه زياته نه وي په کال کې د دوه ځله لپاره.

ادارات ذيربط.

۵- اموالی که جهت تمويل پروژه های دولتی ازطريق اعطای قروض و اموال مساعدتی که توسط ادارات يا مؤسسات دولتی ياغيردولتی خيريه و انکشافی داخلی، خارجی و بين المللی يا برای آنها به کشور وارد می گردد، بعد از تصديق ادارات يا مؤسسات ذيربط.

٦- اموال شخصی کارکنان افغان که در نمايندگی های سياسی و سازمانهای بين المللی وقونسلی مقيم خارج ايفای وظيفه می نمايند و اعضای فاميل آنها که در خارج مورد استفاده قرار گرفته باشد.

۷- محمولهٔ شخصی و اموال مسافرين مطابق مندرجات تعرفهٔ گمرکی.

۸- نمونه (سمپل) های تجارتی و تحايف اشتهاری.

۹- پست پارسل که قيمت آن بيش از ده هزار( ۱۰۰۰۰) افغانی نباشد برای دوبار درسال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰- وياړيز مډالونه يا جايزې.

۱۱- نمونې (سمپل) چې د صنعتي او يا سوداګريزو طبع او نشـر ( Copy right) يـا د اختـراع د حـق (Patent) ساتونکو مؤسسو ته لېږل کېږي.

۱۲- د اړوند لايحې سره سم، د بيـا راستنېدونکو کارول شـوي منقـول مالونه.

۱۳- هغه محمولـه چـې مجمـوعي ارزښت يې لـه پنځـو زرو (۵۰۰۰) افغانيو څخه زيات نه وي.

۱۴- د اړونـدو ادارو لـه تصـديق وروسته د نسل اخيستلو لپاره خـالص نسل لرونکي حيوانات او حشـرات، لابراتواري حيوانات، د علمي څېړنو د اړتيا وړ بيولوژيکي او کيمياوي مواد.

۱۵- د اړونـدو ادارو لـه تصـديق وروسته هغه مواد چې له هغو څخـه د درملنې لپاره ګټه اخيستل کېږي او هغه معرف مواد چې د وينې د ګروپ او د نسجونو د ډول د ټاکلو پـه منظـور کارول کېږي.

۱۰- مدال يا جوايز افتخاری .

۱۱- نمونه (سمپل) ها ی کـه بـه مؤسسات حافظ حق طبـع و نشـر (Copy right) يا حق الاختـراع (Patent) صـنعتی و يـا تجـارتی فرستاده می شود.

۱۲- امـوال منقـول مسـتعمل عودت کنند گـان، مطـابق لايحـهٔ مربوط.

۱۳- محمولهٔ که ارزش مجموعی آن از پـنج هـزار (۵۰۰۰ )افغـانی بيشترنباشد .

۱۴- حيوانات و حشرات دارای نسل خالص غرض نسل گيری، حيوانـات لابراتواری، مواد بيولوژيکی وکيمياوی موردضرورت تحقيقات علمی، بعد از تصديق ادارات ذيربط.

۱۵- موادی کـه غـرض تـداوی از آن اسـتفاده ميگـردد و مـواد معرف که به منظور تعيين گروپ خون و تعيين نوع انساج به کار ميـرود، بعـد از تصـديق ادارات ذيربط.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶- د اړونـــدو ادارو لــه تصـــديق وروسته هغه مواد چې د دوايي توليداتو د کيفيت د کنترول لپاره تــر ګټـــې اخيستنې لاندې راځي.

۱۷- د اړوندې کړنلارې سره سم، د مالونو د نقيله وسايطو اړوند د سوخت مواد، روغنيات او وسايل چې د هغو د عادي فعاليتونو لپاره اړين وي.

۱۸- د ماليې د وزارت په وړانديز او د حکومت په منظورۍ د اړتيا په وخـــت کې نور مالونه.

## د ترجيحي تعرفې غوښتنليک

### يو څلوېښتمه ماده:

(۱) اظهار کوونکی کولای شـــي، د ګمرکي پړاوونو له بشـــپړېدو څخـــه مخکې يا وروسته، د ترجيحي تعرفې د لاسته راوړلو په غرض د ګمرکاتو لوی رياست ته غوښتنليک وړاندې کـــړي.

(۲) که چېرې ترجيحي تعرفه د وارداتي مالونود ټاکلي حجم حد ته محـــدوده وي، په لاندې حالتونه کې خپل اعتبار له لاسه ورکوي:

۱۶- موادی که جهت کنترول کيفيت توليدات دوايی مورد اســـتفاده قـــرار می گيرد، بعـــد از تصـــديق ادارات ذيربط.

۱۷- مواد سوخت، روغنيات و وسايل مربوط وسايط نقليۀ اموال که بـــرای فعاليت های عادی آن ضروری باشد، طبق طرزالعمل مربوط.

۱۸- ساير اموال عندالضرورت، بـــه پيشـــنهاد وزارت ماليـــه و منظـــوری حکومت.

## درخواست تعرفۀ ترجيحی

### مادۀ چهل ويکم:

(۱) اظهارکننده می تواند، قبل يا بعد از اکمال مراحل گمرکی، درخواست را غـــرض دريافـــت تعرفـــۀ ترجيحـــی به رياست عمومی گمرکـــات ارايـــه نمايد.

(۲) هرگاه تعرفۀ ترجيحی به حد معين ازحجم اموال وارداتی محدود باشـــد، در حالات ذيل اعتبار خود را از دست می دهد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- تعرفوي مجاز کمیت، پــه هغــه صورت کې چې د توریدي مالونو حجم له ټاکلي حد څخه زیات وي.

۲- تعرفوي اعظمــي حــد، د هغــو مشخصو حکمونو سره سم چــې پــه اړوندې کړنلارې کې اټکل شوي دي.

(۳) د ترجیحي تعرفې د ورکــړې، د کمیتې محدودیتونو او د وارداتي مالونو په بیې پورې اړوند محدودیتونو یــا د ماهیت په منشاء پورې د اړوندو ګټو او د مالونو څخه د ګټې اخیستنې شرطونه او ډول په جلا کړنلاره کــې ټاکــل کیږي.

## پنځم فصل

## د مالونو منشاء

**په یوه هیوادکې محصــولات او د مالونو تولیدات**

دوه څلویښتمه ماده:

(۱) هغه مالونه چې په یوه هیواد کې په بشپړه توګه استحصال یا تولید شــوي وي، هغه هیواد د مــالونو د تولیــد د منشاء په توګه پیژندل کیږي او لاندې

۱- کمیت مجاز تعرفوی، در صورتی که حجم اموال توریدی از حد معینــه بیشتر باشد.

۲- حد اعظمی تعرفوی، مطابق احکام مشخص که در طرزالعمــل مربــوط پیشبینی گردیده است.

(۳) شرایط و طــرز اعطــای تعرفـۀ ترجیحی، محدودیت های کمیتــی و محدودیت های متعلق به قیمت اموال وارداتی یا منفعت های مربــوط بــه منشاء ماهیت و اســتفاده از امــوال، در طرزالعمـــل جداگانـــه تعیـــین می گردد.

## فصل پنجم

## منشاء اموال

**محصولات وتولید ات امــوال در یک کشور**

مادۀ چهل ودوم:

(۱) اموالیکه در یک کشور به صورت کامل استحصال یا تولید گردیده باشد، آن کشور به حیث منشاء تولید اموال شــناخته شــده و شــامل امــوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالونه او محصولات شاملوي:

۱- معدني محصولات چې په هماغه هېواد کې استخرا جېږي.

۲- نباتي محصولات چې د هغو حاصل په هماغه هېواد کې اخيستل کېږي.

۳- ژوندي حيوانات چې پـه هماغـه هېواد کې زېږيږي او پالل کېږي.

۴- له حيواناتو څخه ترلاسه شوي محصولات چې په هماغه هېواد کې پالل کېږي.

۵- له ښکار او کب نيولو څخه ترلاسه شوي توليدات چې په هماغه هېواد کې صورت مومي.

۶- د کب نيونې محصولات او نـور بحري توليدات چې د هغو د اوبو لـه قلمرو څخه بهر د هغو بېړيو په واسطه لاسته راځي چې د هماغه هېواد بيـرغ لېږدوي او په هماغه ځای کـې ثبـت شوي وي.

۷- هغه توليدات چې ددې مادې پـه (٦) جزء کې د درج شوو محصولاتو څخه د هغو بېړيو په دننه فابريکو کـې چې د هماغه هېواد د بيرغ لېږدوونکي

ومحصولات ذيل می باشد:

۱- محصولات معدنی که در همـان کشور استخراج می گردد.

۲- محصولات نباتی که حاصل آن در همان کشور برداشته می شود.

۳- حيوانات زنده که در همان کشور متولد و پرورش می يابند.

۴- محصولات حاصله از حيوانـات کـه در همـان کشـور پـرورش می يابند.

۵- توليـدات حاصـله از شـکار و ماهيگيری که در همان کشور صورت می گيرد.

٦- محصـولات مـاهيگيری و ساير توليدات بحری کـه خـارج از قلمرو آبی آن توسط کشتی هـای بدست ميآيد که بيرق همان کشور را حمل نموده و در همانجا ثبت گرديده باشد.

۷- توليـداتی کـه از محصـولات منـدرج جـزء (٦)ايـن مـاده در فابريکات داخل کشـتی هـايی کـه حامل بيرق همان کشور بـوده و در

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او په هغه ځای کې ثبت شوي وي، استحصال يا توليد شي.

۸- هغه توليدات چې د سيند له تل يا د سيند د تل له لاندې ځمکې څخه د هماغه هېواد د اوبو د قلمرو له بهر څخه استحصال شي، پدې شرط چې ياد هېواد د سيند له تل يا له ځمکې لاندې د استخراج اختصاصي حقوق ولري.

۹- هغه فاضله او قراضه مواد چې د صنعتي فعاليتونو او د ګټې اخيستنې نه وړ موادو او کارول شوو موادو څخه منشاء اخلي، پدې شرط چې نوموړي مواد په هماغه هېواد کې راټول شوي او يواځې د خامو موادو د بيا پيدا کېدو لپاره مناسب وي.

(۲) هغه محصولات چې ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو مالونو څخه په بشپړه ډول استحصال يا توليد شوي وي يا د هغو مشتقات چې د توليد په هر پړاو کې شتون ولري.

آنجا ثبت شده باشد، استحصال يا توليد گردد.

۸- توليداتی که از بستر دريا يا تحت الارض بستر دريا خارج از قلمرو آبی همان کشور استحصال گردد، مشروط براينکه کشور متذکره حقوق اختصاصی استخراج از بستر دريا و يا تحت الارض را داشته باشد.

۹- مواد فاضله و قراضه ايکه از فعاليت های صنعتی و مواد غير قابل استفاده و مواد استفاده شده منشاء می گيرد، مشروط بر اينکه مواد متذکره در همان کشور جمع آوری گرديده و صرف برای بازيابی مواد خام مناسب باشد.

(۲) محصولاتی که کاملاً از اموال مندرج فقرهٔ(۱) اين ماده استحصال يا توليد گرديده يا مشتقات آن که در هر مرحلهٔ توليد قرار داشته باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له یوه ځخه په زیاتو هېوادونو کې د مالونو تولید

**دري ځلوېښتمه ماده:**

هغه مالونه چې د هغو په تولید کې له یوه ځخه زیات هېوادونه برخه ولري، د هغو منشأ هغه هېواد دی د مالونو د اساسي پروسس وروستنی پړاو په هغه ځای کې صورت موندلی وي.

## د منشاء تصدیق

**ځلورځلوېښتمه ماده:**

(۱) د مالونو د منشاء د تثبیتوونکو سندونو تصدیق د مالونو د تولید د منشاء هېواد د مسئولو مراجعو له خوا صادرېدای شي.

(۲) که چېرې د مالونو د منشاء سندونو په هکله د ګمرک مامورینو ته شک رامنځته شي، کولای شي له ګمرکي تقنیني سندونو سره د مالونو د منشاء سند د مطابقت په منظور، اضافي سندونه مطالبه کړي.

(۳) په لاندې مواردو کې د مالونو د منشاء د سند د تثبیت ډول او د مالونو

## تولید اموال در بیشتر از یک کشور

**مادۀ چهل وسوم:**

اموالیکه در تولید آن اضافه از یک کشور سهیم باشد، منشاء آن کشوری است که آخرین مرحلۀ پروسس اساسی اموال در آنجا صورت گرفته باشد.

## تصدیق منشاء

**مادۀ چهل وچهارم:**

(۱) تصدیق اسناد تثبیت کنندۀ منشاء اموال از طرف مراجع مسئول کشورمنشاء تولید اموال، صادر شده می تواند.

(۲) هرگاه در مورد اسناد منشاء اموال نزد مامورین گمرک شک ایجاد گردد، می توانند اسناد اضافی را به منظور اطمینان از مطابقت سند منشاء اموال با اسناد تقنینی گمرکی مطالبه نمایند.

(۳) طرز تثبیت سند منشاء اموال و شرایط شناخت یک کشور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منشاء په توګه د یوه ټاکلي هېواد د پېژندلو شرطونه د جلا کړنلارې سره سم تنظیمېږي:

۱- ددې قانون د شپږ ویشتمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو حکمونو په استثناء د ګمرکي تعرفې تطبیق.

۲- د ټاکلو مالونو د سوداګرۍ د محدودولو لپاره د تدابیرو نیول.

له آسانتیاوو څخه ګټه اخیستنه

پنځه څلوېښتمه ماده:

په بین المللي موافقه لیکونو کې له درج شوو ترجیحي آسانتیاوو څخه د ګټې اخیستنې لپاره د مالونو د منشاء د ټاکلو ترجیحې شرایط او د ترجیحي تصدیق لیکونو د صادرولو ډول په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

دمالونوبېرته راګرځېدل

شپږڅلوېښتمه ماده:

(۱) هغه افغاني اوغیرافغاني مالونه چې په هېوادکې آزاد دوران ته ترخیص شوي اود هغو له دوباره صادرېدو وروسته دهېواد ګمرکي قلمروته

معین، بحیث منشاء اموال در موارد ذیل مطابق طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد:

۱- تطبیق تعرفهٔ گمرکی به استثنای احکام مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ بیست و ششم این قانون.

۲- اتخاذ تدابیر مبنی بر محدود ساختن تجارت اموال معین.

استفاده از تسهیلات

مادهٔ چهل وپنجم:

شرایط ترجیحی تعیین منشاء اموال جهت استفاده از تسهیلات ترجیحی مندرج موافقتنامه های بین المللی و طرز صدور تصدیق نامه های ترجیحی در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

بازگشت اموال

مادهٔ چهل وششم:

(۱)اموال افغانی یا غیر افغانی که در کشور به دوران آزاد ترخیص گردیده و بعد از صدور دوبارهٔ آن به قلمرو گمرکی کشور وارد

(c) ketabton.com: The Digital Library



واردېږي دبېرته راګرځېدلو مالونوپه نامه یادېږي.
که چېرې دغه مالونه له افغانستان څخه دباندې پروسس شوي وي، دبهرنـــي پروسس د شرایطوتابع دي.
(۲) پرهغو افغاني مالونوچې دهېواد له ګمرکي قلمروڅخــه صادرشــوي دي اوتردریو کلونومودې پــورې بېرتــه ګمرکي قلمروته راوګرځي اوآزاددوارن ته ترخیص شي، دوارداتــي محصــول معافیت دغوښــتونکي دغوښــتنلیک پراساس ورکول کېږي.
دګمرکونولوی ریاست کــولای شــي دحالاتوپه پام کې نیولوسره، دغه موده تمدیدکړي.
(۳) که چېرې بېرته راګرځېدلي مالونه دهېوادله ګمرکــي قلمروڅخــه لــه صادرېدو د مخه د ترجیحــي تعرفــې پراساس آزاددوران ته ترخیص شــوي وي، ددې مادې په (۲) فقره کې ددرج شوي معافیت تابع ګڼل کېــږي پــدې شرط چې بیاتوریدیې دعین مقصدلپاره صورت موندلی وي.

می شود، بنام اموال بازگشت شده یاد می گردد.
هرگاه این اموال درخارج از افغانستان پروسس شده باشــد، تــابع شــرایط پروسس خارجی می باشد.
(۲) معافیت محصول وارداتی بر اموال افغانی که از قلمروگمرکــی کشــور صادر گردیده و الی مدت سه ســال دوباره به قلمروگمرکی بازگشت نموده و به دوران آزاد ترخیص گردد، بنابر درخواست تقاضــا کننــده اعطــاء می گردد.
ریاست عمومی گمرکات می تواند بــا نظرداشت حالات، این میعاد را تمدید نماید.
(۳) هرگاه اموال بازگشت شده قبل از صدور آن از قلمرو گمرکی کشور، به اساس تعرفـهٔ ترجیحــی بــه دوران آزاد ترخیص گردیــده باشــد، تــابع معافیت مندرج فقرهٔ (۲) ایــن مــاده پنداشته می شود، مشروط بر اینکــه تورید مجدد آن به عین مقصد صورت گرفته باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) که چېرې وارداتي محصـــول آزاد دوران ته دمالونو د لومړني ترخيص په وخت کې ورکړل شوی وي، دبېرتـــه راګرځېدوپه وخت کې د محصول تابع نه دي اود بيې د زياتوالي په صـــورت کې، يوازې دزياتوالي محصول اخيستل کېږي.

## شپږم فصل

## ګمرک ته دمالونواحضار اولېږد

### دمالونوننوتل اووتل

**اووه څلوېښتمه ماده:**

(۱) د مالونو د ننوتلواو وتلو وخـــت، هغه وخت دی چې مالونه له ګمرکـــي قلمرو څخه د ننوتلواووتلو په منظـــور دهېوادله سرحدونوڅخه تېرشي.

(۲) هغه سوداګريزه نقليه واسطه چې د هېواد ګمرکي قلمروته داخله ياورڅخه ووځي، چلوونکی مکلف دی په اړونده واسطه کې دشته مالونو بارليـــک لـــه لاندې وخت مـــودې څخـــه دمخـــه دګمرک مامورينوته تسليم کړي:

(۴) هرگـــاه محصـــول وارداتـــی در زمان ترخيص اولی اموال بـــه دوران آزاد تأديه شـــده باشـــد، حـــين بـــاز گشـــت تـــابع محصـــول نبـــوده و در صـــورت افـــزايش قيمـــت، صـــرف محصـــول افـــزايش اخـــذ می گردد.

## فصل ششم

## احضار و انتقال اموال به گمرک

### دخول و خروج اموال

**مادۀ چهل وهفتم:**

(۱) زمان دخول و خروج اموال، زمانی است که اموال به منظور دخـــول يـــا خروج از قلمرو گمرکی، از سرحدات کشور عبور نمايد.

(۲) واسطۀ نقليه تجارتی که به قلمرو گمرکی کشور داخل يا از آن خـــارج می گردد، رانندۀ آن مکلـــف اســـت بارنامۀ اموال موجود در واسطۀ مربوط را قبل از مدت زمان ذيل به مـــامورين گمرک تسليم نمايد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د مالونودحاملې الوتکې یاکښتۍ کپیتان، هغه وخت چې مالونه له هغوځخه خالي کېدای شي.

۲- نورنقلیه وسایط،کله چې دافغانستان ګمرکي قلمروته داخلېږي.

(۳) د مالونو په بارلیک کې د مسافرینو د هغو مالونو د جزئیاتو درجول چې ددې قانون داته پنځوسمې مادې له حکم سره سم د خپلو اړوندو مالونو په اظهار (ښکاره کولو) مکلف وي اړین نه ګڼل کېږي.

(۴) د مالونو بارلیک دنقلیې واسطې دتابعیت، بیرق او عملې او دمالونودمحمولې دپېژندلو لپاره د نورو لازمو معلوماتو لرونکی وي چې ډول یې له جلاکړنلارې سره سم تنظیمېږي.

(۵) هغه مالونه چې دهېواد د ګمرک قلمروته ننوزي، په مجرد د ننوتلو دګمرک دمامورینودګمرکي بازرسۍ او څارنې تابع دي اودګمرک دمامورینو له اجازې پرته له اصلي ځای ځخه بېځایه

۱- کپیتان طیاره یا کشتی حامل اموال، زمانی که اموال از آنها تخلیه شده بتواند.

۲- سایر وسایط نقلیه، زمانی که به قلمروگمرکی افغانستان داخل می گردد.

(۳) درج جزئیات اموال مسافرین که مطابق حکم مادۀ پنجاه و هشتم این قانون مکلف به اظهار اموال مربوط شان باشند، در بارنامۀ اموال ضروری پنداشته نمی شود.

(۴) بارنامۀ اموال حاوی معلومات در مورد تابعیت، بیرق و عملۀ واسطه نقلیه و سایر معلومات لازم غرض شناسایی محمولۀ اموال می باشدکه نحوۀ آن طبق طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

(۵) اموالی که به قلمرو گمرکی کشور داخل میگردد، به مجرد دخول، تابع نظارت و بازرسی گمرکی مامورین گمرک بوده و از محل اصلی بدون اجازۀ مامورین گمرک بیجا شده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای نشي.

(٦) مالونه د گمرکي ورووستني موقف تر ټاکنې او تطبيق پورې د گمرکي څارنې او څېړنې لاندې پاتې کېږي.

**د مالونو د احضار او لېږد دځای ټاکل**

**اته څلوېښتمه ماده:**

دگمرکونو لوی رياست کولای شي، گمرک ته دمالونوداحضار او لېږد لپاره يوځای وټاکي.له سرحدي گمرک څخه ټاکل شوي ځای ته دواردو شوو مالونو دبشپړ لېږد ډول او موده په جلاکړنلاره کې تنظيمېږي.

**ټاکل شوي ځای ته دمالونونه لېږدول**

**نهه څلوېښتمه ماده:**

(۱) که چېرې دغيرمترقبه پېښوپراساس مالک ونشي کړای ددې قانون په اته څلوېښتمه ماده کې درج ټاکل شوي ځای ته مالونه ولېږدوي، مکلف دی له موضوع څخه په ليکلې توگه دگمرک

نمی تواند.

(٦) اموال الی تعیین و تطبیق موقف گمرکی نهایی، تحت نظارت و بازرسی گمرکی باقی می ماند.

**تعیین محل احضار و انتقال اموال**

**مادۀ چهل وهشتم:**

ریاست عمومی گمرکات می تواند، محلی را جهت احضار و انتقال اموال به گمرک تعیین نماید. طرز انتقال کامل اموال واردشده از گمرک سرحدی الی محل تعیین شده و میعاد آن در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

**عدم انتقال اموال در محل تعیین شده**

**مادۀ چهل ونهم:**

(۱) هرگاه مالک بنابر حوادث غیرمترقبه نتواند اموال را به محل تعیین شدۀ مندرج مادۀ چهل وهشتم این قانون انتقال دهد، مکلف است موضوع را طور کتبی به مامور ین

(c) ketabton.com: The Digital Library



مامورینوته خبرورکړي.

(۲) که چېرې مالونه د غیرمترقبه پېښنو په سبب په بشپړ ډول ضایع شوي نه وي، پدې صورت کې هم مالک مکلف دی د مالونوله دقیق ځای څخه په لیکلې توگه دگمرک مامورینوته خبرورکړي.

(۳) که چېرې د غیرمترقبه پېښنو په اثر الوتکه د گمرک په قلمروکې مؤقت ننوتلو یاناستې ته اړه شي، کپیتان یایې استازی مکلف دی، موضوع له ځنډه پرته په لیکلې توگه دگمرک مامورینوته خبرورکړي.

(۴) دگمرک مامورین مکلف دي، په دې ماده کې پردرج شوو مالونو دگمرکي څارنې اوگمرک یانوروځایونوته دهغوله ورروستي لېږد څخه دډاډ ترلاسه کولوپه منظور، لازم تدبیرونه ونیسي.

**دهوا له لارې دمالونوننوتل**

**پنځوسمه ماده:**

(۱) هغه مالونه چې له بهر څخه دهوا له لارې دهېوادگمرکي قلمروته داخل

گمرک اطلاع دهد.

(۲) هرگاه اموال بنابر حوادث غیرمترقبه کاملاً ضایع نگردیده باشد، در این صورت نیز مالک مکلف است از محل دقیق اموال طور کتبی به مامورین گمرک اطلاع دهد.

(۳) هرگاه طیاره بالاثر حوادث غیرمترقبه مجبور به دخول یا نشست مؤقت در قلمرو گمرکی گردد، کپیتان یا نمایندهٔ وی مکلف است، بلافاصله موضوع را طور کتبی به مامورین گمرک اطلاع دهد.

(۴) مامورین گمرک مکلف اند، به منظور نظارت گمرکی بر اموال مندرج این ماده و حصول اطمینان از انتقال بعدی آن در گمرک یا سایر محلات تعیین شده تدابیر لازم را اتخاذ نمایند.

**دخول اموال از طریق هوا**

**مادهٔ پنجاهم:**

(۱) اموال که از خارج به قلمرو گمرکی کشور از طریق هوا داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په واحد انتقالاتي سندکې شامل وي، دلېږد په عين تګلاره دبل هېواد هوايي ډګرته لېږدول کېږي، يادمالونه له ځنډپرته په هوايي ډګرکې تخليه او ګمرک ته احضارېږي.

(۲) دهېوادګمرکي قلمروته دمالونودننوتلواووتلوپه وخت کې د ګمرکي بياڅېړنې، څارنه اونورو اجراآتو ډول په جلا کړنلاره کې تنظيمېږي.

## د ګمرک مامورينو ته د بارليک يا اظهارليک وړاندې کول

**يوپنځوسمه ماده:**

(۱) د وارداتي اوصادراتي مالونوحاملې الوتکې کپيتان د ملکي هوانوردۍ دقانون له حکمونوسره سم له ټاکلو شويو هوايي دهلېزونو څخه تېرېږي راتېرېږي اويوازې له هغوبين المللي هوايي ډګرونو څخه ګټه اخلي چې د بهرنيو الوتنولپاره منظورشوي دي.

(۲) د مالونوحاملې الوتکې کپيتان مکلف دی، له الوتنې د مخه، د مالونو

وشامل سند واحد انتقالاتی باشد، با عين شيوهٔ انتقال، به ميدان هوايی ديگر کشور منتقل می گردد، اموال مذکور بدون تأخير، در ميدان هوايی تخليه گرديده به گمرک احضار می شود.

(۲) طرز بازرسی، نظارت و ساير اجراآت گمرکی حين دخول و خروج اموال به قلمرو گمرکی کشور در طرزالعمل جداگانه تنظيم می گردد.

## ارايه اظهار نامه يا بارنامه به مامورين گمرک

**مادهٔ پنجاه ويکم:**

(۱) کپيتان طيارهٔ حامل اموال وارداتی و صادراتی مطابق احکام قانون هوانوردی ملکی از دهليز های هوايی معينه عبور و مرور نموده و صرف از ميدان های هوايی بين المللی که برای پرواز های خارجی منظور گرديده، استفاده می نمايد.

(۲) کپيتان طيارهٔ حامل اموال مکلف است، قبل از پرواز، اظهارنامه يا بارنامهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ګمرکي بارلیک یاااظهارلیک چې دهېوادله ګمرکي قلمروڅخه صادرېږي، دګمرک مامورینوته وړاندې کړي.

(۳) ددې مادې په(۲) فقره کې په درج شوي حالت کې، دګمرک مامورین مکلف دي، له بارلیک یااظهارلیک سره دبارشوو مالونوله مطابقت څخه ډاډ ترلاسه کړي.

## دالوتکې ګمرکي څارنه

**دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) الوتکه، د الوتنې عمله، مسافرین، د الوتنې دعملې اومسافرینواثاثیه اولېږدېدونکي مالونه دافغانستان په لومړني وصولي هوايي ډګر کې، دګمرکي څارنې تابع وي. ددې قانون دپنځوسمې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه، لدې حکم څخه مستثنی دي.

(۲) هغه هوايي ډګرونه چې د ملکي هوانوردۍ دقانون له حکمونوسره سم دبین المللي الوتنولپاره مجازدي، د ګمرکي څارنې تابع دي.

ګمرکی اموال را که از قلمرو گمرکی کشور صادر می گردد، به مامورین گمرک ارایه نماید.

(۳) در حالت مندرج فقرهٔ (۲) این ماده، مامور ین گمرک مکلف اند، ازمطابقت اموال بار شده با اظهارنامه یا بارنامه اطمینان حاصل نمایند .

## نظارت گمرکی طیاره

**مادهٔ پنجاه ودوم:**

(۱) طیاره، عملهٔ پرواز، مسافرین، اثاثیه عملهٔ پرواز و مسافرین و اموال انتقال شونده در اولین میدان هوایی وصولی افغانستان، تابع نظارت گمرکی می باشند. اموال مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ پنجاهم این قانون از این حکم مستثنی است.

(۲) میدان های هوایی که مطابق احکام قانون هوانوردی ملکی برای پرواز های بین المللی مجاز اند، تابع نظارت گمرکی می باشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) په ټاکل شوي هوايي ډګر کې د الوتکې له ناستې سره سم کپیتان، د لېږدول شوو مالونوبارلیک دګمرک ادارې ته سپاري. ددې قانون د اووه څلوېښتمې مادې په (۳) فقره کې درج شوي مالونه، لدې امرڅخه مستثنی دي.

(۴) له هېواد څخه بهرته دالوتکې د تللو پر وخت، ددې مادې په(۱،۲ او۳) فقروکې درج شوي حکمونه هم دتطبيق وړدي.

## دبارلیک نه وړاندې کول

### دري پنځوسمه ماده:

په کورنيو الوتنوکې دمالونو حاملې الوتکې کپیتان د بارلیک په وړاندې کولومکلف نه دی، خوداچې په بهرني هوايي ډګرکې تم کېدل(توقف) ولري ياد بیاکتنې او څارنې وړ ګمرکي مالونه ولېږدوي.

## دالوتکې اجباري ناسته

### څلورپنځوسمه ماده:

که چېرې الوتکه په غيرمترقبه او اضطراري حالاتوکې، په هغهٔ هوايي

(۳) کپیتان به مجرد نشست طیاره در میدان هوایی تعیین شده، بارنامهٔ تمام اموال انتقال شده رابه ادارهٔگمرک تسلیم می نماید .اموال مندرج فقرهٔ(۳) مادهٔ چهل وهفتم این قانون از این امر مستثنی است.

(۴) احکام مندرج فقره های (۱، ۲و۳) این ماده حین عزیمت طیاره به خارج از کشور نیز قابل تطبیق می باشد.

## عدم ارایهٔ بارنامه

### مادهٔ پنجاه وسوم:

کپیتان طیاره حامل اموال در پرواز های داخلی مکلف به ارایهٔ بار نامه نمی باشد، مگر اینکه در میدان هوایی خارجی توقف داشته یا اموال تابع بازرسی و قابل نظارت گمرکی را انتقال دهد.

## نشست اجباری طیاره

### مادهٔ پنجاه وچهارم:

هرگاه طیاره در حالات اضطراری و غیرمترقبه، مجبور به نشست در

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډګرکې ناستې ته اړه شي چې د بين المللي الوتنود منلولپاره مجازنه وي، د الوتکې کپيتان مکلف دی، له ناستې او تم کېدو سره سم دالوتکې، د الوتنې عملې، مسافرينو او مالونو دګمرکي څارنې په منظوردګمرک ډېرې نږدې ادارې ته خبرورکړي.

## دپستي مالونودګمرکي اظهارليک وړاندې کول

**پنځه پنځوسمه ماده:**

(۱) پرسوداګريزو محمولو او نورو مالونو مشتمل پستونه چې د هغو دفي واحد ټوله بيه له د (۵۰۰۰) پنځه زرو افغانيو مبلغ يا په اړوندومقرراتوکې له درج شوي اجرت څخه زيات وي، دګمرکي اظهارليک دوړاندې کولوتابع دي.

(۲) دکورنيو اوبهرنيو پسته خانو ترمنځ پستي راکړه ورکړه دګمرک دمامورينوترڅارنې لاندې صورت مومي. دګمرکونولوی رياست کولای شي، دوروپوستي بستود استوونکودمحمولې

میدان هوایی گردد که برای پذیرش پرواز های بین المللی مجاز نباشد، کپیتان طیاره مکلف است، به مجرد نشست و توقف به منظور نظارت گمرکی طیاره، عمله پرواز، مسافرین و اموال، به نزدیک ترین ادارهٔ گمرک اطلاع دهد.

## ارایهٔ اظهارنامهٔ گمرکی اموال پستی

**مادهٔ پنجاه وپنجم:**

(۱) پست های مشتمل بر محموله های تجارتی و سایر اموالی که قیمت مجموعی فی واحد آن بیشتر از مبلغ پنج هزار (۵۰۰۰) افغانی یا اجرت مندرج در مقررات مربوط باشد، تابع ارایهٔ اظهارنامهٔ گمرکی می باشد.

(۲) ارسال و مرسول پستی میان پسته خانه های داخلی وخارجی تحت نظارت مامورین گمرک صورت می گیرد. ریاست عمومی گمرکات می تواند، اجازهٔ ترخیص عاجل محموله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعاجل ترخيص اجازه دپولي تضمين په مقابل کې اوداړونداظهارليک په وړاندې کولوسره چې په ټاکلي وخت موده کې ټول وارد شوي مالونه پکې شامل وي، له کړنلارې سره سم صادر کړي.

(۳) په پوسته خانوکې پوستي محمولې د ګمرکي اجراآتو د پړاوونو د تېرولوپه وخت کې دګمرک دماموړينوترڅارنې لاندې وي.ګمرک دهغوپسته خانو پست پارسل غوره کوي چې ګمرکي اجراآت پکې صورت ومونډلای شي.

## دګمرکي اظهارليک نه وړاندې کول

**شپږ پنځوسمه ماده:**

لاندې پستي محمولې، دګمرکي اظهارليک دوړاندې کولوتابع ندي:

۱- پستکارتونه اوهغه ليکونه (مکاتيب) چې يوازې دشخصي پيغامونولرونکي وي.

۲- هغه مطبوعاتي پاڼې چې په وارداتي محصول کې شاملې نه شي.

ارسال کنندگان بسته های کوچک پستی را در برابر تضمین پولی و ارایهٔ اظهارنامهٔ مربوط که در برگیرندهٔ تمام اموال وارد شده در مدت زمان معین باشد، مطابق طرزالعمل صادر نماید.

(۳) محمولهٔ پستی در پسته خانه ها حین طی مراحل اجراآت گمرکی، تحت نظارت مامورین گمرک می باشد. ادارهٔ گمرک پست پارسل پسته خانه های را انتخاب می نماید که اجراآت گمرکی در آن صورت گرفته بتواند.

## عدم ارایهٔ اظهارنامهٔ گمرکی

**مادهٔ پنجاه وششم:**

محموله های پستی ذیل، تابع ارایهٔ اظهارنامهٔ گمرکی نمی باشد:

۱- پستکارتها ومکاتیب که تنها حاوی پیامهای شخصی باشد.

۲- اوراق مطبوعاتی که مشمول محصول وارداتی نگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- نورې هغه محمولې چې دسوداګريز ارزښت لرونکې نه وي اودليک په واسطه يادپست پارسل له لارې لېږل کېږي.

## دپوستي محمولودمحدوديت وضع کول

**اووه پنځوسمه ماده:**

د ګمرکونو لوی رياست د دې قانون له حکمونو او له بين المللي مقرراتوسره سم بهرته دلېږل کېدونکوپوستي محمولوپه هکله محدوديتونه اوخاص شرايط وضع کوي.

## د مسافرينو د مالونو ګمرکي پلټنه

**اته پنځوسمه ماده:**

(۱) مسافرين مکلف دي، افغانستان ته دننوتلواو يا وتلوپه وخت کې خپلې اړوندې محمولې دګمرک کارکوونکوته اظهار(ښکاره) او د غوښتنې په صورت کې هغه وړاندې کړي.

(۲) دګمرک مامورين کولای شي، ددې مادې په (۱) فقره کې له درج

۳- ساير محموله های که دارای ارزش تجارتی نباشد و توسط نامه يا از طريق پست پارسل ارسال می گردند.

## وضع محدوديت محموله های پستی

**مادۀ پنجاه وهفتم:**

رياست عمومی گمرکات مطابق احکام اين قانون و مقررات بين المللی در مورد محموله های پستی ارسال شونده به خارج، محدوديت ها و شرايط خاصی را وضع می نمايد.

## بازرسی گمرکی اموال مسافرين

**مادۀ پنجاه وهشتم:**

(۱) مسافرين مکلف اند، حين دخول و يا خروج از افغانستان محموله های مربوط را به مامورين گمرک اظهار و در صورت مطالبه، آن را ارايه نمايند.

(۲) مامورين گمرک می توانند، به منظور مطابقت اظهارات مندرج

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوو اظهاراتو سره دمحمولې دمطابقت په منظور، هغه وپلټي.

(۳) دسیاسي استازو هغه محمولې چې په لیکلې توګه داړوندو اداروله خواتصدیق شوې وي، ددې قانون په پنځه پنځوسمه، شپږپنځوسمه اواووه پنځوسمه مادوکې ددرج شوو حکمونوتابع نه دي.

## له ټاکلي ځای څخه ګمرک ته دمالونواحضار

### نهه پنځوسمه ماده:

د ګمرک د احضار ټاکلي ځای ته رسېدلي مالونه، له ځنډ پرته ګمرک ته احضارېږي، خو داچې د هغو په احضارکې ځنډ دمالونود احضاروونکي شخص د تقصیر په موجب نه وي. دمالونواحضاروونکی شخص مکلف دی اظهارلیک، سندونه، اطلاعات اوداړوندوسندونودصحت اوسقم په اړه دګمرک دمامورینوپوښتنو ته په ټاکلي وخت ځواب وړاندې کړي.

فقرهٔ(۱) این ماده با محموله، آن را بازرسی نمایند.

(۳) محموله های نمایندگان سیاسی که کتباً از طرف ادارات مربوط تصدیق گردیده باشد، تابع احکام مندرج مواد پنجاه وپنجم، پنجاه وششم و پنجاه وهفتم این قانون نمی باشد.

## احضار اموال از محل معینه به گمرک

### مادهٔ پنجاه ونهم:

اموال واصله به محل معینهٔ احضار گمرک، بدون تأخیر به گمرک احضار می گردد، مگر اینکه تأخیر در احضار آن به موجب تقصیر شخص احضار کنندهٔ اموال نباشد. شخص احضار کنندهٔ اموال مکلف است اظهارنامه، اسناد، اطلاعات و پاسخ به سوالات مامورین گمرک را در رابطه به صحت و سقم اسناد مربوط، در زمان معینه ارایه نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مالونو تثبیت او د نمونې (سمپل) اخیستل**

**شپیتمه ماده:**

(۱) دګمرک مامورین کولای شي، ګمرک ته د مالونو د احضار پر وخت د تعرفوي طبقه بندۍ یاګمرکي موقف دټاکلوپه منظور، دمالونونمونه واخلي. نمونه دمالونودمالک یادهغهٔ دقانوني استازي په غوښتنه هم اخیستل کېدای شي.

(۲) واردوونکی، صادروونکی یادهغوی استازي کولای شي دنمونې داخیستلوپه وخت کې حضور ولري اودارتیاپه صورت کې دګمرک مامورین کولای شي هغوی پراحضارمکلف کړي.

(۳) د کتنې(معاینې) ځای اونېټه دګمرکونودلوی ریاست لخواټاکل کېږي.

(۴) که چېرې نمونه د معاینې پر وخت ضایع نشي، دمالونومالک یادهغهٔ

**تثبیت اموال و اخذ نمونه (سمپل)**

**مادهٔ شصتم:**

(۱) مامورین گمرک میتوانند، حین احضار اموال به گمرک نمونهٔ اموال را به منظور تعیین طبقه بندی تعرفوی یا موقف گمرکی اخذ نمایند. نمونه به اساس در خواست مالک اموال یا نمایندهٔ قانونی وی نیز اخذ شده می تواند.

(۲) وارد کننده، صادر کننده یا نمایندهٔ آنها می تواند حین اخذ نمونه حضور داشته باشد و در صورت ضرورت مامورین گمرک می توانند آنها را مکلف به احضار نمایند.

(۳) محل و زمان معاینه نمونه از طرف ریاست عمومی گمرکات تعیین می گردد.

(۴) هرگاه نمونه حین معاینه ضایع نگردد، دوباره به مالک اموال یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازي ته بېرته ورګرځول کېږي.

(۵) دمالونومالک یا د هغـهٔ اسـتازی مکلـف دی، د کتنـې ځایونوتـه دنمونودلېږد، دبستود خلاصولو، توزین، بیابسته بندی اودنمونې اخیستنې او په کتنې پورې د نورو اړوندو عملیو ټول لګښتونه ورکړي.

## د اظهار لیک د لنډیز وړاندې کول

**یوشپېتمه ماده:**

(۱) هغه شخص چـې پـه ګمرکـي قلمروکې مالونه واردوي، پخپله یادهغهٔ قانوني استازی مکلف دی دګمـرک اداري ته دمـالونو لـه راوړلوڅخـه یوساعت وروسته له اړوندې کړنلارې سره سم داظهارلیـک لنـډیزدګمرک اداري ته وړاندې کـړي. دګمـرک مامورین کـولای شـي داظهارلیـک دلنډیزد وړاندې کولو موده ګمرک ته دمالونوداحضارله ورځې څخه یوه کاري ورځ تمدیدکړي.

(۲) دګمرک مـامورین مکلـف دي، داظهارلیک لنډیزوسـاتي او د بشـپړ

نمایندهٔ وی مسترد می گردد.

(۵) مالک اموال یا نمایندهٔ وی مکلف است، مصارف انتقال نمونه به محلات معاینه، باز نمودن بسته هـا، تـوزین، بسته بندی مجدد و سایر عملیه هـای مربوط بر اخـذ نمونـه و معاینـه را بپردازد.

## ارایهٔ خلص اظهارنامه

**مادهٔ شصت ویکم:**

(۱) شخصی که اموال را در قلمـرو گمرکی وارد می نماید، خود یا نمایندهٔ قانونی وی مکلـف اسـت خلـص اظهارنامه را طبق طرزالعمل مربوط در خلال یک ساعت بعد از احضار اموال به ادارهٔ گمرک ارایه نماید. مـامورین گمرک مـی تواننـد میعـاد ارایـهٔ خلـص اظهارنامـه را یـک روز کـاری بعـد از روز احضـار امـوال بـه گمـرک، تمدیـد نمایند.

(۲) مامورین گمرک مکلف اند، خلص اظهارنامـه را حفـظ و امـوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



اظهارلیک تروړاندې کولوپورې په هغهٔ کې درج شوي مالونه په مؤقته زېرمه کې وساتي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوې مودې له تېرېدوڅخه دمخه بشپړ ګمرکي اظهارلیک وړاندې شوی وي، داظهارلیک دلنډیزوړاندې کول اړین ندی.

(۴) ددی قانون په پنځه پنځوسمه ماده کې د واردو شوو مالونو په هکله مسافرین اواظهارکوونکی داظهارلیک دلنډیزپه اظهار(ښکاره کولو) مکلف ندي، خوداچې دمالونوګمرکي څارنه په خطرکې واچوي.

## له یوې لېږدوونکې واسطې څخه بلې ته دمالونوتخلیه یالېږد

### دوه شپېتمه ماده:

(۱) په ټاکلو ناحیوکې له یوې لېږدوونکې واسطې څخه بلې ته د مالونو تخلیه یالېږد دګمرک د مامورینو په اجازې صورت مومي، خودا چې د قریب الوقوع خطرله امله د مالونوکلي

مندرج آنرا الی ارایهٔ اظهارنامهٔ مکمل در ذخیره مؤقت نگهداری نمایند.

(۳) هرگاه اظهارنامهٔ مکمل گمرکی قبل از انقضای میعاد مندرج فقرهٔ (۱) این ماده ارایه گردیده باشد، ارایه خلص اظهارنامه ضروری نمی باشد .

(۴) مسافرین و اظهار کنندهٔ اموال درمورد اموال وارد شده مندرج مادهٔ پنجاه وپنجم این قانون مکلف به ارایهٔ خلص اظهارنامه نمی باشند، مگر اینکه نظارت گمرکی اموال را در خطر اندازد.

## تخلیه یا انتقال اموال از یک واسطه به واسطهٔ نقلیه دیگر

### مادهٔ شصت ودوم:

(۱) تخلیه یا انتقال اموال از یک واسط به واسطهٔ نقلیه دیگری در نواحی معینه به اجازهٔ مامورین گمرک صورت می گیرد، مگر اینکه بالاثر، خطر قریب الوقوع، تخلیهٔ کلی یا قسمی اموال

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا قسمي تخلیه حتمي وګڼل شي. پدې صورت کې د مـــالونو اظهـــاروونکی مکلف دی، په لنډوخت کې له موضوع څخه دګمرک مامورینوته خبرورکړي.

(۲) دګمرک مامورین کولای شـــي، هروخت دمالونواو نقلیه واسطې دکتنې په منظور د مالونو تخلیه یـــاد بســـتو خلاصول چې وغواړي.دمالونومالـــک یادهغـــهٔ اســـتازی کـــولای شـــي دمالونودکتنې په وخت کې حاضروي.

(۳) دګمرک مـــامورین مکلـــف دي، دمالونومالک یادهغهٔ استازي ته دمالونود کتنې دموخې خبرورکړي. پـــه هغـــهٔ صورت کې چې ددووساعتونو په ترڅ کې ځواب ترلاسه نکړي، کولای شي دهغوی په غیاب کې دمالونواو نقلیـــه وسایطوکتنه پیل کړي.

## اووم فصل

## دمالونولنډمهاله(مؤقته) زېرمه

**دلنډ مهالي زېرمې ځایونه**

**دري شپېتمه ماده:**

(۱) مالونه داظهارلیک د لنډیز د منلو

---

حتمی پنداشته شود. در این صـــورت اظهارکنندهٔ امـــوال مکلـــف اســـت، موضوع را به اسرع وقت به مامورین گمرک اطلاع دهد.

(۲) مامورین گمرک می توانند، هـــر زمان تخلیه اموال یا باز نمودن بسته ها را به منظور معاینهٔ اموال و واسطه نقلیه تقاضا نمایند. مالک اموال یا نماینـــدهٔ وی می تواند حین معاینه اموال حاضر باشد.

(۳) مامورین گمرک مکلف اند، هدف معاینه اموال را به مالک امـــوال یـــا نمایندهٔ قانونی وی اطلاع دهنـــد. در صورتی که در خلال دو ساعت جواب دریافت ننمایند، می توانند در غیـــاب آنها به معاینهٔ اموال و واسطهٔ نقلیه اقدام نمایند.

## فصل هفتم

## ذخیرهٔ مؤقت اموال

**محلات ذخیرهٔ مؤقت**

**مادهٔ شصت وسوم:**

(۱) اموال از وقت پـــذیرش خلـــص

(c) ketabton.com: The Digital Library



له وخته د بشپړ ګمرکي اظهارليک تر وړاندې کولواو منلوپـــورې دمؤقـــت زېرمې دمالونو په توګه پېژندل کېـــږي اوپه ګمرکي ساحو يابل ځای کې چې دګمرک دمامورينوله خوا ټاکل شـــوی دی، ساتل کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه دهېڅ ډول عمليـــې تـــابع ندي.

ددې قانون په شپېتمه ماده کـــې درج شوی حکم اوعمليې دمالونو د اصـــلي توب له حالت (د ظاهري شکل يادهغو دتخنيکي مشخصاتوله بدلون پرته) څخه دډاډ ترلاسه کولولپاره، لدې حکم څخه مستثنی دي.

(۳) دګمرک مامورين کـــولای شـــي دګمرکي دين دورکړې اوپه دې قانون کې ددرج شوو تعهداتو دپوره کولوپه منظور، دمالونومالک يادهغـــهٔ قـــانوني اســـتازی د تضـــمين پـــه وړانـــدې کولومکلف کړي.

(۴) ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوي مؤقتې زېرمې موده (۳۰) ورځې

اظهارنامه الی ارايه وپذيرش اظهارنامهٔ مکمل گمرکی، بحيث اموال ذخيـــرهٔ مؤقت شناخته شـــده و در ســـاحات گمرکی، يا محل ديگر کـــه توســـط مامورين گمرک تعيين شده، نگهداری می گردند.

(۲) امــــوال منـــــدرج فقـــرهٔ (۱) اين مـــاده تـــابع هيچگونـــه عمليـــه نمی باشند.

حکم مندرج مادهٔ شصتم اين قـــانون و عمليه ها جهت حصـــول اطمينـــان از حالت اصلی بودن امـــوال (بـــدون تغيير شکل ظاهری يـــا مشخصـــات تخنيکی آن) از اين حکـــم مســـتثنی است.

(۳) مامورين گمـــرک مـــی تواننـــد به منظور پرداخـــت ديـــن گمرکـــی و ايفـــــای تعهـــــدات منـــــدرج اين قانون، مالک اموال يـــا نماينـــدهٔ قانونی وی را مکلف به ارايه تضـــمين نمايند.

(۴) ميعاد ذخيرهٔ مؤقت مندرج فقـــرهٔ (۱) اين ماده در گمرکات (۳۰) روز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده اوترشپږومیاشتوپورې تر ارضیه رسم لاندې راتلای شي.

(۵) که چېرې ددې مادې په (۴) فقره کې په درج شوې موده کې تضـــمین وړاندې نشي، یا د مالونه دلـــیلام لـــه قانون سره سم، دګمرک د ادارې لخوا لیلامېږي. د ارضـــیه رســـم او لـــیلام لګښتونه د پلورنې له بیې څخه وضع او پاتې مالک ته بېرته ورکول کېږي اود مالک د غیاب په صورت کې په بانک کې په امانت حساب کـــې اېښـــودل کېږي اود مراجعې په وخت کې هغه ته ورکول کېږي.

## له لنډمهالوزېرموڅخه دمالونووتل

### څلورشپېتمه ماده:

(۱) که چېرې داظهارلیک لنډیز ددې مادې په یوشپېتمه ماده کـــې پـــه درج شوې موده کې دمالک یا د هغهٔ دقانوني اســـتازي لـــه خواوړانـــدې نشـــي، دګمرکونولوی رئیس ددې قانون ددرې شپېتمې مادې د (۴) فقرې دحکم په پام کې نیولوسره دمالونو اظهاروونکي ته له

بوده و الی شش ماه تحت رسم ارضیه قرار گرفته می تواند.

(۵) هرگاه در میعاد مندرج فقرهٔ (۴) این ماده تضمین ارایه شـــده نتوانـــد، اموال متذکره طبـــق قـــانون لـــیلام، توسط ادارهٔ گمرک لیلام می گـــردد. رســـم ارضـــیه و مصـــارف لـــیلام از قیمت فـــروش وضـــع و متبـــاقی آن به مالـــک اعـــاده میشـــود و در صـــــورت غیابـــــت مالـــــک در بانک به حســـاب امانـــت گذاشـــته شده و حین مراجعـــه بـــه وی تأدیـــه می گردد.

## خروج اموال از ذخایر مؤقت

### مادهٔ شصت و چهارم:

(۱) هرگاه خلص اظهارنامه درخـــلال میعاد مندرج مادهٔ شصت ویکم ایـــن قانون ازطرف مالک یا نمایندهٔ قانونی وی ارایه نگـــردد، رئـــیس عمـــومی گمرکات با نظرداشت حکـــم فقـــرهٔ (۴) مادهٔ شصت وسوم ایـــن قـــانون تدابیر لازم را غـــرض فـــــروش یـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرورکولو وروسته دپاتې شووګمرکي مالونودپلورلو یادموقف دټاکلو په غرض، له خپلې اړوندې کړنلارې سره سم لازم تدبیرونه نیسي.

(۲) دګمرک مامورین کولای شي، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه دهغودمالک په لګښت دګمرکي څارنې لاندې ځای ته ولېږدوي اود پلورلویاګمرکي موقف دټاکلو په اړه دوروستني تصمیم دنیولوتروخته پورې وساتي.

## ممنوعه مالونه

**پنځه شپېتمه ماده:**

(۱) که چېرې تثبیت شي چې مالونه ددې قانون له حکمونوسره سم قاچاق دي، دګمرک مامورین کولای شي د واکمنو مراجعو د وروستني تصمیم له نیولو وروسته، دپلورلو یا نورو مجازو اقداماتو لپاره لازم تدبیرونه ونیسي.

(۲) ددې قانون په شپږشپېتمه ماده کې درج شوي ممنوعه مالونه دګمرک دمامورینوله خواضبط اوپدې هکله ددې

تعیین موقف گمرکی اموال باقیمانده بعد از اطلاع به اظهار کنندهٔ اموال، مطابق طرزالعمل مربوط اتخاذ می نماید.

(۲) مامورین گمرک می توانند، اموال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را به مصرف مالک آن، به محل تحت نظارت گمرکی انتقال و الی زمان اتخاذ تصمیم نهایی، مبنی بر فروش یا تعیین موقف گمرکی، نگهداری نمایند.

## اموال ممنوعه

**مادهٔ شصت وپنجم:**

(۱) هرگاه تثبیت گردد که اموال مطابق احکام این قانون قاچاق می باشد، مامورین گمرک می توانند بعد از اتخاذ تصمیم نهایی مراجع ذیصلاح، تدابیر لازم را غرض فروش یا سایر اقدامات مجاز اتخاذ نمایند.

(۲) اموال ممنوعهٔ مندرج مادهٔ شصت و ششم این قانون توسط مامورین گمرک ضبط و در مورد طبق حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادې د(۱) فقرې له حکم سره سم اجراآت صورت مومي.
(۳) دګمرک مامورين کولای شي، دسوداګريزونښو دامتيازدلرونکي دغوښتنې پراساس دتوليد حق الامتياز ياپه فکري مالکيت پورې نور اړوند حقوق له اړوندې کړنلارې سره سم آزادوران ته دمالونوترخيص اودهغو صادرېدل منع کړي پدې شرط چې يادشوي مالونه دقوانينوله حکمونوسره سم جعلي يادتوليددحق نه لرونکي وپېژندل شي.

## دممنوعيت اومحدوديت وضع کول

**شپږشپېتمه ماده:**

دګمرک مامورين کولای شي دټولنيزو اخلاقو، عامه امنيت، د ژوند چاپېريال ساتنې، د انسانانو، حيواناتو اونباتاتو دروغتيا او ژوند دهنري ارزښت لرونکو ملي ثروتونو، تاريخي اوفرهنګي آثارويادسوداګريزو اوصنعتي شتمنيواودولت دنورو پاليسيو د رعايت په منظورله اړوندو تقنيني

فقرهٔ(۱) اين ماده اجراآت صورت می گيرد.
(۳) مامورين گمرک می توانند، به اساس درخواست دارندهٔ امتياز علايم تجارتی، حق الامتياز توليد يا ساير حقوق مربوط به مالکيت فکری، طبق طرزالعمل مربوط، ترخيص اموال به دوران آزاد و صدور آنرا منع نمايند، مشروط براين که اموال متذکره مطابق احکام قوانين جعلی يا فاقد حق توليد شناخته شود.

## وضع ممنوعيت ومحدوديت

**مادهٔ شصت وششم:**

مامورين گمرک می توانند، به منظور رعايت اخلاق اجتماعی و امنيت عامه، حفظ محيط زيست، صحت و حيات انسانها، حيوانات و نباتات، حفاظت از ثروت های ملی حايز ارزش هنری، آثارتاريخی و فرهنگی و يا دارايی های صنعتی و تجارتی و ساير پاليسی های دولت مطابق اسناد تقنينی مربوط،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندونوسره سم مناسب ممنوعيتونه اومحدوديتونه وضع کړي.

## اتم فصل

## ګمرکي اظهارليک

**دغيرافغاني مالونودګمرکي موقف ټاکل**

**اووه شپېتمه ماده:**

دګمرک مامورين مکلف دي، دګمرکي تقنيني سندونو له حکمونوسره سم، د هغو غيرافغاني مالونوګمرکي موقف چې ګمرک ته احضارېږي، وټاکي.

**دګمرکي اظهارليک دترتيب اوبشپړېدو موده**

**اته شپېتمه ماده:**

(۱) دمالونواظهاروونکی مکلف دی، زيات نه زيات داظهارليک دلنډيزد وړاندې کولوله نېټې څخه د(۵) ورځوپه موده کې له اړوندې کړنلارې سره سم ګمرکي اظهارليک ترتيب اوبشپړکړي.

(۲) دګمرک مامورين کولای شي، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې

ممنوعيت ومحدوديت های مناسب را وضع نمايند.

## فصل هشتم

## اظهارنامۀ گمرکی

**تعيين موقف گمرکی اموال غير افغانی**

**مادۀ شصت وهفتم:**

مامورين گمرک مکلف اند، طبق احکام اسناد تقنينی گمرکی، موقف گمرکی اموال غير افغانی را که به گمرک احضار ميگردد، تعيين نمايند.

**ميعاد ترتيب و تکميل اظهارنامۀ گمرکی**

**مادۀ شصت وهشتم:**

(۱) اظهار کنندۀ اموال مکلف است، اظهارنامۀ گمرکی را حد اکثر درخلال (۵) روز از تاريخ ارايۀ خلص اظهارنامه، طبق طرزالعمل مربوط ترتيب و تکميل نمايد.

(۲) مامورين گمرک می توانند، ميعاد مندرج فقرۀ (۱) اين ماده را با

(c) ketabton.com: The Digital Library



موده د شرايطو له په پام کې نيولوسره کمه يا زياته کړي.

(۳) هغه وارداتي مالونه چې دکښتی، الوتکې اونوررونقليه وسايطوپه واسطه افغانستان ته لېږدول کېږي، اظهارليک يې له رسېدلودمخه ترتيبېږي.

## دګمرکي مالونود پړاوونو اظهارليک

نهه شپېتمه ماده:

(۱) ترګمرکي پړاوونو لاندې د مالونو د راوستلويادهغو د ترخيص په اړه غوښتنه، دګمرکي اظهارليک له لارې صورت مومي.

(۲) ګمرکي اظهارليک دګمرک دمامورينود غوښتنې پراساس دلاندې ډولونوڅخه پر يوهٔ ډول ترتيبېږي.

۱- په ليکلي ډول.

۲- له الکترونيکي سيستمونوڅخه په ګټې اخيستنې سره.

۳- نورهغه اقدامات چې دمالونومسئول شخص د هغو په واسطه ترګمرکي موقف ياګمرکي پړاوونو لاندې

نظرداشت شرايط، تقليل يا تزئيد نمايند.

(۳) اموال وارداتی که توسط کشتی، طياره و ساير وسايط نقليه به افغانستان انتقال می يابد، اظهار نامهٔ آن قبل از رسيدن ترتيب می گردد.

## اظهارنامهٔ مراحل گمرکی اموال

مادهٔ شصت و نهم:

(۱) درخواست مبنی برقرار دادن اموال تحت مراحل گمرکی يا ترخيص آن، از طريق اظهارنامهٔ گمرکی صورت می گيرد.

(۲) اظهارنامهٔ گمرکی به اساس تقاضای مامورين گمرک به يکی از اشکال ذيل ترتيب می گردد:

۱- طور تحريری.

۲- با استفاده از سيستم های الکترونيکی .

۳- ساير اقداماتی که شخص مسئول اموال توسط آن مطالبه خود را جهت قراردادن اموال تحت موقف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمالونود راوستلو په اړه خپله غوښتنه ښکاره کوي.

(۳) اظهارليک له اړوندې کرنلارې سره سم له گمرکي سندونوسره ضميمه کېږي.

## د اظهارليک منل

**اويايمه ماده:**

هغه اظهارليکونه چې ددې قانون په نهه شپېتمه ماده کې له درج شوو شرايطوسره سم د مالونو د اظهاروونکي په واسطه ترتيب يا وړاندې کېږي، دگمرک دمامورينولخوا له ځنډپرته منل کېږي، پدې شرط چې پکې درج شوي مالونه دگمرکي کتنې په منظور د لاسرسي وړوي.

## لنډمهاله او نابشپړاظهارليک

**يواويايمه ماده:**

(۱) دگمرکونواداره کولای شي، دمالونود اظهاروونکي دغوښتنې پراساس لنډمهاله يانابشپړاظهارليک ومني، پدې شرط چې داسې معلومات ولري چې دمالونو دپلټنې اوترخيص لپاره لازم

گمرکی يا مراحل گمرکی اظهار می دارد.

(۳) اظهارنامه طبق طرزالعمل مربوط با اسناد گمرکی ضميمه می گردد.

## پذيرش اظهارنامه

**مادۀ هفتادم:**

اظهارنامه های که مطابق شرايط مندرج مادۀ شصت ونهم اين قانون، توسط اظهارکنندۀ اموال ترتيب يا ارايه ميگردد، بدون تأخير از طرف مامورين گمرک پذيرفته می شود، مشروط براينکه اموال مندرج آن به منظور اجرای معاينۀ گمرکی قابل دسترس باشد.

## اظهارنامۀ مؤقتی و نامکمل

**مادۀ هفتاد ويکم:**

(۱) ادارۀ گمرک می تواند، به اساس در خواست اظهار کنندۀ اموال، اظهار نامۀ مؤقتی يا نا مکمل را بپذيرد، مشروط براينکه حاوی معلوماتی باشد که جهت باز رسی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې، دګمرک اداره نشي کولای دمالونوترخیص ووروسته واچوي (وځنډوي)، پدې شرط چې اظهاروونکی په ټاکلی موده کې دبشپړ معلوماتو د وړاندې کولولپاره مناسب تضمین وړاندې کړي.

## داوطلبانه تصحیح یا ابطال

**دوه اویایمه ماده:**

(۱) که چېرې دمنل شوي اظهارلیک په مندرجاتوکې تېروتنې صورت موندلی وي، اظهاروونکی کولای شي هغه تصحیح یادمالونو ګمرکي موقف یاګمرکي پړاوونو ته بدلون ورکړي یااظهارلیک باطل کړي، پدې شرط چې په تصحیح یاابطال کې هغه مالونه شامل وي چې له وړاندې څخه په اظهارلیک کې درج شوي دي.

(۲) داظهارلیک تصحیح یاابطال په لاندې حالاتوکې جوازنلري:

ترخیص اموال لازم است.

(۲) درحالت مندرج فقرۀ (۱) این ماده، ادارۀ گمرک نمی تواند ترخیص اموال را به تأخیر اندازد، مشروط براینکه اظهار کننده تضمین مناسب را جهت ارایۀ معلومات مکمل، در میعاد معینه ارایه نماید.

## تصحیح یا ابطال داوطلبانۀ اظهارنامه

**مادۀ هفتاد ودوم:**

(۱) هرگاه در مندرجات اظهارنامۀ پذیرفته شده، اشتباه صورت گرفته باشد، اظهار کننده می تواند آنرا تصحیح یا موقف گمرکی و مراحل گمرکی اموال را تغییر دهد یا اظهارنامه را باطل سازد، مشروط براینکه تصحیح یا ابطال شامل اموالی باشد که قبلاً در اظهارنامه درج گردیده است.

(۲) تصحیح یا ابطال اظهارنامه، در حالات ذیل جوار ندارد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- کله چې دګمرک مامور پرمالونو دکتنې په اړه له خپل تصمیم څخه اظهاروونکي ته خبرورکړی وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې دګمرک مامورتصدیق کړي چې اظهارلیک ددې قانون په دیارلسم فصل کې ددرج شوو حکمونوپرخلاف ترتیب شوی دی.

۳- کله چې مالونه له ګمرک څخه بهرشوي وي.

## د اظهار لیک دصحت تصدیق

**دري اویایمه ماده:**

دګمرک مامورین کولای شي، اظهارلیک اوورسره منضمه سندونه دهغودصحت دتصدیق لپاره بررسي کړي اوله اظهاروونکي څخه نور سندونه وغواړي یامالونه وګوري اونمونه یې واخلي اوهغه دتخصصي تجزیې اومعاینې لپاره لابراتوارته ولیږي.

## واحد اظهارلیک

**څلوراویایمه ماده:**

اظهاروونکی کولای شي، دخپلو اړوندو مالونو د دوو یاله دوو څخه د زیاتو

۱-زمانیکه مامور گمرک از تصمیم خویش مبنی بر معاینهٔ اموال به اظهارکننده اطلاع داده باشد.

۲- در صورتی که مامورگمرک تصدیق نماید که اظهارنامه مغایر احکام مندرج فصل سیزدهم این قانون ترتیب گردیده است.

۳- زمانیکه اموال از گمرک خارج شده باشد.

## تصدیق صحت اظهارنامه

**مادهٔ هفتاد وسوم:**

مامورین گمرک می توانند، اظهارنامه و اسناد منضمهٔ آنرا جهت تصدیق صحت آن بررسی و از اظهارکننده اسناد دیگری را مطالبه یا اموال را معاینه و نمونه گیری نمایند و آن را جهت تجزیه ومعاینهٔ تخصصی به لابراتوار ارسال نمایند.

## اظهارنامهٔ واحد

**مادهٔ هفتاد وچهارم:**

اظهارکننده می تواند، برای دو یا بیشتراز دو نوع اموال مربوط،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالونولپاره یواظهارلیـک ترتیـب او وړاندې کړي. په نوموړي اظهار لیک کې د مالونو دهر قلم اړوند جزئیـات درجېږي.

## قسمي پلټنه

**پنځه اویایمه ماده:**

(۱) که چېرې په اظهارلیک کې دشاملو مالونوله یوې برخې څخه نمونه اخیستل شوې اومعاینه شوې وي، پایله یې ددې قانون په دري اویایمه ماده کې له درج شوي حکم سره سم د ټولو یادومالونوپه هکله داعتبار وړ ده.

(۲) که چېـرې د معـاینې پـایلې د اظهاروونکي دقناعت وړ ونه ګرځـي، کولای شي دمالونودبیا کتني غوښـتنه وکړي.

## د مالونو د هویت تشخیص

**شپږاویایمه ماده:**

(۱) دګمرک مامورین په اظهارلیک کې ددرج شـومالونودګمرکي موقـف یاګمرکي پړاوونو د ټاکلو دکـړنلارې درعایـت پـه منظـور، عنـداللزوم

اظهارنامـۀ واحـد را ترتیـب و ارایه نماید. جزئیات مربوط به هر قلم امـوال در اظهارنامـۀ مـذکور درج می گردد.

## بازرسی قسمی

**مادۀ هفتاد وپنجم:**

(۱) هرگاه از قسمتی از اموال مشمول اظهارنامه، نمونه اخذ ومعاینه گردیده باشد، نتایج آن در مورد تمام امـوال مـذکور طبـق حکـم منـدرج مادۀ هفتاد وسوم این قانون مدار اعتبار می باشد.

(۲) هرگـا ه نتـایج معاینـه مـورد قناعت اظهارکننـده قـرار نگیـرد، می تواند معاینۀ مجدد اموال را تقاضا نماید.

## تشخیص هویت اموال

**مادۀ هفتاد وششم:**

(۱) مامور ین گمرک به منظور رعایت طرزالعمل تعیین موقف گمرکـی یـا مراحـل گمرکـی امـوال منـدرج اظهارنامه، عنداللزوم هویت امـوال را

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمالونوهویت تشخیص اوډاډ ترلاسه کوي.

(۲) دلېبل پورته کول اودهغود تشخیص په غرض دګمرکي څارنې تابع مالونودسرغچ له منځه وړل، دګمرک دمامورینوپه واسطه یاد هغوی په اجازه صورت مونډلای شي. دغیرمترقبه پېښوپه صورت کې، دمالونومسئول شخص کولای شي، د مال لېبل یاسرغچ له منځه یوسي، پدې شرط چې دغیرمترقبه پېښنو پېښېدل ثابت کړي.

## د مالونو ترخیص

**اووه اویایمه ماده:**

(۱) که چېرې مالونه ددې قانون له حکمونوسره سم، ترګمرکي موقف یاګمرکي پړاوونولاندې راغلي وي، دګمرک مامورین مکلف دي، په اظهارلیک کې ددرج شووتفصیلاتو په صحت له قناعت څخه وروسته، مالونه له ځنډپرته ترخیص کړي اودنه قناعت په صورت کې، د هغو د نه ترخیص په اړه تصمیم نیسي.

تشخیص و اطمینان حاصل می نمایند.

(۲) برداشتن لیبل و از بین بردن سرغچ اموال تابع نظارت گمرکی غرض تشخیص آن، توسط مامورین گمرک یا به اجازۀ آنها صورت گرفته می تواند. در صورت وقوع حوادث غیر مترقبه، شخص مسئول اموال می تواند، لیبل یا سرغچ مال را از بین ببرد، مشروط براینکه وقوع حوادث غیرمترقبه را ثابت سازد.

## ترخیص اموال

**مادۀ هفتاد وهفتم:**

(۱) هرگاه اموال مطابق احکام این قانون تحت موقف گمرکی یامراحل گمرکی قرار گرفته باشد مامورین گمرک مکلف اند، بعد از قناعت صحت تفصیلات مندرج اظهارنامه، اموال را بدون تأخیر ترخیص نمایند و در صورت عدم قناعت، تصمیم مبنی بر عدم ترخیص آن اتخاذ می نمایند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) په واحد اظهارليک کې ددرج شوو مالونوترخيص، ددې قانون په څلوراويايمه ماده کې له درج شوي حکم سره سم په يوهٔ وخت صورت مومي.

(۳) دمالونوترخيص دګمرکي دين ، واجب التأديه جريمې اوپه دې قانون کې د نورو درج شوو ورکړو له اداء وروسته په ضمانت سره صورت مومي.

(۴) ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوی حکم د هغولنډ مهاله وارداتو ترپړاو لاندې مالونو د ترخيص په هکله چې دهغوددين دورکړې موده بشپړه شوې نده، دتطبيق وړندی.

(۵) په هغهٔ ګمرکي اظهارليک کې درج شوي مالونه چې د تضمين وړاندې کول ايجابوي، يا تر پوښتنې لاندې راغلي وي، دهغو ګمرکي پړاوونوڅخه تېرول دتضمين تروړاندې کولو پورې ځنډول کېږي.

(۲) ترخيص اموال مندرج اظهارنامهٔ واحد، طبق حکم مندرج مادهٔ هفتاد وچهارم اين قانون همزمان صورت می گيرد.

(۳) ترخيص اموال بعد از تأديه دين گمرکی، جريمه های واجب التأديه و ادای ساير پرداخت های مندرج اين قانون به ضمانت صورت می گردد.

(۴) حکم مندرج فقرهٔ (۳) اين ماده در مورد ترخيص اموال تحت مرحلهٔ واردات مؤقت که ميعاد تأديه دين آن تکميل نگرديده، قابل تطبيق نمی باشد.

(۵) اموال مندرج اظهارنامهٔ گمرکی که ايجاب ارايهٔ تضمين را می نمايد، يا مورد سوال قرار گرفته باشد، طی مراحل گمرکی آن الی ارايهٔ تضمين، معطل قرار می گيرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له ترخیص وروسته دمالونود اظهارلیک پلټنه

**اته اویایمه ماده:**

(۱) دګمرک اداره کولای شي، دمالونو په ترخیص پورې اړونداظهارلیکونه او ګمرکي سندونه د مالونو د وتلو (ترخیصیه) سند له لاسلیک وروسته د قوانینو او مقرراتو تطبیق، دګمرک دمامورینو د سرغړونو دکشف او د دریو کلونو د تاکلي مودې له پایته رسېدو د مخه د ګمرکي دین له ترلاسه کولو څخه د ډاډ لاسته راوړلو له نظره لږترلږه یوځل ترپلټنې لاندې ونیسي د پلټنې ډول په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

(۲) دګمرک اداره کولای شي، د ترخیص شوو مالونو اظهارلیکونو اوګمرکي سندونوته په ګدامونوکې له اړوندومالونوسره مطابقت ورکړي.

## د نه ترخیص وړ مالونه

**نهه اویایمه ماده:**

(۱) دګمرک اداره کولای شي لاندې

## تفتیش اظهار نامهٔ اموال بعد از ترخیص

**مادهٔ هفتاد و هشتم:**

(۱) ادارهٔ گمرک می تواند، اظهارنامه ها و اسناد گمرکی مربوط به ترخیص اموال را بعد از امضای سند خروج اموال (ترخیصیه)، حداقل یک بار از نظرتطبیق قوانین و مقرره، کشف تخلفات مامورین گمرک و حصول اطمینان از در یافت دین گمرکی قبل از ختم معیاد معینه سه سال، مورد تفتیش قرار دهد. طرز تفتیش در طرزالعمل جدا گانه تنظیم می گردد.

(۲) ادارهٔگمرک می تواند، اظهارنامه ها و اسناد گمرکی اموال ترخیص شده را با اموال در گدام های مربوط مطابقت دهد.

## اموال غیرقابل ترخیص

**مادهٔ هفتاد ونهم:**

(۱) ادارهٔ گمرک میتواند اموال غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نه ترخيص وړ مالونه په خپل تصرف کې ولري اوپدې هکله تدبيرونه ونيسي:

۱- هغه مالونه چې پــه ټــاکلي نېټــه دمالونو د اظهــاروونکي د ســتونزو پراساس يې معاينه ناممکنه وي.

۲- هغه مالونه چې غوښــتل شــوي ګمرکي سندونه يې د ګمرکي پړاوونو لاندې له راوستلو دمخــه دګمــرک مامورينو ته وړاندې شوې نه وي.

۳- هغه مالونه چې د هغــو ګمرکــي محصول، تضمين يانور ترتيبــات لــه احوالوسره سم ترګمرکي موقف لاندې له راوستلو وروسته د دريــو ورځوپــه موده کې، ورکړل شوي نه وي.

۴- هغه مالونه چې له ترخيص وروسته ترلسوورځوپورې دګمرک دتأسيساتوله انګړ(محوطې) څخه وتلي نه وي.

۵- هغه مالونه چې دزېرمه کولو مؤقته موده يې ددې قــانون ددري شــپېتمې مادې د(۴) فقرې له حکم سره ســمه پايته رسېدلې وي.

۶- هغه مالونه چې ددې قــانون پــه شپږشپېتمه ماده کې دوضــع شــوي

قابل ترخيص ذيل را در تصرف داشته و در مورد تدابير اتخاذ نمايد:

۱- اموالیکه در ميعاد معينــه بنــابر مشکلات اظهار کنندۀ اموال، معاينه آن ناممکن باشد.

۲- اموالیکه اسناد گمرکی درخواست شدۀ آن قبل از قرار دادن تحت مراحل گمرکی، به مامورين گمــرک ارايــه نگرديده باشد.

۳- اموالیکه محصول گمرکی، تضمين يا ترتيبات ديگر آن حسب احوال در مدت سه روز بعد از قراردادن تحــت موقف گمرکــی، تأديــه نگرديــده باشد.

۴- اموالیکه از محوطــۀ تأسيســات گمرک، الی ده روز بعد از تــرخيص خارج نگرديده باشد.

۵- اموالیکه ميعاد ذخيــرۀ مؤقــت آن مطابق حکم فقرۀ (۴) مادۀ شصت وسوم ايــن قــانون منقضــی شــده باشد.

۶- اموالیکه تابع وضع محــدوديت مندرج مادۀ شصــت و ششــم ايــن

(c) ketabton.com: The Digital Library



محدوديت تابع يا په قاچاق مالونوپورې داړوندو حکمونو تابع ياپډې قانون کې ددرج شوو واکمنومراجعوله لـوري د مصادرې دفيصلې تابع وي.

(۲) دگمرک مامورين کولای شي لــه خپلې اړوندې کړنلارې سره سم، ددې مادې په (۱) فقره کــې ددرج شــوي مالونوپه اړه اضافي رسم ارضيه وضــع کړي ياهغه مصــادره اودقــانون لــه حکمونوسره سم يې ليلام کړي، پــدې شرط چې له موضوع څخه يې دمالونو مسئول شخص ته دمخه خبرورکــړی وي.

## دگمرک د مامورينوپه واســطه د اظهارليک تصحيح ياابطال

**اتيايمه ماده:**

(۱) که چېرې د گمرکي مالونو موقف د نابشپړو او غيردقيقو معلوماتو پراساس صورت موندلی وي، د گمرک مامورين کولای شي د مــالونو لــه تــرخيص وروسته اظهارليک تصــحيح ياباطــل کړي.

قانون يا تابع احکام مربوط به امــوال قاچاق و يا تابع فيصلهٔ مصادره از طرف مراجع ذيصلاح مندرج ايــن قــانون باشد.

(۲) مامورين گمــرک مــی تواننــد مطــــابق طرزالعمـــــل مربــــوط، در مورد امــوال منــدرج فقــرهٔ (۱) اين ماده رســـم ارضـــيه اضـــافی را وضع يــا آن رامصـــادره و مطـــابق احکام قانون، ليلام نمايند، مشـــروط بـــر اينکـــه قـــبلاً از موضـــوع بـــه شخص مسئول امــوال اطــلاع داده باشند.

## تصحيح يا ابطال اظهارنامه توسط مامورين گمرک

**مادهٔ هشتادم:**

(۱) هرگاه تعيين موقف گمرکی اموال بر مبنای معلومــات نامکمــل وغيــر دقيق صورت گرفته باشد، مامور يـــن گمرک مــی تواننــد، اظهارنامـــه را بعد از ترخيص اموال تصحيح يا باطل نمايند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که چېرې د مالونو اظهاروونکي، د دې قانون د يوسلو اته او يايمې مادې له (۲) فقرې سره سم نابشپړ او غير دقيق معلومات وړاندې کړي وي، د ګمرک مامورين کولای شي، ددې قانون لــه يوسلو شپږ اتيايمې مادې څخه تر دوه سوه دريېمې مادو پورې درج شــوي مجازات تطبيق او د سمو او بشــپړو معلوماتو لپاره پام کې نيولو سره نــوی ګمرکي موقف وټاکي.

## دګمرکي بهيربرابرول

**يو اتيايمه ماده:**

هغه کسان کولای شي لــه ګمرکـــي بهيرڅخه ګټه پورته کړي چې د ګمرکي تقنيني سندونو په تطبيـــق، د ګمرکـــي کنترول د ګمرکي منظم سيســـتم او د پوروونو په اداء کولو او د خپلو ټولومالي مکلفيتونوپه پوره کولوکې ښه ســـابقه ولري.

(۲) هرگـــاه اظهارکننـــدهٔ امـــوال، معلومات نامکمل و غير دقيق را مطابق فقرهٔ (۲) مادهٔ يکصد وهفتاد وهشـــتم اين قانون ارايه نموده باشد، مـــامورين گمرک می توانند، مجازات منـــدرج مواد يکصد وهشـــتاد وششـــم الـــی دو صدوســـــوم ايـــــن قـــانون را تطبيق و موقف جديد گمرکـــی را بـــا نظرداشت معلومات صحيح و مکمـــل تعيين نمايند.

## فراهم نمودن روند گمرکی

**مادهٔ هشتاد ويکم:**

اشخاصـــی مـــی تواننـــد از رونـــد گمرکـــی اســـتفاده نماينـــد کـــه در تطبيـــق اســـناد تقنينـــی گمرکـــی، سيســـتم مـــنظم کنتـــرول کمرگـــی وپرداخـــت قـــروض وايفـــای تمـــام مکلفيت های مالی خود، سابقهٔ نيـــک داشته باشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم فصل

## ګمرکي پړاوونه

### آزاد دوران ته دمالونو ترخيص

**دوه اتيايمه ماده:**

(۱) هغه غير افغاني مالونه چې آزاد دوران ته ترخيص کېږي، دافغاني مالونو په ډول تصنيف کېږي.

(۲) مالونه په هغهٔ صورت کې آزاد دوران ته ترخيص کېږي چې د سوداګريز سياست تدبيرونه عملي او د مالونو د واردوونکي مکلفيتونه پوره او ګمرکي پور اداء شوی وي.

### په ترجيحي تعرفې دمالونو ترخيص

**دري اتيايمه ماده:**

هغه مالونه چې په ترجيحي تعرفې ترخيصېږي، دګمرک ترڅارنې لاندې راځي ( نيول کېږي) اودغه څارنه هغهٔ وخت کې پايته رسېږي چې مالونه د ترخيص آزاد دوران ته صادر، ويجاړ(تخريب) او يا دولت ته وسپارل شي اوورځني (ورځخه) ګټه اخيستل په ترجيحي تعرفه کې له درج شوو

## فصل نهم

## مراحل گمرکی

### ترخيص اموال به دوران آزاد

**مادهٔ هشتاد ودوم:**

(۱) اموال غير افغانی که به دوران آزاد ترخيص می گردد، بحيث اموال افغانی تصنيف می شود.

(۲) اموال در صورتی بدوران آزاد ترخيص شده می تواند که تدابير سياست تجارتی تطبيق ومکلفيت های وارد کنندهٔ اموال ايفاءو دين گمرکی اداء شده باشد.

### ترخيص اموال با تعرفهٔ ترجيحی

**مادهٔ هشتاد وسوم:**

اموالیکه باتعرفهٔ ترجيحی ترخيص می گردد، تحت نظارت گمرک قرار می گيرد واين نظارت زمانی خاتمه می يابد که اموال به دوران آزاد ترخيص، صادر، تخريب يا به دولت واگذار گردد و استفادهٔ آن بغير از مقاصد مندرج تعرفهٔ ترجيحی، در صورت تأديه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقصدونو پرتــه، دپــاتې محصــول د ورکړې په صورت کې مجاز دي.

## د ګډو(مختلطو) مالونو تصنیف

څلور اتیایمه ماده:

که چېرې پرمالونو مشتمل بار(محموله) په تعرفوي مختلفو طبقوپورې اړوند وي او د تعرفوي طبقو هرې یوې ته د جلا اظهارلیک ترتیبول دوخــت د ضــایع کېدو یا د اضافي لګښت لامل وګرځي چې له ورکړې وړ وارداتي محصــول سره تناسب ونلري، د اظهاروونکي د موافقې په صــورت کــې د ګمــرک مامورین کولای شي ، له محمولې څخه د تعرفــوي طبقــه بنــدي پراســاس ترټولولوړ وارداتي محصول واخلي. په دې صورت کې اظهاروونکی په محموله کې یوازې د شاملو مالونو د هریــوهٔ د نسبتي اندازې د تخمین مسئول دی.

## د مالونو د افغاني وصف له لاســه ورکول

پنځه اتیایمه ماده:

که چېرې آزاد دوران ته د ترخیص شوو

بقیـــــه محصـــــــول مجـــــاز می باشد.

## تصنیف اموال مختلط

مادۀ هشتاد وچهارم:

هرگاه محموله مشتمل بر اموال مربوط به طبقات مختلفۀ تعرفــوی باشـــد و ترتیب اظهارنامۀ جداگانه برای هریک از طبقات تعرفوی سبب ضیاع وقت یا مصارف اضافی گردد که با محصــول وارداتی قابل تأدیه تناسب نداشته باشد، مامورین گمرک می توانند در صورت موافقۀ اظهارکننده، بلنــدترین حــد محصـــول وارداتـــی را بـــه اســـاس طبقــه بنــدی تعرفــوی از محمولــه اخــذ نماینــد. در ایـــن صـــورت اظهارکننده صرف مســئول تخمــین اندازۀ نسبتی هر یک از اموال شامل در محموله می باشد.

## از دست دادن وصــف افغــانی اموال

مادۀ هشتاد وپنجم:

هرگاه اظهارنامۀ اموال ترخیص شده به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالونو اظهارليک ددې قانون د اتيايمې مادې له حکم سره سم باطل شي، ياد مالونه خپل افغاني وصف لــه لاســه ورکوي.

**له اقتصادي اغېزو لرونکو ګمرکي پړاوونوڅخه ګټه اخيستل**

**شپږ اتيايمه ماده:**

(۱) له اقتصادي اغېزو لرونکو ګمرکي پړاوونو څخه ګټه اخيستل، د جواز له لاسته راوړو څخه وروســته صــورت مومي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جواز هغهٔ شخص تــه ورکــول کېږي چې لازم تضمين وړاندې کړي او د ګمرک مامور د ګمرکــي پړاوونـــو پرڅارنه قادر، وي.

(۳) له اقتصـــادي اغېـــزو لرونکـــو پړاوونوڅخه د ګټې اخيستلو د شرايطو ډول په جواز کې درجېږي.

(۴) د جـــواز لرونکـــی مکلـــف دی، د ګمـــرک مـــامورين د ټولـــو هغو مسايلو په هکله خبرکـــړي چـــې

دوران آزاد مطابق حکم مادهٔ هشتادم اين قانون باطل گردد، اموال مــذکور وصف افغــانی خــود را از دســت می دهد.

**استفاده از مراحل گمرکی دارندهٔ اثرات اقتصادی**

**مادهٔ هشتاد و ششم:**

(۱) اســتفاده از مراحــل گمرکـــی دارندهٔ اثــرات اقتصــادی، بعــد از کســـــب جـــــواز صـــــورت می گيرد.

(۲) جواز مندرج فقرهٔ (۱)اين ماده به شخصـــی داده مـــی شـــود کـــه تضـــمين لازم را ارايـــه و مـــامور گمرک به نظارت مراحل گمرکی قادر باشد.

(۳) طرز شرايط استفاده از مراحــل دارندهٔ اثرات اقتصادی در جواز درج می گردد.

(۴) دارندهٔ جــواز مکلــف اســت، مامورين گمرک را در مــورد همــه مسايلی که اثرات بعدی بر تداوم يــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو پر تداوم یا محتوي وروستۍ اغېزې کوي.

تضمین

اووه اتیایمه ماده:

د ګمرک مامورین کولای شي، د دیونو د ورکړې په منظور، تعلیقي پړاوونو لاندې د مالونو راوستل د هغهٔ تضمین په وړاندې کولو مشروط کړي چې شرایط یې په اړونده کړنلاره کې ټاکل کېږي.

د اقتصادي اغېزولرونکو ګمرکي پړاوونو پایته رسېدل

اته اتیایمه ماده:

(۱) د اقتصادي اغېزو لرونکي ګمرکي پړاوونه، هغه وخت پایته رسېږي چې تر پړاو لاندې مالونو لپاره او یا ددغه شان مالونو دجبیروي تولیداتولپاره نوی ګمرکي موقف وټاکل شي.

(۲) د ګمرک مامورین هغو مالونو ته دنوي ګمرکي موقف دټاکلو لپاره چې ګمرکي تعلیقي پړاوونه یې

محتوای آن وارد می نماید، مطلع سازد.

تضمین

مادهٔ هشتاد وهفتم:

مامورین گمرک می توانند، به منظور تأدیه دیون، قراردادن اموال تحت مراحل تعلیقی را با ارایهٔ تضمینی که شرایط آن در طرزالعمل مربوط تعیین می گردد، مشروط سازند.

ختم مراحل گمرکی دارندهٔ اثرات اقتصادی

مادهٔ هشتاد وهشتم:

(۱) مراحل گمرکی دارندهٔ اثرات اقتصادی، زمانی خاتمه می یابد که موقف گمرکی جدید برای اموال تحت مرحله یا برای تولیدات جبیروی و یا پروسس شده چنین اموالی، تعیین گردد.

(۲) مامورین گمرک جهت تعیین موقف گمرکی جدید برای اموال که مراحل تعلیقی گمرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې قانون لــه حکمونوســره ســم ترسره شــوي نــدي لازم تدبیرونــه نیسي.

## د حقوقو او مکلفیتونو لېږد

**نهه اتیایمه ماده:**

د اقتصادي اغېزولرونکــو ګمرکــي پړاوونو د جواز لرونکو اشخاصو حقوق او مکلفیتونه نورو اشخاصو ته لېږدول کېدای شي، پدې شرط چې منتقل الیه له اړوندې کړنلارې سره سم، د ټولــو شرایطو او مکلفیتونو ترسره کولو تــه ژمن شي.

## د ګمرکي دین ټاکل

**نوي یمه ماده:**

(۱) تر تعلیقي پړاوونو لاندې د شتوو مالونو دګمرکي دین اندازه، د اړونــد اظهارلیک د منلو پر وخت ټاکل کېږي.

(۲) آزاد دوران ته د ترخیص د وخت د تعلیقي مالونو بیه، له اړوندې کړنلارې سره سم بیا ټاکل کېدای شي.

(۳) کله چې تعلیقي مالونه آزاد دوران ته د ترخیص دپړاوونولپاره یا په شرط

آن طبق احکام ایــن قــانون انجــام نیافتـــه، تـــدابیر لازم را اتخــــاذ می نمایند.

## انتقال حقوق ومکلفیت ها

**مادۀ هشتاد ونهم:**

حقوق و مکلفیت های اشخاص دارندۀ جواز مراحل گمرکی دارندۀ اثــرات اقتصادی به سایر اشــخاص انتقــال گردیده می تواند، مشروط بر اینکــه منتقل الیه به انجام تمــام شــرایط و مکلفیت ها مطابق طرزالعمل مربــوط متعهد گردد.

## تعیین دین گمرکی

**مادۀ نودم:**

(۱) اندازۀ دین گمرکی اموال موجود تحت مراحل تعلیقی، حــین پــذیرش اظهارنامۀ مربوط تعیین می گردد.

(۲) قیمت اموال تعلیقی حین ترخیص به دوران آزاد، مطابق طرزالعمل مربوط مجدداً تعیین شده می تواند.

(۳) زمانیکه اموال تعلیقی برای مراحل ترخیص به دوران آزاد یا ترخیص منوط

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې توړلي ترخیص ته منل کېږي، لـه هغې ترجیحي تعرفې څخه برخمن کېږي چې تر تعلیقي پراوونولاندې د مالونو د راوستلو پر وخت تطبیقېږي.

## د ترانزیت پړاو

### یو نوي یمه ماده:

(۱) د ترانزیت پړاو پر هغـو مـالونو تطبیقېږي چې د افغانستان ګمرکـي قلمرو ته ننوزي او د بل هېواد ګمرکې قلمرو ته لېږدول کېږي.

(۲) د سوداګریز سیاست تدبیرونه او د محصول وضع کول د ترانزیـت پـه پړاوکې نه اعمالېږي.

(۳) د ترانزیت پړاو له ګمرکي موقف یا ګمرکي پړاوونو سره په یوهٔ وخـت تطبیق کېدای شي.

(۴) هغه تدبیرونه چې د نړیوالو میثاقونو او معاهدو سره سم په اړونده کړنلاره کې درجېږي، دترانزیت په پړاو کـې شاملېدای شي.

(۵) که چېرې د ګمـرک مـامورین تشخیص کړي چې تر ترانزیت لاندې

به شرط پذیرفته می شوند، از تعرفـهٔ ترجیحی که در زمان قراردادن اموال تحت مراحل تعلیقی تطبیق می گردید، مستفید می شوند.

## مرحلهٔ ترانزیت

### مادهٔ نود و یکم:

(۱) مرحلهٔ ترانزیت بر اموالی تطبیـق می گردد که بـه قلمـرو گمرکـی افغانستان داخل و به قلمرو گمرکـی کشور دیگر انتقال می یابد.

(۲) تدابیری سیاست تجارتی و وضع محصول در مرحلهٔ ترانزیـت اعمـال نمی گردد.

(۳) مرحلهٔ ترانزیت با موقف گمرکی یا مراحل گمرکی همزمان تطبیق شده می تواند.

(۴) تدابیری که به تأسی از میثاقهـا ومعاهدات بین المللی در طرزالعمـل مربوط درج گردیده، شـامل مرحلـهٔ ترانزیت شده می تواند.

(۵) هرگاه مامورین گمرک تشخیص نمایند که مرجع اموال غیر افغانی تحت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غير افغاني مالونو مرجع په افغانستان کې ده او د ګمرکي ترانزيت له ايجاباتو سره په مطابقت کې نـده، د اړونـد ګمرک مامورين کولای شي له تضمين څخه د لازمه مبلغ پر حصول برسېره، مالونه ظبط او پدې هکله له قانون سره سم اجراآت وکړي.

(٦) د ګمرکي ترانزيت لارښود پر هغو مالونو تطبيقېږي چې تر ګمرکي څارنې لاندې له يوهٔ ګمرک څخه بل ګمرک ته حمل کېږي. هغـه ګمـرک چـې ترانزيتـي پـړاو ورڅخـه پيلېـږي (دمبدأګمرک) او هغه ګمـرک چـې ترانزيتي پړاو په هغهٔ کې پايته رسـېږي (د مقصدګمرک) يادېږي (نومېږي). په کورني او بهرني ترانزيت پورې اړوند شرايط پـه جـلا طرزالعمـل کـې تنظيمېږي.

## د ترانزيت له پړاو څخه ترخيص

**دوه نوي يمه ماده:**

دترانزيت پړاو ددې قانون د اته اتيايمې مادې په (۲) فقره کې په درج شـوي

ترانزيت در افغانسـتان بـوده و بـا ايجابات گمرکی ترانزيت در مطابقت قرار ندارد، مامورين گمرک مربـوط می توانند بـرعلاوه حصـول مبلـغ لازمه از تضمين، اموال را ضبط و در مورد مطابق احکام قـانون اجـراآت نمايند.

(٦) رهنمود ترانزيت گمرکی بر اموالی تطبيق می گردد که تحـت نظـارت گمرک از يک گمرک به گمرک ديگر حمل می گردند. گمرکی که مرحلـهٔ ترانزيت از آنجا آغـاز مـی گـردد (گمرک مبدأ) و گمرکی که مرحلـهٔ ترانزيت در آنجا بـه پايـان ميرسـد (گمرک مقصد) ناميده مـی شـود. شرايط مربوط به ترانزيت داخلـی و خارجی در طرزالعمل های مربوط تنظيم می گردد.

## ترخيص از مرحلهٔ ترانزيت

**مادهٔ نود ودوم:**

مرحلهٔ ترانزيت در حالت مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ هشتاد و هشتم اين قانون يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت کې یاکله چې مالونه او دهغو اړوند سندونه له اړوند کړنلارې سره سم د ټاکلي مرجع دګمرک ادارې ته ورسېږي، پایته رسېږي.

**د درېیم هېواد له لارې ترانزیت**

**درې نوي یمه ماده:**

هغه مالونه چې د ثالث هېواد له قلمرو څخه تېرېږي او د نوي ګمرکي موقف له ټاکل کېدو پرته بیا افغانستان تـه داخلېږي، دنړیوال موافقه لیک د شتون په صورت کې د هغو په هکله ترانزیتي پړاوونه د تطبیق وړ دي.

**ترانزیتي تضمین**

**څلور نوي یمه ماده:**

(۱) ترانزیتي تضمین ددې قانون د یوسلو دوه پنځوسمې مادې له حکم سره سم، له ترانزیتي مالونوڅخه د راپیدا تعلیق شوو دیونو د ورکړې په منظور اخیستل کېږي.

راتلونکي موارد له دې امر څخه مستثنی دي:

۱- لېږد د هوا له لارې.

زمانیکه اموال و اسناد مربوط آن بـه ادارۀ گمرک مرجع معینه مطابق طرزالعمل مربوط، مواصلت نماید، خاتمه می یابد.

**ترانزیت از طریق کشور ثالث**

**مادۀ نود وسوم:**

اموالی که از قلمرو کشور ثالث عبور نموده و بدون تعیین موقف گمرکی جدید دوباره بـه افغانستان داخل می گردد، در صورت موجودیت موافقتنامۀ بین المللی مراحل ترانزیتی در مورد آن قابل تطبیق می باشد.

**تضمین ترانزیتی**

**مادۀ نود وچهارم :**

(۱) تضمین ترانزیتی مطابق حکم مادۀ یکصد وپنجا ه دوم این قانون به منظور تأدیه دیون تعلیق شده ناشی از اموال ترانزیتی اخذ می گردد.

موارد آتی از این امر مستثنی است:

۱- انتقال از طریق هوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- لېږد د پایپ لاین له لارې.**
**۳- لېږد د دولتي رېل د شرکت پـه واسطه.**
**۴- نور هغه موارد چې د مالیې وزارت له خوا ټاکل کېږي.**
**(۲) هغه مالونه چې ددې قانون د اتـه څلوېښتمې مادې له حکم سره سم، په افغانستان کې یوې گمرکي مرجع ته د لېږد په حالت کې وي، په هغهٔ صورت کې چې د مالونو مسئول شخص ددې قانون په پنځه نوي یمه ماده کې د درج شوي تضمین د معافیت مسـتحق وي، مکلف دی، د نومړو مالونو د گمرکي پیش پرداخت( ددمخه ورکړې) پر مالیې برسېره یوسلو لس (۱۱۰) فیصده مبلغ دتضمین په ډول سرحدي گمرک تـه ورکړي.**
**(۳) د ترانزیتي مـالونو تضـمین لـه منعقدشوي قرار داد سره سم اخیستل کېږي.**

**۲- انتقال از طریق پایپ لاین.**
**۳- انتقال توسـط شـرکت دولتـی ریل.**
**۴- سایر مواردیکه توسط وزارت مالیه تعیین می گردد.**
(۳) هرگاه اشخاص، تضمینی را که به موجب اسناد تقنینی گمرکی لازم شمرده میشود، ارایه ننمایند. از حوزه ها یا گدام های آزاد استفاده کرده نمی توانند.

(۴) حین دخول یا خروج اموال به حوزه یا گدام های آزاد، نقل سند انتقال ضمیمۀ اموال گردیده، به مامورین گمرک ارایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کېږي.

## د مالونو د ننوتلو یا وتلو شرایط

**یوسلو دوه څلوېښتمه ماده:**

(۱) ممنوعه مالونه یا هغه مالونه چې عامه خوندیتوب یا روغتیا ته ګواښ متوجه کوي، آزادو حوزو او ګدامونو یا له ګمرکي محصول څخه معاف پلورنځیو ته د ننوتلو اجازه نلري.

(۲) هغه مالونه چې آزادو حوزو او ګدامونو یا له ګمرکي محصول څخه معاف پلورنځیو ته ننه اېستل یا ورڅخه اېستل کېږي، د ګمرک مامورینو ته احضارېږي او تر هغهٔ وخته پورې چې مالونه تر ګمرکي پړاو لاندې رانشي، د مالونو مسئول شخص د اظهارلیک په وړاندې کولو مکلف نه دی، د هغو مالونو بیه چې تر ګمرکي پړاو لاندې راځي، ددې قانون د اته ویشتمې مادې له حکم سره سم، سنجول کېږي.

(۳) که چېرې مالونه د هېواد د ګمرکي قلمرو له نورو برخو څخه آزادو حوزو

می شود.

## شرایط دخول و خروج اموال

**مادۀ یکصد وچهل ودوم:**

(۱) اموال ممنوعه و اموالی که به مصئونیت یا صحت عامه خطری را متوجه می سازد، اجازۀ دخول به حوزه ها و گدام ها ی آزاد و فروشگاه های معاف از محصول گمرکی را ندارد.

(۲) اموالی که به حوزه ها وگدام ها ی آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول داخل ویا از آن خارج می شود، به مامورین گمرک احضارگردیده و تا زمانیکه اموال تحت مرحلۀ گمرکی قرار نگیرد، شخص مسئول اموال مکلف به ارایه اظهار نامه نمی باشد. قیمت اموالی که تحت مرحله گمرکی قرار می گیرد، مطابق حکم مادۀ بیست و هشتم این قانون سنجش می گردد.

(۳) هرگاه اموال از سایر قسمت های قلمرو گمرکی کشور به حوزه ها

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ګدامونو يا له محصول څخه معاف پلورنځيو ته ننه ايستل شي د ګمـرک مامورين مالونه لـه مخنيو(ړومبنيـو) ګمرکي پړاوونو څخه آزاد او افغـاني مالونه د صادرېدو تر پړاو لاندې راولي، خو دا چې په ګمرکي تقنيني سـندونو کې بل ډول تصريح شوي وي.

(۴) هغه افغاني مالونه چې لـه آزادو حوزو او ګدامونو يا له محصول څخه معاف پلورنځيو څخه د هېواد د ګمرکي قلمرو نورو برخو ته بهر کېږي، د هغو ګمرکي دين ددې قانون د يوسلو څلور دېرشمې مادې له حکم سـره سـم، محاسبه کېږي.

(۵) مالونه له اړوندې کړنلارې سـره سم، له آزادو حوزو او ګدامونو يا لـه محصول څخه معاف پلورنځيو څخه د صادرېدو په منظور، د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه ايستل کېداى شي.

وگدام های آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول داخل گـردد، مـامورین گمرک اموال را از مراحل گمرکـی قبلی آزاد و اموال افغـانی را تحـت مرحله صدور قرار می دهند، مگر اینکه در اسناد تقنینی گمرکی طور دیگـری تصریح شده باشد.

(۴) اموال افغانی که از حوزه هـا و گدام ها ی آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول به سایر قسمت های قلمرو گمرکی کشور خارج میشـود، دیـن گمرکی آن مطابق حکم مادهٔ یکصد و سی و چهارم ایـن قـانون محاسـبه می گردد.

(۵) اموال مطابق طرزالعمل مربوط از حوزه ها و گدام ها ی آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول، بـه منظـور صدور از قلمرو گمرکی کشور خارج شده می تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په آزادو حوزو کې د مالونو د ګمرکي تصنيف تصديق ليک

**يوسلو دري څلوېښتمه ماده:**

(۱) د ګمرک مامورين د مالونو د مسئول شخص د غوښتنې پربنسټ، کولای شي، آزادو حوزو او ګدامونو يا له ګمرکي محصول څخه معاف پلورنځيو د دننه مالونو ګمرکي تصنيف تصديق ليک برابر کړي.

(۲) که چېرې د مالونو د ګمرکي تصنيف تصديق ليک يا نور اثباتوونکي مدارک وړاندې کېدای نه شي. پدې صورت کې د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د صادرېدو په منظور، مالونه افغاني او د هېواد د ګمرکي قلمرو نورو برخو ته د ننه ابستلو په منظور، مالونه غير افغاني ګڼل کېږي.

## د وخت له ټاکلو پرته د مالونو باقي پاتې کېدل

**يوسلو څلور څلوېښتمه ماده:**

مالونه، په آزادو حوزو او ګدامونو يا له ګمرکي محصول څخه په معاف

## تصديقنامۀ تصنيف گمرکی اموال در حوزه های آزاد

**مادۀ يکصد وچهل وسوم:**

(۱) مامورين گمرک به اساس درخواست شخص مسئول اموال ميتوانند، تصديقنامۀ تصنيف گمرکی اموال داخل حوزه هاو گدام های آزاد يا فروشگاه های معاف از محصول گمرکی را تهيه نمايند.

(۲) هرگاه تصديقنامه يا ساير مدارک اثبات کنندۀ تصنيف گمرکی اموال ارايه شده نتواند، در اين صورت به منظور صدور از قلمرو گمرکی کشور، اموال افغانی و به منظور دخول به ساير قسمت های قلمرو گمرکی کشور، اموال غير افغانی دانسته می شود.

## باقی ماندن اموال بدون تعيين وقت

**مادۀ يکصد وچهل وچهارم:**

اموال در حوزه ها و گدام ها ی آزاد يا فروشگاه های معاف از محصول

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلورنځيو کې، د وخت له ټاکلو پرته، باقي پاتې کېدای شي، خو دا چې په اړونده کړنلاره کې بل ډول تصريح شوي وي.

## مجاز فعاليتونه

**يوسلو پنځه څلوېښتمه ماده:**

(۱) په آزادو حوزو او ګدامونو يا له محصول څخه په معاف پلورنځيو کې د صنعتي، سوداګريزو او خدماتي فعاليتونو سرته رسول، ددې قانون د يوسلو څلورمې مادې د حکم له په پام کې نيولو پرته او په ګمرکي تقنيني سندونو کې درج له پېشبيني شوو شرايطو سره سم، مجاز دي.

(۲) په آزادو حوزو کې د اختراع يا اکتشاف حق، سوداګريز نښې (علايم)، د مؤلف، مصنف، هنرمند او محقق د حق د ساتلو په هکله، د اړوندو قوانينو حکمونه په پام کې د نيولو وړ دي.

(۳) د ګمرک مامورين کولای شي، د اړوندو مالونو د ماهيت او ګمرکي څارنې د مقتضياتو په پام کې نيولو سره،

گمرکی، بدون تعیین وقت، باقی مانده می تواند، مگر اینکه در طرزالعمل مربوط، طور دیگری تصریح گردیده باشد.

## فعالیت های مجاز

**مادۀ یکصد وچهل و پنجم:**

(۱) انجام فعالیت های صنعتی، تجارتی و خدماتی در حوزه ها وگدام های آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول، بدون رعایت حکم مادۀ یکصد وچهارم این قانون و مطابق شرایط پیش بینی شدۀ مندرج سایراسناد تقنینی گمرکی، مجاز می باشد.

(۲) در مورد حفظ حق اختراع یا اکتشاف، علایم تجارتی، حق مؤلف، مصنف، هنرمند ومحقق در حوزه های آزاد، احکام قوانین مربوط قابل رعایت می باشد.

(۳) مامورین گمرک میتوانند، با در نظر داشت ماهیت اموال مربوط و مقتضیات نظارت گمرکی، محدودیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو فعالیتونو د پرمخ بیولو په هکله، لازم محدودیتونه وضع کړي.

## منظور شوی ثبت

### یوسلو شپږ څلوېښتمه ماده:

هغه اشخاص چې په آزادو حوزو او ګدامونو یا له محصول څخه په معاف پلورنځیو کې د مالونو په زېرمه کولو یا ددې قانون د یوسلو پنځه څلوېښتمې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو نورو فعالیتونو لاس پورې کوي، مکلف دي، چې د تسلیمۍ په وخت کې هغه ثبت او د ګمرک د مامورینو له لارښوونې سره سم، یې وساتي.

## د مصرف شوو او ورکو شوو مالونو تعرفه

### یوسلو اووه څلوېښتمه ماده:

(۱) د آزادو حوزو د ورځنۍ اړتیا وړ مالونه یا نور هغه مالونه چې د نوموړو حوزو د ساتنې او څارنې یا نورو موخو لپاره، له اړوندې کړنلارې سره سم، لګول کېږي، هغه مالونه ګڼل کېږي چې

های لازم را در مورد پیشبرد فعالیت های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده وضع نمایند.

## ثبت منظورشده

### مادهٔ یکصد وچهل و ششم:

اشخاصی که به ذخیرهٔ اموال یا سایر فعالیت های مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ یکصد و چهل و پنجم این قانون در حوزه ها و گدام ها ی آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول مبادرت می ورزند، مکلف اند، حین تسلیمی اموال آنرا ثبت و طبق هدایت مامور گمرک حفظ نمایند.

## تعرفه اموال مصرف شده و مفقود الاثر

### مادهٔ یکصد وچهل و هفتم:

(۱) اموال مورد نیاز روزانه حوزه ها ی آزاد یا اموالیکه برای حفظ و مراقبت یا سایر اهداف حوزه های مذکور طبق طرزالعمل مربوط به مصرف میرسد، اموالی شمرده می شود که بدوران آزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزاد دوران ته تـــرخیص شـــوي او د ګمرکي دین د ورکړې تابع دي.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې مالونـــه ورک شي او د هغو د ورکېدو پـــه اړه توضیحات د ګمرک د مامور د قناعت وړ ونه ګرځي، نوموړي مالونه په آزادو حوزو او ګدامونو یا له محصول څخه په معاف پلورنځیو کې د مصرف شوو مالونو په توګه ګڼـــل کېـــږي او ددې مادې د (۱) فقرې حکـــم ور بانـــدې تطبیقېږي.

## په آزادو حـــوزو کـــې د مـــالونو ویجاړېدل(تخریب) یا ترک کول

یوسلو اته څلوېښتمه ماده:

ددې قانون په یوسلو نهه څلوېښتمه ماده کې درج په آزادو حوزو او ګدامونو یا له محصول څخه په معاف پلورنځیو کې واقع د غیر افغاني مالونو د ترک یـــا تخریب موقف تر هغه وخته چې هلتـــه پاتې کېږي، ټاکل کېدای شي.

ترخیص گردیده و تابع پرداخت دیـــن گمرکی می باشد.

(۲) درصورتی که اموال مفقود گردد و توضیحات در مـــورد مفقودیـــت آن مورد قناعـــت مـــامورگمرک قـــرار نگیـــرد، امـــوال متـــذکره بحیـــث اموال مصرف شـــده در حـــوزه هـــا وگدام های آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول محسوب شده و حکم فقرهٔ (۱) ایـــن مـــاده بـــالای آن تطبیـــق می گردد.

## تخریب یا ترک اموال در حـــوزه های آزاد

مادهٔ یکصد وچهل وهشتم:

موقف ترک یا تخریب مندرج مـــادهٔ یکصد و چهل و نهم این قانون بـــرای اموال غیر افغانی واقع در حوزه هـــا وگدام های آزاد یا فروشگاه های معاف از محصول تا زمانیکه در آنجا بـــاقی میماند، تعیین گردیده می تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوولسم فصل

## ګمرکي موقفونه

### د ګمرکي موقف غوښتنه

**یوسلو نهه څلویښتمه ماده:**

(۱) اظهاروونکی یا د مالونو مسئول شخص مکلف دی، ګمرکي اظهارلیک، د اړوند موقف د غوښتنې لپاره وړاندې کړي. د ګمرکي موقف غوښتنه، لـه اړوندې کړنلارې سره سم، صـورت مومي.

(۲) د مالونو د ګمرکي موقف غوښتنه په هغه صورت کې رد کېږي چې لګښت یې د دولت پر غاړه وي.

### د مالونو ویجاړېدل(تخریب)

**یوسلو پنځوسمه ماده:**

(۱) د مالونو د تخریب ګمرکي موقف، چې د مالونو مشخصات، د تخریب د وخت، ځای، ډول او علت یاددښـت پکې شامل وي، ګمرکي مامورینو ته له مخکنۍ خبرتیـا وروسـته، صـورت مومي.

(۲) د ګمرک مامورین کولای شي، د

## فصل یازدهم

## موقف های گمرکی

### در خواست موقف گمرکی

**مادهٔ یکصد وچهل ونهم:**

(۱) اظهارکننده یا شخص مسئول اموال مکلف است، اظهارنامهٔ گمرکی را جهت درخواست موقف گمرکی مربوط ارایه نماید. درخواست موقف گمرکی، مطابق طرزالعمل مربوط صورت می گیرد.

(۲) در خواست موقف گمرکی اموال در صورتی که مصرف آن بدوش دولت باشد، رد می گردد.

### تخریب اموال

**مادهٔ یکصد وپنجاهم:**

(۱) موقف گمرکی تخریب اموال کـه شـامل مشخصـات امـوال، ذکر زمان، محـل، طـرز و علـت تخریب می باشد، بعـد از اطلاعیـهٔ قبلی به مامورین گمـرک، صـورت می گیرد.

(۲) مامورین گمرک می توانند، مرحلهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخریب پړاو وڅـاري او د اړونـدو ګمرکي سندونو وړاندې کول او ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شـوې خبرتیا نقل د مالونو له مسئول شخص څخه وغواړي.

(۳) هغه فاضله او قراضه مواد چـې د تخریب په پایله کې حاصلیږي، د غیر افغاني مالونو د موقف لرونکي دي او تر هغهٔ وخته پورې د ګمرک تر څارنې لاندې پاتې کیږي چـې موقـف یـې ترخیص یا نورو ګمرکي پړاوونـو تـه صورت ومومي.

## د مالونو له ترک څخـه حاصـله وجوه

**یوسلو یوپنځوسمه ماده:**

د هغو مالونو د خرڅلاو وجوه یا لیږد چې د مالونو د ترک د موقف په پایله کې لاسته راځي، د ګمرکي دیونو لـه کړنلارې سره سم په اړوند حساب کې تحویلیږي. په هغهٔ صورت کې چـې د مالونو خرڅلاو یا لیږد اړوند لګښتونه بشـپړ نکـړي، د ګمرکونـو

تخریـب را نظـارت نمـوده و اسناد گمرکـی مربـوط و نقـل اطلاعیهٔ مندرج فقرهٔ (۱) ایـن مـاده را از شخص مسئول امـوال تقاضـا نمایند.

(۳) مواد فاضـله و قراضـه کـه در نتیجهٔ تخریب حاصـل مـی گـردد، دارای موقـف امـوال غیرافغـانی بوده و تا زمانی تحت نظارت گمرکی باقی میمانـد کـه تـرخیص آن بـه موقف یا سایر مراحل گمرکی صورت گیرد.

## وجـوه حاصـله از تـرک اموال

**مادهٔ یکصد و پنجاه ویکم:**

وجوه فروش یا انتقال اموالی کـه در نتیجهٔ موقف تـرک امـوال بدسـت می آید، طبق طرز العمل تأدیه دیـون گمرکی به حساب مربوط تحویل بانک می گردد. در صورتی که فـروش یـا انتقال اموال مصارف مربوط را تکمیل ننماید، ریاست عمومی گمرکات مـی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی ریاست کولای شي، د حالاتو لـه په پام کې نیولو سره دولتي ادارو یـا مؤسسو ته د هغو د لېږد امر ورکړي.

## دوولسم فصل

## ګمرکي دین

**تضمین**

**یوسلو دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) که چېرې د مالونو اظهاروونکی په ټاکلې موده کې د ګمرکي دیـن پـه ورکړې باندې قادر نه وي، د ګمرک مامورين کولای شي، واکمنو مقاماتو ته د تضمین توجیه کـوونکی مناسـب پیشنهاد وړاندې کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي واکمن مقامات کـولای شـي، مدیون د نوموړي( د هغهٔ) د ګمرکـي دین د اداء کولـو لپـاره د مناسـبو تضمیناتو په برابرولو مکلف کړي.

توانـد با در نظر داشت حالات، امـر انتقال آن را به ادارات یا مؤسسـات دولتی اعطاء نماید.

## فصل دوازدهم

## دین گمرکی

**تضمین**

**مادهٔ یکصد وپنجاه ودوم :**

(۱) هرگـاه اظهارکننـدهٔ امـوال به پرداخت دین گمرکـی در میعـاد معینه قادر نباشد، مـامورین گمـرک می توانند، پیشنهاد مناسب توجیه کنندهٔ تضمین را به مقامات ذیصلاح ارایـه نمایند.

(۲) مقامات ذیصلاح مندرج فقرهٔ (۱) این ماده میتواننـد، مـدیون را بـه فراهم نمـودن تضـیمنات مناسـب برای ادای دین گمرکی وی مکلـف نمایند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د متعددو عمليو لپاره واحد تضمين

**يوسلو دري پنځوسمه ماده:**

(۱) د ګمرک مامورين کولای شي، د دوو ډولو مالونو او يا له دوو څخه د زياتو ډولونو د ګمرکي دين د تأمينولو په منظور، واحد تضمين اخلي، پدې شرط چې د نومړو عمليو لپاره د هغو په هر حالت کې، کافي وګڼل شي.

(۲) شخص د لاندې شرايطو د تحقق په صورت کې کولای شي، له واحد تضمين څخه استفاده وکړي:

۱- په افغانستان کې استوګنه ولري.

۲- د ګمرکي او مالياتي تقنيني سندونو په تطبيق کې ښه سابقه ولري.

۳- مالونه په ترتيب سره اظهار(څرګند) کړي.

## د تضمين د اندازې ټاکل

**يوسلو څلور پنځوسمه ماده:**

(۱) د ګمرک مامورين د تضمين اندازه په لاندې توګه ټاکي:

۱- د ګمرک د دين له دقيقې اندازې

## تضمين واحد برای عملیه های متعدد

**مادهٔ یکصد وپنجاه وسوم:**

(۱) مامورین گمرک می توانند، به منظور تأمین دین گمرکی دو نوع اموال و یا بیشتراز دو نوع، تضمین واحد را اخذ نمایند، مشروط بر این که برای عملیه های متذکره در هرحالت آن کافی دانسته شود.

(۲) شخص در صورت تحقق شرایط ذیل می تواند، ازتضمین واحداستفاده نماید:

۱-در افغانستان سکونت داشته باشد .

۲- سابقه خوب در تطبیق اسناد تقنینی گمرکی و مالیاتی داشته باشد.

۳- اموال را به ترتیب اظهار نماید.

## تعیین اندازهٔ تضمین

**مادهٔ یکصد وپنجاه وچهارم:**

(۱) مامورین گمرک اندازهٔ تضمین را طور ذیل تعیین می نمایند:

۱- مطابق اندازهٔ دقیق دین گمرکی که

سره سم چې مبلغ يې د تضمين په وخت کې په يقيني توګه تثبيت شوی وي، خو دا چې په ګمرکي تقنيني سندونو کې بل ډول اټکل شوي وي.

۲- د ګمرکي دين د مبلغ له اعظمي حد سره سم چې د ګمرکي مامورينو په واسطه اټکل کېږي، پدې شرط چې د ګمرکي دين دقيقه اندازه ونه ټاکل کېدای شي.

(۳) که چېرې د ګمرکي دين د تحصيل لپاره ددې قانون په يوسلو درې پنځوسمه ماده کې درج شوی تضمين اړين وګڼل شي چې اندازه يې د وخت په تېرېدو سره بدلون ومومي، ددې تضمين اندازه پداسې ډول ټاکل کېږي چې ګمرکي دين په هر وخت کې تحصيل کېدای شي.

## ضامن

### يوسلو پنځه پنځوسمه ماده:

هغه شخص د ضامن په توګه منل کېږي چې د لاندې اوصافو لرونکی وي:

۱- په افغانستان کې استوګن وي. خو

مبلغ آن حين تضمين طور يقينی تثبيت گرديده باشد، مگر اينکه در اسناد تقنينی گمرکی طور ديگر پيش بينی شده باشد.

۲- مطابق حد اعظم مبلغ دين گمرکی که توسط مامورين گمرک تخمين می گردد، مشروط بر اينکه اندازۀ دقيق دين گمرکی تعيين شده نتواند.

(۲) هرگاه برای تحصيل دين گمرکی تضمين مندرج مادۀ يکصد و پنجاه وسوم اين قانون ضروری پنداشته شود و مقدار آن به مرور زمان تغيير يابد، اندازۀ اين تضمين طوری تعيين ميگردد که دين گمرکی در هر زمان تحصيل شده بتواند.

## ضامن

### مادۀ يکصد وپنجاه وپنجم:

شخصی بحيث ضامن پذيرفته می شود که دارای اوصاف ذيل باشد:

۱- در افغانستان مقيم باشد، مگر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې په بین المللي قراردادونو کې چې افغانستان ورسره ملحق شوی، بل ډول اټکل شوي وي.

۲- داسې ضمانت وړاندې کړي چې د ګمرکي دین تضمین شوی مبلغ د ګمرک د مامورینو په منلي وړ ډول ورکړای شي.

۳- داسې ضمانت وړاندې کړي چې د ګمرک د مامور له تصمیم سره سم تر ټاکلې مودې پورې وساتل شي.

## نور تضمینونه

**یوسلو شپږ پنځوسمه ماده:**

د ګمرک مامورین کولای شي، نور تضمینونه ومني، پدې شرط چې د ګمرکي دین په ورکړې کې معادل تأمینات وړاندې کړای شي.

## اضافي تضمینونه

**یوسلو اووه پنځوسمه ماده:**

که چېرې په ګمرکي کړنلاره کې درج په ټاکلې موده کې د ګمرکي دین د ورکړې د تأمینولو لپاره وړاندې شوی تضمین، د ډاډ وړ یا کافي ونه ګڼل شي،

اینکه در قراردادهای بین المللی که افغانستان به آن ملحق شده طور دیگری پیش بینی گردیده باشد.

۲- ضمانتی را ارایه نماید که مبلغ تضمین شدهٔ دین گمرکی به شکل قابل پذیرش مامورین گمرک تأدیه نموده بتواند.

۳- ضمانتی را ارایه نماید که مطابق تصمیم مامور گمرک الی مدت معین نگهداری شده بتواند.

## سایر تضمینات

**مادهٔ یکصد وپنجاه وششم:**

مامورین گمرک می توانند، سایر تضمینات را بپذیرند، مشروط بر اینکه تأمینات معادل را در تأدیه دین گمرکی ارایه نموده بتواند.

## تضمینات اضافی

**مادهٔ یکصد وپنجاه وهفتم:**

هرگاه تضمین ارایه شده جهت تأمین پرداخت دین گمرکی در میعاد معین مندرج طرزالعمل گمرکی قابل اطمینان یا کافی پنداشته نشود، مامورین گمرک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د گمرک مامورين کولای شي مديون د اضافي تضمين يا په خپله خوښه د مخکني تضمين د تعويض په وړانـدې کولو مکلف کړي.

## د تضمين رفع کول

**يوسلو اته پنځوسمه ماده:**

(۱) که چېرې گمرکي دين قسماً اداء شي، د مديون د غوښتنې پربنسـټ، د نغدي تضمين يوهٔ برخه گمرکي مديون ته بېرته ورکول کېږي، پدې شرط چې د تضمين پاتې مقدار د دين د اداء کولو لپاره کافي وي.

(۲) که چېرې گمرکي دين چـې پـه هکله يې تضمين وړاندې شـوی، اداء شي، غير نغدي تضمين بې له ځنډه رفع او نغدي وجه بېرته ورکول کېږي.

## د مالونو پـر مجـاز وارداتـو او صادراتو گمرکي دين

**يوسلو نهه پنځوسمه ماده:**

(۱) گمرکي دين، په هغهٔ صورت کې چې ددې قانون له حکمونو سره سم د مالونو مجاز واردات يا صادرات، آزاد

میتواننـد، مـديون را مکلـف بـه ارايه تضـمين اضـافی يـا تعـويض تضمين قبلی بـه انتخـاب خـودش نمايند.

## رفع تضمين

**مادهٔ يکصد و پنجاه وهشتم:**

(۱) هرگاه ديـن گمرکـی قسـماً اداءگردد، به اساس درخواست مديون، قسمتی از تضمين نقدی بـه مـديون گمرکی باز پرداخـت مـی گـردد، مشروط براينکه مقدار بـاقی مانـدهٔ تضمين برای ادای دين کافی باشد.

(۲) هرگاه دين گمرکی که در مـورد آن تضمين ارايه شـده، اداء گـردد، تضمين غير نقدی بلافاصله رفع و وجه نقدی باز پرداخت می گردد.

## ديـن گمرکـی بـر واردات و صادرات مجاز اموال

**مادهٔ يکصد وپنجاه ونهم:**

(۱) دين گمرکی، در صـورتی کـه واردات يا صادرات مجاز اموال مطابق احکام اين قانون به دوران آزاد ترخيص

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوران ته ترخیص او منل شوی ګمرکي اظهارلیک وړاندې شوی وي، په لاندې حالاتو کې لازمېږي:

۱- ددې قانون د دوه اتیایمې مادې د (۲) فقرې له حکم سره سم، آزاد دوران ته د وارداتي محصول د تابع مالونو ترخیص .

۲- له وارداتي محصول څخه په قسمي معافیت سره، د مؤقت تورید تر پړاو لاندې د مالونو راوستل.

۳- د ګمرکونو تر څارنې لاندې مالونو، په شرط پورې د تړلو مالونو راوستل.

۴- د صادرېدو تر پړاو لاندې د مالونو راوستل.

۵- تر نورو ګمرکي پړاوونو یا موقفونو لاندې د مالونو راوستل چې محصول، حق الزحمه، عوارض، جریمې یا نور پولي التزامات یې په برکې نیولي وي.

(۲) د اجناسو د قانوني تورید او صادرېدو او هغو مالونو چې تر ګمرکي پړاو یا موقف لاندې دي په برخه کې د

و اظهارنامۀ گمرکی قبول شده، ارایه گردیده باشد، در حالات ذیل لازم می گردد:

۱- ترخیص اموال تابع محصول وارداتی به دوران آزاد، مطابق حکم فقرۀ (۲) مادۀ هشتاد و دوم این قانون.

۲- قراردادن اموال تحت مرحله تورید مؤقت با معافیت قسمی از محصول وارداتی.

۳- قراردادن اموال منوط به شرط اموال تحت نظارت گمرکات.

۴- قراردادن اموال تحت مرحله صدور.

۵- قراردادن اموال تحت مرحله یا موقف های دیگر گمرکی که تأدیه محصول، حق الزحمه، عوارض، جریمه ها یا سایر التزامات پولی را در بر داشته باشد.

(۲) عوارض گمرکی قابل پرداخت در زمینۀ تورید و صدور قانونی اجناس و اموالیکه تحت مرحله یا موقف گمرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وركـــړې ورړ ګمركـــي عـــوارض، د اظهارليک له منلو وروسته، وركـــول كيږي. ګمركي محصولات لدې امـــر څخه مستثني دي.**

**(۳) ګمركي دين، د اظهارليک د منلو په صورت كې يا د جريمو د وضع كولو له امله، ددې قانون له حكمونو ســره سم، ګمركي مديون ته له خبر وركولو وروسته واجب الاداء ګرځي.**

**(۴) كه چيرې اظهاروونكى، د ګمركي دين د وركړې لپاره، ددې مادې په (۱) فقره كې له درج شوو حالاتو څخه په يوهٔ كې، ناسم اظهارليـــک ترتيـــب او وړاندې كړي چې د هغې له مخـــې د ګمركي دين ورنكړاى شـــي، پـــدې صورت كې اظهاروونكى د نه وركړل شوي ګمركي دين په وركړې مكلـــف دى.**

**قـــرار دارنـــد، بعـــد از پـــذيرش اظهارنامـــه، پرداختـــه مـــى شـــود. محصولات گمركى از اين امر مستثنى است.**

**(۳) دين گمركى در صورت پـــذيرش اظهار نامه يا بالاثر وضع جريمه هـــا، مطابق احكام اين قانون بعد از اطلاع به مـــديون گمركـــى واجـــب الادء مى گردد.**

**(۴) هرگاه اظهـــار كننـــده، جهـــت تأديـــه ديـــن گمركـــى در يكـــى از حـــالات منـــدرج فقـــرهٔ (۱) ايـــن مـــاده اظهـــار نامـــهٔ نادرســـت را ترتيب وارايه نمايـــد كـــه بـــالاثرآن دين گمركى تأديـــه شـــده نتوانـــد، در اين صورت اظهار كننده مكلف به تأديه ديـــن گمركـــى تأديـــه نشـــده مى باشد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له څارنې څخه د مـــالونو د غيـــر مجاز ايستلو(بهرکولو) په وخـــت کې ګمرکي دين**

**يوسلو شپېتمه ماده:**

له ګمرکي څارنې څخه د محصول تابع غير مجاز مالونو د ايستلو په حالت کې ګمرکي دين واجب الاداء دی او لاندې اشخاص د هغهٔ په ورکړې مکلف دي:

۱- هغه شخص چې مالونه يـــې لـــه ګمرکي څارنې څخه له اجازې پرتـــه ايستلي وي.

۲- هغه شخص چې د ايستلو په پروسه کې برخوال وي او له هغې څخه دمخه خبروي.

۳- هغه شخص چې له ګمرکي څارنې څخه د محصول تابع مالونه يې ترلاسه يا تصرف کړي او د ترلاسه کولـــو او تصرف پر وخت، له ګمرکي څـــارنې څخه د هغو د غير مجاز ايستلو په هکله خبر وي.

**ديـــن گمرکـــی حـــين خـــروج غيـــــر مجـــــاز امـــــوال از نظارت**

**مادهٔ يکصد وشصتم:**

دين گمرکی درحالت خروج غير مجاز اموال تابع محصول ازنظارت گمرکی واجب الادأبوده و اشخاص ذيل مکلف به تأديه آن می باشند:

۱-شخصی که اموال را از نظـــارت گمرکـــی بـــدون اجـــازه خـــارج نموده باشد.

۲- شخصی که در عمليهٔ خروج سهيم بوده و از آن آگـــاهی قبلـــی داشـــته باشد.

۳- شخصـــی کـــه امـــوال تـــابع محصول از نظارت گمرکی را حصول يا تصرف نمـــوده و حـــين حصـــول يا تصرف در مورد خروج غير مجـــاز آن از نظـــارت گمرکـــی آگـــاه باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دین نه الزامیت

**یوسلو یو شپېتمه ماده:**

تر ګمرکي څارنې لاندې مالونو باندې ګمرکي دین، په لاندې حالاتو کې نه لازمېږي:

۱- هغه مالونه چې د غیر مترقبه پېښو د پېښېدو په علت له منځه تللي وي.

۲- هغه مالونه چې ددې قانون د یوسلو نهه څلوېښتمې مادې له حکم سره سم، د ویجاړېدو (تخریب) یا ترک تر موقف لاندې راشي.

۳- هغه مالونه چې د تبخیر یا نورو عواملو په علت ضایع شوي وي.

۴- ددې قانون په یوسلو شپېتمه ماده کې درج مالونه چې د شخص له کنترول څخه وتلي وي او هغه ثابت کړي.

## د تضامني شرکتونو ضمانت

**یوسلو دوه شپېتمه ماده:**

که چېرې تضامني شرکت د ګمرکي دین ضمانت کړی وي، د هغه ونډه وال (سهم لرونکي) د ګمرکي دین د اداء

## عدم الزامیت دین

**مادۀ یکصد وشصت ویکم:**

دین گمرکی بالای اموال تحت نظارت گمرکی، در حالات ذیل لازم نمی گردد:

۱- اموالیکه به علت وقوع حوادث غیر مترقبه از بین رفته باشد.

۲- اموالیکه مطابق حکم مادۀ یکصد وچهل ونهم این قانون، تحت موقف تخریب یا ترک قرار گیرد.

۳- اموالیکه به علت تبخیر یا سایر عوامل ضایع گردیده.

۴- اموال مندرج مادۀ یکصد و شصتم این قانون که از کنترول شخص خارج شده باشد و آنرا ثابت نماید.

## ضمانت شرکت های تضامنی

**مادۀ یکصد وشصت ودوم:**

هرگاه شرکت تضامنی تأدیه دین گمرکی را ضمانت نموده باشد، سهمداران آن در برابر ادای دین

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو په وړاندې په انفرادي او ټولیزه (جمعي) توګه مسئولیت لري. له ګمرکي دین څخه رامنځته شوې جریمې لدې حکم څخه مستثني دي.

## د ګمرکي دین ټاکل

**یوسلو دري شپېتمه ماده:**

که چېرې د ګمرکي دین د اداء د وجوب وخت، د مالونو د اظهاروونکي د تقصیر په علت، په دقیقه توګه ونه ټاکلی شي، پدې صورت کې اکثر حد محصول چې په ټاکلې موده کې، د ورکړې وړ وي، د مالونو په هکله تطبیقیږي.

## د دین ثبت

**یوسلو څلور شپېتمه ماده:**

(۱) د مالونو ګمرکي محصول، د هغهٔ د ورکړې په اړه د اظهارلیک له منلو سره په یوهٔ وخت، محاسبه کېږي.

که چېرې د مالونو د بیې د ټاکلو لپاره زیات معلومات لازم وي، د ګمرک مامورین مکلف دي، د ګمرکي اظهارلیک له منلو وروسته د (۴۸)

---

ګمرکی طور انفرادی و جمعی مسئولیت دارند. جریمه های ناشی از دین ګمرکی، از این حکم مستثنی می باشد.

## تعیین دین ګمرکی

**مادهٔ یکصد وشصت وسوم:**

هرګاه زمان وجوب ادای دین ګمرکی به علت تقصیر اظهارکنندهٔ اموال، طور دقیق تعیین شده نتواند، در این صورت حد اکثر محصول که در میعاد معین، قابل تأدیه باشد، درمورد اموال تطبیق می ګردد.

## ثبت دین

**مادهٔ یکصد وشصت و چهارم:**

(۱) محصول ګمرکی اموال همزمان با پذیرش اظهارنامه مبنی بر تأدیه آن، محاسبه می ګردد.

هرګاه برای تعیین قیمت اموال معلومات بیشتر لازم باشد، مامورین ګمرک مکلف اند، در خلال (۴۸) ساعت بعد از پذیرش اظهارنامهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساعتونو په ترڅ کې يا د ګمرکي مالونو په بيې پورې په اړونده کړنلاره کې په درج شوې موده کې، د دين انـــدازه و ټاکي د ګمرکي محصول اندازه له ځنډه پرته له محاسبې وروسته ثبتېږي.

(۲) ګمرکي محصول ددې قـــانون د اووه اويايمې مادې له حکم سره ســـم آزاد دوران ته د مالونو له ترخيص يا د محصول د ورکړې له نورو نغـــاړونکو پړاوونو څخه له ترخيص دمخه، محاسبه او ثبتېږي، خو دا چې پدې قانون يـــا اړونده کړنلاره کې، بل ډول تصـــريح شوي وي.

(۳) ګمرکي محصول لـــه ګمرکـــي پړاوونو څخه تر يوهٔ لاندې لـــه نيـــول کېدو وروسته، له هغې نېټې څخه چې د ګمرک مامورينو د دين د اندازې او د مديون د تشخيص لپاره کافي معلومات ترلاسه کړي دي، د (۴۸) ساعتونو په ترڅ کې ثبتېږي.

(۴) د ګمرک مامورين مکلف دي، د ګمرکي دين د ثبت د ځنډ دلايل، پـــه واضحه توګه وړاندې کړي.

ګمرکی يا ميعاد منـــدرج طرزالعمـــل مربوط به تعيين قيمت گمرکی اموال، اندازهٔ دين را تعيين نماينـــد. انـــدازهٔ محصول گمرکی بلافاصـــله بعـــد از محاسبه ثبت می گردد.

(۲) محصول گمرکی مطـــابق حکـــم مادهٔ هفتاد وهفتم اين قـــانون قبـــل از ترخيص اموال به دوران آزاد يا ترخيص از ساير مراحل در برگيرنـــدهٔ تأديـــه محصـــــول، محاســـــبه و ثبـــــت می گردد، مگر اينکه در اين قانون يا طرز العمل مربوط طور ديگری تصريح شده باشد.

(۳) محصول گمرکی بعـــد از قـــرار گرفتن اموال تحت يکـــی از مراحـــل گمرکی، در خلال (۴۸ )ســـاعت از تاريخی که مامورين گمرک معلومات کافی را برای تعيين انـــدازهٔ ديـــن و تشخيص مديون در يافت نموده انـــد، ثبت می گردد.

(۴) مامورين گمرک مکلف اند، دلايل تأخير ثبت دين گمرکی را طور واضح ارايه نمايند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حسابونو په ثبت کې تفاوت

### یوسلو پنځه شپېتمه ماده:

(۱) که چېرې ګمرکي دين، واجب الاداء دين ته په پام کم (لږ) محاسبه او ثبت شوی وي، د ګمرک مامورين مکلف دي، د خبرېدو له نېټې څخه د (۴۸) ساعتونو په ترڅ کې، ټول دين تحصيل او ددې قانون د يوسلو څلورشپېتمې مادې له حکم سره سم هغه محاسبه او ثبت کړي.

(۲) که چېرې د ګمرکي تعرفې د نرخ فيصدي بدلون ومومي، دغه بدلون د هغو مالونو په هکله د تطبيق وړ دی چې د هغو محصول بانک ته تحويل شوی نه وي.

هغه مالونه چې د ګمرکي محصول په معادل تضمين له ګمرک څخه وتلي وي (ايستل شوي وي) د ګمرکي تعرفې د نرخ فيصدی د بدلون تابع ندي.

## د دين د ثبت خبرتيا

### یوسلو شپږشپېتمه ماده:

(۱) د ګمرک مامورين مکلف دي، په

## تفاوت در ثبت حسابات

### مادۀ يکصد وشصت وپنجم:

(۱) هرگاه دين گمرکی نظر به دين واجب الادا کمترمحاسبه و ثبت گرديده باشد، مامورين گمرک مکلف اند، در خلال (۴۸) ساعت از تاريخ آگاهی، تمام دين را تحصيل و مطابق حکم مادۀ يکصد و شصت وچهارم اين قانون آنرا محاسبه و ثبت نمايند.

(۲) هرگاه فيصدی نرخ تعرفۀ گمرکی تغيير يابد، اين تغيير در مورد اموالی قابل تطبيق است که محصول آن تحويل بانک نشده باشد.

اموالیکه به تضمين معادل محصول گمرکی از گمرک خارج شده باشد، تابع تغيير فيصدی نرخ تعرفه گمرکی نمی باشد.

## اطلاعيۀ ثبت دين

### مادۀ يکصد وشصت وششم:

(۱) مامورين گمرک مکلف اند،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسابونو کې د محصول له ثبت سره په یوځ وخت، مدیون ته لـه اړونـدې کړنلارې سره سم، خبر ورکړي، مدیون خبرتیا یوازې په هغو حالاتو کې صورت مومي چې په اظهارلیک کې ټاکل شوې اندازه، د ګمرک د ادارې د مامورینو په واسطه له تثبیت شوې اندازې سره تفاوت ولري.

(۲) له هغې نېټې څخه چې دین لازم شوی دی د دریو کلونو لـه تېرېدو وروسته د ګمرکي دین بیا ټاکل، د اعتبار وړ ندي.

## د ګمرکي دین تصفیه او اسقاط

**یوسلو اووه شپېتمه ماده:**

ګمرکي دین له لاندې حالاتو څخه پـه یوځ کې تصفیه یا ساقطېږي:

۱– په هغهٔ صورت کې چې ددې قانون په یوسلو اته شپېتمې تر یوسلو یو اویایمې مادو کې له درج شوو حکمونو سره سم، د هغهٔ بشپړې ورکړې صورت موندلی وي.

۲– په هغه صورت کې چې ددې قانون

همزمان با ثبت محصول در حسابات، مدیون را مطابق طرز العمل مربوط اطلاع دهند. اطلاعیه به مدیون صرف در حالاتی صورت می گیرد که اندازهٔ تعیین شده در اظهارنامه با اندازهٔ تثبیت شده توسط مامورین ادارهٔ گمرک تفاوت داشته باشد.

(۲) تعیین مجدد دین گمرکی بعد از مرور سه سال از تاریخی که دین لازم گردیده است، مدار اعتبار نمی باشد.

## تصفیه و اسقاط دین گمرکی

**مادهٔ یکصد وشصت وهفتم:**

دین گمرکی دریکی از حالات ذیل تصفیه یا ساقط می گردد:

۱–درصورتیکه مطابق احکام مندرج مواد یکصد وشصت وهشتم الی یکصد وهفتاد ویکم این قانون پرداخت کامل آن صورت گرفته باشد.

۲–درصورتی که مطابق احکام مندرج

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوسلو دوه اویایمې تر یوسلو پنځـه اویایمې مادو کې د درج شوو حکمونو مطابق د هغه بېرته ورکړې (بازپرداخت) صورت موندلی وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې ددې قانون په دوه اویایمه یا اتیایمه ماده کې لـه درج شوو حکمونـو سـره سـم، د محصول د ورکړې پـه اړه ګمرکـي اظهارلیک باطل یا لغو شوی وي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې مالونـه مصادره یا تخریب شوي وي.

۵- ددې قانون د یوسلو شپېتمې مادې په (۱، ۲ او ۳) اجزاوو کې په درج شوو حالاتو کې.

## د ګمرکي دین د ورکړې وخت

**یوسلو اته شپېتمه ماده:**

(۱) مدیون مکلف دی، د خبرتیا لـه ترلاسه کولو وروسته، ګمرکي دین چې ددې قانون د یوسلو شپږ شپېتمې مادې له حکم سره سم، د هغهٔ خبرتیـا تـه رسول شوی دی، په خبرتیا کې په درج شوې موده کې ورکړي.

مواد یکصـد و هفتـاد و دوم الـی یکصد وهفتـادوپنجم ایـن قـانون بـاز پرداخـت آن صـورت گرفتـه باشد.

۳-درصورتی که مطابق احکام مندرج مواد هفتاد و دوم یـا هشـتادم ایـن قـانون اظهارنامـهٔ گمرکـی مبنـی بر پرداخت محصول باطل یـا لغـو گردیده باشد.

۴-در صورتی که اموال مصادره یـا تخریب گردیده باشد.

۵- در حـالات منـدرج اجـزای (۱، ۲ و ۳) مادهٔ یکصد و شصتم این قانون.

## میعاد پرداخت دین گمرکی

**مادهٔ یکصد وشصت وهشتم:**

(۱) مدیون مکلـف اسـت، بعـد از دریافت اطلاعیه، دین گمرکی را کـه مطابق حکم مادهٔ یکصـد و شصـت وششم این قانون به اطلاع وی رسانیده شده است، در میعاد مندرج اطلاعیـه تأدیه نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې قانون په يوسلو نهه شپېتمه مـاده کې درج شوی حکم لدې امر څخه مستثني دی.

(۲) که چېرې خبرتيا په ټاکلي وخت گمرکي مديون ته ونه رسېږي، د ورکړې موده تمديد شوې گڼل کېږي.

(۳) د گمرک مامورين کولای شي، د مديون د غوښتنې پربنسټ، ټاکله شوې موده، ددې قانون په يوسلو پنځه شپېتمه ماده کې د درج شوي حالت له په پام کې نيولو سره تر لسو ورځو پورې تمديد کړي.

## د دين په ورکړه کې ځنډ

### يوسلو نهه شپېتمه ماده:

(۱) د ماليې وزارت کولای شي، د گمرکي دين په کلي يا قسمي ورکـړه کې ځنډ، له اړوندې کړنلارې سره سم، منظور کړي، پدې شرط چې گمرکي مديون پدې برخه کې تضمين وړاندې او د ځنډ موده د اضافي مبلغ له ورکړې پرته له (۳۰) ورځو څخه زياته

حکم مادهٔ يکصد وشصت ونهم اين قانون از اين امر مستثنی است.

(۲) هرگاه اطلاعيه در ميعاد معينه به مديون گمرکی مواصلت ننمايد، ميعاد پرداخت تمديد شده محسوب می گردد.

(۳) مامورين گمرک می توانند، به اساس تقاضای مديون، ميعاد تعيين شده را با نظر داشت حالت مندرج مادهٔ يکصد و شصت وپنجم اين قانون الی ده روز تمديد نمايند.

## تأخير در تأديه دين

### مادهٔ يکصد وشصت ونهم:

(۱) وزارت ماليه ميتواند، تأخير در تأديه کلی يا قسمی دين گمرکی راطبق طرزالعمل مربوط منظور نمايد، مشروط بر اينکه مديون گمرکی در زمينه تضمين را ارايه و ميعاد تأخير بدون تأديه مبلغ اضافی از (۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي، په هغهٔ صورت کې چې متعدد ګمرکي ديون تر ټاکلې مودې پورې د ورکړې وړ وګرځي، د هغو ځنډول په اوسط ډول له (۳۰) ورځو څخه زياتېدای نشي.

(۲) که چېرې ګمرکي دين، ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم سره سم، په ټاکلي وخت ورنکړل شي، مديون د هرې ورځې ځنډ پر وړاندې د (۱ ۰ ، ۰) فيصد اضافي مبلغ پر ورکړې مکلف دی.

## د دين د ورکړې ډول

**يوسلو اويايمه ماده:**

(۱) د دين ورکړه د بانکي انتقالاتو يا په ګمرکي تقنيني سندونو کې د بل سند په وسيله صورت موندلای شي.

(۲) نور اشخاص کولای شي، د مديون په عوض، ګمرکي دين اداء کړي.

(۳) که چېرې تأديه ورکوونکی، ددې قانون په اته پنځوسمه ماده کې درج

روز بيشتر نباشد. درصورتی که ديون گمرکی متعدد طی ميعاد معين قابل پرداخت گردد، تأخير آن بطور اوسط از ( ۳۰ ) روز بيشتر بوده نمی تواند.

(۲) هرگاه دين گمرکی طبق حکم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده در مدت معين تأديه نگردد، مديون مکلف به پرداخت (۰,۰۱) فيصد مبلغ اضافی در برابر هر روز تأخير می باشد.

## طرز تأديه دين

**مادهٔ يکصد وهفتادم:**

(۱) پرداخت دين از طريق انتقالات بانکی يا به وسيله سند ديگر مندرج اسناد تقنينی گمرکی صورت گرفته می تواند.

(۲) ساير اشخاص می توانند، به عوض مديون، دين گمرکی را اداء نمايند.

(۳) هرگاه تأديه کننده، شخص مندرج مادهٔ پنجاه وهشتم اين قانون باشد، به

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی شخص وي، د ګمرک د اداري په تشخيص د دين ورکړه په نغدي ډول صورت مومي.

**په ټاکلي وخت د دين نه ورکړه**

**يوسلو يو اويايمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې ګمرکي مديون خپل دين په ټاکلي وخت اداء نکړي، د ګمرک اداره کولای شي، د هغهٔ منقول او غير منقول ثبت شوی ملکيت تر خپل تضمين لاندې راولي او له موضوع څخه د ملکيت د ثبت دفترونو يا بانکونو ته خبر ورکړي. نوموړی ملکيت د دين تر ورکړې پورې تر تضمين لاندې نيول کيږي.

(۲) د ګمرک اداره د ګمرکي دين په تحصيل کې، د قانون له حکمونو سره سم، نسبت نورو داينينو ته د لومړيتوب حق لري.

**له دين څخه زياته بېرته ورکړه (بازپرداخت)**

**يوسلو دوه اويايمه ماده:**

(۱) که چېرې ګمرکي دين، د مديون د

تشخيص ادارهٔ گمرک تأديه دين طور نقدی صورت می گيرد.

**عدم تأديه دين در ميعاد معينه**

**مادهٔ يکصد وهفتاد ويکم:**

(۱) درصورتی که مديون گمرکی دين خود را در ميعاد معينه اداء ننمايد، ادارهٔ گمرک می تواند، ملکيت منقول و غير منقول ثبت شدهٔ وی را تحت تضمين خويش قرار داده و از موضوع به دفاتر ثبت ملکيت يا بانک ها خبر دهد. ملکيت مذکور الی تأديه دين تحت تضمين قرار می گيرد.

(۲) ادارهٔ گمرک در تحصيل دين گمرکی مطابق احکام قانون نسبت به ساير داينين، حق اولويت را دارد.

**باز پرداخت بيشتر از دين**

**مادهٔ يکصد وهفتاد ودوم:**

(۱) هرگاه دين گمرکی بيشتر از دين

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذمت له دین څخه زیات ورکړل شوی وي، تفاوت يې هغه ته، بېرته ورکول کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې بېرته ورکړه د اظهارليک په ابطال يا د اصلاح شوي اظهارليک په وړاندې کولو سره، ددې قانون له دوه اويايمې مادې سره سم د مالونو د دين په هکله د خبرتيا له نېټې وروسته، د دريو کلونو په موده کې صورت موندلای شي.

(۳) د ګمرک اداره مکلفه ده، ددې مادې په (۱ او ۲ ) فقرو کې په درج شوو حالاتو کې ګمرکي دين بېرته ورکړي.

(۴) په هغهٔ صورت کې چې د ګمرکي دين تفاوت، آزاد دوران ته د مالونو له ترخيص وروسته، له ترخيص څخه پس د تصفيې په بهير کې تر دريو کلونو پورې تثبيت شي، مديون د هغهٔ پر ورکړې مکلف دی.

ذمت مدیون تأدیه شده باشد، تفاوت آن به وی بازپرداخت، می گردد.

(۲) باز پرداخت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده با ابطال اظهارنامه یا ارایه اظهارنامهٔ تصحیح شده مطابق مادهٔ هفتاد و دوم این قانون در مدت سه سال بعد از تاریخ اطلاعیه در مورد دین اموال صورت گرفته می تواند.

(۳) ادارهٔ گمرک مکلف است، در حالات مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده دین گمرکی را بازپرداخت نماید.

(۴) درصورتی که تفاوت دین گمرکی بعد از ترخیص اموال به دوران آزاد، الی سه سال در جریان تصفیه بعد از ترخیص تثبیت گردد، مدیون مکلف به پرداخت آن می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ناقصو مالونو بېرته ورکړه

**یوسلو دري اویایمه ماده:**

(۱) هغو مالونو چې له ترخيص دمخه يې زيان ليدلی وي يا د توريد له قرارداد سره مطابقت نلري او اظهاروونکي هغه مسترد کړي وي، يا د مشروطو مجازو مالونو له جملې څخه وي او له اداري اړوندو ادارو څخه د يوې په واسطه د هغو توريد رد شوی وي، د هغو وارداتي محصول بېرته ورکړه، تر دغو شرايطو لاندې صورت مومي:

۱- مالونه تر استفادې لاندې نيول شوي نه وي. د مالونو دناقص والي د اثبات لپاره لومړنی (ابتدايي) استفاده لدې امر څخه مستثني ده.

۲- مالونه صادر يا تر داسې پړاو يا موقف لاندې راشي چې د ګمرکي محصول دورکړې مستلزم نه وي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه، د غير افغاني مالونو په توګه د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه صادرېدای شي.

## بازپرداخت اموال ناقص

**مادۀ یکصد وهفتاد و سوم:**

(۱) اموالی که قبل از ترخیص آسیب دیده یا با قرار داد توريد مطابقت نداشته و اظهارکننده آنرا مسترد نموده یا از جمله اموال مجاز مشروط باشد و توسط یکی از ادارات ذیربط دولتی توريد آن رد گردیده باشد، بازپرداخت محصول وارداتی آن تحت شرايط ذيل صورت می گيرد:

۱- اموال مورد استفاده قرار نگرفته باشد. استفادۀ ابتدائی برای اثبات ناقص بودن اموال از این امر مستثنی است.

۲- اموال صادر یا تحت مرحله یا موقفی قرار گیرد که مستلزم تأدیه محصول گمرکی نباشد.

(۲) اموال مندرج فقرۀ (۱) این ماده بحیث اموال غیر افغانی از قلمرو گمرکی کشور صادر گردیده می تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې د وارداتي محصول بېرته ورکړه، د مديون د غوښتنليک پربنسټ، د ابلاغ له نېټې څخه د دوولس مياشتو په ترڅ کې صورت مومي.

(۴) د محصول بېرته ورکړه، ددې قانون د يوسلو شلمې مادې له حکم سره سم صورت موندلای شي.

**د بېرته ورکړې وړ مبلغ حدود**

**يوسلو څلور اويايمه ماده:**

ګمرکي محصول په هغهٔ صورت کې بېرته ورکول کېږي چې اندازه يې له يو زر افغانيو څخه زياته وي، ددې قانون په اته پنځوسمه ماده کې درج تحصيل شوی محصول، لدې امر څخه مستثني دی.

**په بېرته ورکړه کې تېروتنه**

**يوسلو پنځه اويايمه ماده:**

که چېرې ګمرکي دين اشتباهاً ورکړل شوی وي، ګمرکي مديون مکلف دی، له ابلاغ وروسته، هغه مسترد کړي.

(۳) باز پرداخت محصول وارداتی در حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به اساس درخواست مديون درخلال دوازده ماه از تاريخ ابلاغ صورت می گيرد.

(۴) باز پرداخت محصول مطابق حکم مادهٔ يکصد وبيستم اين قانون صورت گرفته می تواند.

**حدود مبلغ قابل بازپرداخت**

**مادهٔ يکصد وهفتاد و چهارم:**

محصول گمرکی در صورتی بازپرداخت ميگردد که اندازهٔ آن بيشتر از يکهزار افغانی باشد، محصول تحصيل شدهٔ مندرج مادهٔ پنجاه و هشتم اين قانون از اين امر مستثنی است.

**اشتباه در بازپرداخت**

**مادهٔ يکصد وهفتاد وپنجم:**

هرگاه دين گمرکی اشتباهاً بازپرداخت گرديده باشد، مديون گمرکی مکلف است، بعد از ابلاغ آنرا مسترد نمايد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیارلسم فصل

## ګمرکي سرغړونې(تخلفات)

### د محافظت او خاصو تنفیذي عملیاتو قطعه

**یوسلو شپږ اویایمه ماده:**

(۱) ددې قانون په حکمونو کې له درج شوو سرغړونو څخه د مخنیوي، د هېواد په قلمرو کې د هغو د مرتکبینو د پېژندلو او نیولو او د ګمرکي ساحو د امنیت د تأمین په منظور، د مالیې وزارت په چوکاټ کې، د محافظت او خاصو تنفیذي عملیاتو قطعه جوړېږي.

(۲) د محافظت او خاصو تنفیذي عملیاتو د قطعې د افسرانو او ساتنمنانو تقرر، استخدام، تبدیلي، ترفیع، مکافات، تأدیب، انفصال، استعفي، تقاعد او نورې اړوندې چارې، د قانون له حکمونو سره سم، صورت مومي.

(۳) د کورنیو چارو د وزارت پولیس مکلف دي د ګمرکونو د لوی ریاست د لیکلې یا شفاهي غوښتنې پربناء، د محافظت او خاصو تنفیذي عملیاتو د

## فصل سیزدهم

## تخلفات گمرکی

### قطعهٔ محافظت و عملیات خاص تنفیذی

**مادهٔ یکصد وهفتاد وششم:**

(۱) به منظور جلوگیری از تخلفات مندرج احکام این قانون، شناسائی و دستگیری مرتکبین آن در قلمرو گمرکی کشور، محافظت و تأمین امنیت ساحات گمرکی، قطعهٔ محافظت و عملیات خاص تنفیذی در چوکات وزارت مالیه ایجاد می گردد.

(۲) تقرر، استخدام، تبدیلی، ترفیع، رخصتی، مکافات، تأدیب، انفصال، استعفاء، تقاعد و سایر امور به افسران و ساتنمنان قطعهٔ محافظت و عملیات خاص تنفیذی طبق احکام قانون صورت می گیرد.

(۳) پولیس وزارت امور داخله مکلف است، بنا بر درخواست کتبی یا شفاهی ریاست عمومی گمرکات با کارکنان قطعهٔ محافظت و عملیات خاص تنفیذی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطعې له کارکوونکو سره د دندو پــه بهير کې همکاري وکړي.

(۴) د محافظت او خاصــو تنفيــذي عملياتو د قطعې د فعاليت ډول او پــه هغې پورې نورې اړوندې چارې په جلا مقرره کې تنظيمېږي.

## ګمرکي سرغړونې

**يوسلو اووه اويايمه ماده:**

پدې قانون او نورو ګمرکــي تقنينــي سندونو کې له درج شوو حکمونو څخه سرغړونې، دوه ډوله دي:

۱- ګمرکي اداري ســـرغړونې: ددې قانون د يوسلو دري اتيايمې مادې حکم لدې امر څخه مستثني دی.

۲- د مالونو قاچاق: پدې فصل کې له درج شوو حکمونو سره سم.

## ګمرکي اداري سرغړونې

**يوسلو اته اويايمه ماده:**

(۱) ګمرکي اداري سرغړونې په لاندې دريو کټګوريو وېشل کېږي:

۱- د لومړۍ کټګورۍ سرغړونې.

۲- د دوه يمې کټګورۍ سرغړونې.

---

در جريـــان وظـــايف همکـــاری نمايد .

(۴) طرز فعاليت قطعـۀ محافظـــت و عمليات خاص تنفيذی و ساير امـــور مربوط به آن در مقررۀ جداگانه تنظيم می گردد.

## تخلفات گمرکی

**مادۀيکصد وهفتاد وهفتم:**

تخلفات از احکام مندرج اين قانون و ساير اسناد تقنينی گمرکی، به دو نوع ذيل می باشد:

۱- تخلفات اداری گمرکی: حکـــم مادۀ يکصد وهشتاد و سوم اين قانون از اين امر مستثنی است.

۲- قاچاق اموال: مطابق احکام مندرج اين فصل .

## تخلفات اداری گمرکی

**مادۀ يکصد وهفتاد وهشتم:**

(۱) تخلفات اداری گمرکی بـــه ســـه کتگوری ذيل تصنيف می گردد:

۱- تخلفات کتگوری اول.

۲- تخلفات کتگوری دوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- د دریيمې کټګورۍ سرغړونې.**

**(۲) د لومړۍ کټګورۍ سرغړونې په لاندې ډول دي:**

**۱- ددې قانون د نهه څلویښتمې مادې په (۲) فقره، د دوه پنځوسمې مادې په (۳) فقره، د څلورشپېتمې مادې په (۱) فقره، د اته شپېتمې مادې په (۱) فقره، شپږنوي یمې ، یوسلو دریيمې، یوسلو یوولسمې، یوسلو اووه ویشتمې او یوسلو دري دېرشمې مادې په حکمونو کې په درج شوو اجراآتو کې ځنډ چې د هغو مرتکب د هرې(فی) ورځې په وړاندې یا له ورځې څخه د هغې برخې د اندازې یا هغې اندازې معادل چې د حالاتو له په پام کې نیولو سره د مالیې وزارت په واسطه عنداللزوم ټاکل کېږي په ګمرکي اړونده کړنلاره کې د درج شوې جریمې په ورکړې مکلف دی.**

**۲- ددې قانون د اته پنځوسمې مادې د (۱) فقرې، د یویشتمې مادې (۱) فقرې، د اتیایمې مادې (۱) فقرې، شپږنوي یمې او نهه نوې یمې مادو د حکمونو د مغایرو د مالونو د کیفیت،**

**۳-تخلفات کتگوری سوم.**

**(۲) تخلفات کتگوری اول قرار ذیل است:**

**۱- تأخیر در اجراآت مندرج احکام فقرهٔ (۲) مادهٔ چهل ونهم، فقرهٔ (۳) مادهٔ پنجاه ودوم، فقره (۱) مادهٔ شصت و چهارم، فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت وهشتم، مواد نود وششم، یکصد وسوم، یکصد ویازدهم، یکصدو بیست وهفتم و یکصد وسی وسوم مندرج این قانون که مرتکب آن مکلف به پرداخت جریمهٔ مندرج طرز العمل مربوط گمرکی در برابر فی روز یا اندازهٔ معادل برای حصه از روز یا اندازهٔ که با درنظر داشت حالات توسط وزارت مالیه عندالزوم تعیین گردد، می باشد.**

**۲- ارایهٔ معلومات نامکمل وغیر دقیق در مورد کیفیت، کمیت و قیمت یا منشاء اموال مغایر احکام مواد فقرهٔ (۱) مادهٔ پنجاه وهشتم، فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت و یکم، فقره (۱) مادهٔ هشتادم،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمیت یا منشاء په هکله د نابشپړو او نا دقیقومعلوماتو وړاندې کول په هغهٔ صورت کې چې په کیفیت، کمیت یا بیه (قیمت) کې اختلاف په اظهارلیک یا نورو ګمرکي سندونو کې درج د کمیت، کیفیت یا بیې له (۵) فیصده څخه کم (لږ) وي، مرتکب ته یې لیکلی اخطار ورکول کېږي.

که چېرې ګمرکي محصول د اظهارلیک پرمخ (په رویت) سره محاسبه شي او د (۵) فیصده په اندازه یا له اصلي مبلغ څخه زیات کم وي، مرتکب یې په لاندې توګه جریمه کېږي:

- له (۱۰ څخه تر ۲۰) فیصده پورې کسر په صورت کې، د کسر دوه برابره.
- له (۲۱ څخه تر ۴۰) فیصده پورې کسر په صورت کې، د کسر درې برابره.
- له (۴۱ څخه تر ۶۰) فیصده پورې کسر په صورت کې، د کسر څلور برابره.

مواد نود و ششم ونود و نهم این قانون در صورتی که اختلاف در کیفیت، کمیت یا قیمت کمتر از (۵) فیصد کمیت، کیفیت یا قیمت مندرج اظهارنامه یا سایر اسناد گمرکی باشد، به مرتکب آن اخطار تحریری داده می شود.

هرگاه محصول گمرکی به رویت اظهارنامهٔ گمرکی محاسبه گردد و به اندازهٔ (۵) فیصد یا بیشتر ازمبلغ اصلی کمتر باشد، مرتکب آن طور ذیل جریمه می گردد:

- در صورت کسر (۱۰ الی ۲۰) فیصد، دو برابر کسر.
- در صورت کسر (۲۱ الی ۴۰) فیصد، سه برابر کسر.
- در صورت کسر (۴۱ الی ۶۰) فیصد، چهار برابر کسر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



– له (٦١ څخه تر ۸۰) فیصده پورې کسر په صورت کې، د کسر پنځه برابره.
– له (۸۱ څخه تر ۱۰۰) فیصده پورې کسر په صورت کې، د کسر شپږ برابره.
په هغهٔ صورت کې چې سرغړونه د ترانزیت په پړاو کې صورت ومومي، دغه مجازات یوازې له لیکلي اخطارڅخه وروسته د سرغړونې د تکرار په صورت کې، تطبیقېږي.
په نورو حالاتو کې د سرغړونې د تکرار په صورت کې، مرتکب د ګمرکي محصول د کسر شوي مبلغ له یوهٔ څخه تر دوه چنده پورې دمعادل جریمې پر ورکړې مکلف کېږي، پدې شرط چې د مخه ورته اخطار ورکول شوی وي.
۳- په هغهٔ صورت کې چې ثابته شي، د غلطو معلوماتو وړاندې کول دې د محاسباتي تېروتنو له امله یا له ښه نیت سره یوځای د اظهارلیک د ترتیب پر وخت صورت موندلی وي، د ګمرک مامورین کولای شي، پدې فقره کې

– در صورت کسر (٦١ الی ۸۰) فیصد، پنج برابر کسر.
– در صورت کسر (۸۱ الی ۱۰۰) فیصد، شش برابر کسر.
در صورتیکه تخلف در مرحله ترانزیت صورت گیرد، این مجازات صرف در صورت تکرار تخلف بعد از اخطار تحریری، تطبیق می گردد.
در صورت تکرار تخلف در سایر حالات، مرتکب مکلف به پرداخت جریمه معادل یک الی دو چند مبلغ کسر شده محصول گمرکی می باشد، مشروط بر اینکه قبلاً برایش اخطار داده شده باشد.
۳- در صورتی که ثابت گردد، ارایهٔ معلومات غلط بالاثر اشتباهات محاسباتی یا توأم با حسن نیت حین ترتیب اظهارنامهٔ گمرکی صورت گرفته باشد، مامورین گمرک میتوانند جریمه و اخطار مندرج این

(c) ketabton.com: The Digital Library



درج شوې جريمه او اخطار لغو کړي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې له ګمرک څخه د مالونو له ترخيص وروسته، تثبيت شي چې د ګمرک مامورينو د مالونو د کيفيت، کميت او منشاء په هکله نابشپړ او نا دقيق معلومات منلي وي، د عدلي تعقيب په غرض واکمنو مراجعو ته معرفي کېږي.

(۳) د دوه يمې کټګورۍ سرغړونې په لاندې ډول دي:

۱- ددې قانون د شلمې، نهه پنځوسمې او يوشپېتمې مادو له حکمونو څخه سرغړونه چې مرتکب ته يې د ګمرک د مامورينو لخوا د اصلاح په اړه اخطار او لارښوونه په ليکلې توګه صادر خو په ټاکلې موده کې، اخطار رعايت نکړي.

۲- ددې قانون په دوه پنځوسمه ماده، د دوه شپېتمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو حکمونو يا د ګمرک تر څارنې يا تر پلټنې (بازرسۍ) لاندې مالونو په هکله د ګمرک د مامورينو د لارښوونو نه رعايتول يا د اته څلوېښتمې

فقره را لغو نمايند.

۴- در صورتی که بعد از ترخيص اموال از گمرک،تثبيت گردد که مامورين گمرک در مورد کيفيت، کميت يا منشاء اموال معلومات نامکمل و غير دقيق را پذيرفته باشند، غرض تعقيب عدلی به مراجع ذيصلاح معرفی می گردند.

(۳) تخلفات کتگوری دوم قرار ذيل است:

۱- تخلف از احکام مواد بيستم، پنجاه و نهم و شصت و يکم اين قانون که برای مرتکب آن از طرف مامورين گمرک اخطار و هدايت مبنی بر اصلاح طور کتبی صادر ولی در مدت تعيين شده، اخطار را رعايت ننمايد.

۲- عدم رعايت احکام مندرج مادهٔ پنجاه ودوم، فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت ودوم يا هدايات مامورين گمرک در مورد اموال تحت نظارت ويا تحت بازرسی گمرک يا تخلف از فقرهٔ (۵) مادهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادې له (۵) فقرې او د دوه شپېتمې مادې له (۲) فقرې څخه سرغړونه.

۳- غیر مجاز ځای (محل) ته ددې قانون د اووه څلوېښتمې مادې په (۵) فقره، اته څلوېښتمه او نهه څلوېښتمه مادو، د یو پنځوسمې مادې په (۱) فقره، شپږنوي یمه، نهه نوي یمه، یوسلو اته دېرشمه او یوسلو اووه څلوېښتمه مادو کې د درج شوو ګمرکي مالونو لېږدول (انتقال).

۴- د ګمرک مامورین چې ددې فقرې په (۱، ۲ او ۳) اجزاوو کې د درج شوو حکمونو په تطبیق کې سرغړونه وکړي یا یې پداسې ډول عمل کړی وي چې د واردوونکي په ګټه تمام شي او دعوایدو کسر منځته راوړي.

(۴) د درېیمې کټګورۍ سرغړونې په لاندې ډول دي:

۱- ګمرک ته له ترجیحي تعرفې څخه د استفادې لپاره د حقایقو د ناسم او عمدي اظهارلیک وړاندې کول.

۲- ددې قانون د دري شپېتمې مادې د (۲) فقرې، شپږ اویایمې مادې او دري

چهل و هشتم و فقرهٔ (۲) مادهٔ شصت و دوم این قانون.

۳- انتقال اموال گمرکی مندرج فقرهٔ (۵) مادهٔ چهل و هفتم، مواد چهل و هشتم و چهل و نهم، فقرهٔ (۱) مادهٔ پنجاه ویکم، مواد نود وششم، نود و نهم، یکصد و سی وهشتم و یکصد و چهل وهفتم مندرج این قانون را به محل غیر مجاز.

۴- مامورین گمرک که در تطبیق احکام مندرج اجزای (۱ ،۲ و۳) این فقره تخلف ورزند یا به نحوی عمل کرده باشند که به نفع وارد کننده، تمام شده و کسر عواید را به میان آورد.

(۴) تخلفات کتگوری سوم قرار ذیل است:

۱- ارایهٔ اظهارنامهٔ نادرست و عمدی حقایق جهت استفاده از تعرفهٔ ترجیحی به گمرک.

۲- اجراآت مغایر حکم فقرهٔ (۲) مادهٔ شصت وسوم، و مواد هفتاد و ششم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتیایمې، یوسلو نهه څلوېښتمې او یوسلو پنځوسمې مادو د حکم مغایر اجراآت چې د هغو موخه د ګمرکـي تقنیني سندونو د حکمونو له تطبیق څخه مخنیوی وي.

## مجازات

**یوسلو نهه اویایمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې ددې قانون د یوسلو اته اویایمې مادې په (۳) فقره کې درج د دوه یمې کټګورۍ د سرغړونو مرتکب شي، ددې قانون د پنځه ویشتمې مادې د حکم له په پام کې نیولو سره، د ګمرکونو د لوی ریاست له لارښود سره سم د اړوندو مالونو د ارزښت له یو څخه تر پنځو (۱ تر۵) فیصده معادل پورې، نغدي جریمه کېږي.

(۲) هغه شخص چې ددې قانون د یوسلو اته اویایمې مادې په (۴) فقره کې درج د درییمې کټګورۍ د سرغړونو مرتکب شي، ددې قانون د پنځه ویشتمې مادې د حکم له په پام

هشتاد و سوم، یکصد و چهل و نهم و یکصد و پنجاهم این قانون که هدف آن جلوگیری از تطبیق احکام اسناد تقنینی گمرکی باشد.

## مجازات

**مادهٔ یکصد وهفتاد ونهم:**

(۱) شخصی که مرتکب تخلفات کتگوری دوم مندرج فقرهٔ (۳) مادهٔ یکصد وهفتاد وهشتم این قانون گردد، با نظر داشت حکم مادهٔ بیست وپنجم این قانون معادل یک الی پنج (۱الی۵) فیصد ارزش اموال مربوط مطابق رهنمود ریاست عمومی گمرکات، جریمهٔ نقدی می گردد.

(۲) شخصی که مرتکب تخلفات کتگوری سوم مندرج فقرهٔ(۴) ماده یکصد و هفتاد وهشتم این قانون گردد با نظر داشت حکم مادهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نيولو سره د ګمرکونو د لوی رياست له لارښود سره سم د اړوندو مالونو د ارزښت له پنځو څخه تر لس(۵ تر ۱۰) فيصده معادل پورې نغدي جريمه کېږي.

(۳) د ګمرک مامورين چې ددې قانون د يوسلو اته اويايمې مادې په دوه يمه او دريمه کټګوريو کې د درج شوو سرغړونو مرتکب شي، ددې قانون د پنځه ويشتمې مادې د حکم له په پام کې نيولو سره، عدلي تعقيب لپاره واکمنو مراجعو ته معرفي کېږي.

(۴) پدې قانون کې له درج شوو ګمرکي سرغړونو څخه رامنځته شوې نغدې جريمې، د ګمرکي اصل دين د ورکړې خنډ(مانع) نه ګرځي.

متعددې سرغړونې

يوسلو اتيايمه ماده:

هغه شخص چې د ګمرکي اداري متعددو سرغړونو مرتکب شي، د هرې سرغړونې په وړاندې، د جلا جريمې په ورکړې مکلف دی.

بيست و پنجم اين قانون معادل پنج الی ده (۵الی۱۰) فيصد ارزش اموال مربوط مطابق رهنمود رياست عمومی گمرکات، جريمۀ نقدی می گردد.

(۳) مامورين گمرک که مرتکب تخلفات مندرج کتگوری های دوم و سوم مادۀ يکصد وهفتاد وهشتم اين قانون گردند، با نظرداشت حکم مادۀ بيست وپنجم اين قانون غرض تعقيب عدلی به مراجع ذيصلاح معرفی می گردند.

(۴) جريمه های نقدی ناشی از تخلفات گمرکی مندرج اين قانون مانع تأديه اصل دين گمرکی نمی گردد.

تخلفات متعدد

مادۀ يکصد وهشتادم:

شخصی که مرتکب تخلفات متعدد اداری گمرکی گردد، در برابر هر تخلف، مکلف به پرداخت جريمۀ جداگانه می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جریمو تحصیل

**یوسلو یو اتیایمه ماده:**

نغدي جریمې او پدې فصل کې د درج ماحصل عواید، له اړوندې کـړنلارې سره سم تحصیلېږي.

## صلاحیتي اداري مجازات

**یوسلو دوه اتیایمه ماده:**

(۱) پدې قانون کې د درج شوو مالونو قاچاق چې د هغو ارزښت لـه لسـو زرو(۱۰۰۰۰) افغانیو څخه لږ وي، د درېیمې کټګورۍ د سرغړونې په توګه ګڼل کېږي، خو دا چې د جرم حالات په مشدده شرایطو سره ارتکاب شوي وي.

(۲) که د مالونو ارزښت له لسـو زرو (۱۰۰۰۰) افغانیو څخه زیات وي، د ګمرکونو لوی ریاست کولای شـي د سرغړوونکي د غوښتنلیک پربنسټ، د لاندې شرایطو په پام کې نیولو سـره سرغړوونکی له یوځ تر درې برابره پورې نغدي جریمه کړي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د قضـیې

## تحصیل جریمه ها

**مادۀ یکصد وهشتاد ویکم:**

جریمه های نقـدی و سـایر عوایـد ماحصل مندرج این فصل، مطابق طرز العمل مربوط تحصیل می گردد.

## مجازات اداری صلاحیتی

**مادۀ یکصد و هشتاد ودوم:**

(۱) قاچـاق امـوال منـدرج ایـن قانون که ارزش آن کمتر از ده هـزار ( ۱۰۰۰۰) افغانی باشـد، بحیـث تخلـف کتگـوری سـوم پنداشـته می شود، مگر اینکه حـالات جـرم با شرایط مشدده ارتکـاب گردیـده باشد.

(۲) هرگـاه ارزش امـوال بیشـتر از ده هـزار ( ۱۰۰۰۰ ) افغـانی باشد، ریاسـت عمـومی گمرکـات می توانـد بـه اسـاس درخواسـت متخلف، با نظر داشت شـرایط ذیـل متخلف را از یک الی سه برابر جریمهٔ نقدی نماید:

۱- درصورتی که تعقیب عدلی قضیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدلي تعقيب شوی نه وي.
۲- په هغهٔ صورت کې چې په قاچاقو پورې د اړوندو مالونو ګمرکي محصول له شلو زرو (۲۰۰۰۰) افغانيو څخه لږ وي.
۳- په هغهٔ صورت کې چې سرغړوونکی ګمرکي محصول او وضع شوې جريمې ورکړي.
۴- د ماليې وزير کولای شي، پدې فقره کې درج لس زره (۱۰۰۰۰) افغانۍ ، د وزيرانو شوري له تأييد وروسته زياتې يا کمې کړي.
(۳) که چېرې سرغړوونکی ددې مادې په (۲) فقره کې نغدي جريمې ورنکړي، د ګمرک مامورين مکلف دي، سرغړوونکی د عدلي تعقيب په غرض واکمنو مراجعو ته معرفي کړي.
(۴) لاندې حالات د (۱، ۲ او ۳) فقرو په حکمونو کې شامل ندي:
۱- په هغهٔ صورت کې چې د قاچاق عمل، د ګمرکي کارکوونکو، د ګمرک د کمېشن کار يا نورو هغو

آغاز نگرديده باشد.
۲-درصورتی که محصول گمرکی اموال مربوط به قاچاق کمتر از بيست هزار (۲۰۰۰۰) افغانی باشد.
۳- درصورتی که متخلف محصول گمرکی و جريمه های وضع شده را تأديه نمايد.
۴- وزير ماليه ميتواند، مبلغ ده هزار (۱۰۰۰۰) افغانی مندرج اين فقره را بعد از تصويب شورای وزيران تزئيد يا تقليل دهد.
(۳) هرگاه متخلف جرايم نقدی مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده را تأديه نه نمايد، مامورين گمرک مکلف اند، متخلف را غرض تعقيب عدلی به مراجع ذيصلاح معرفی نمايند.
(۴) احکام مندرج فقره های (۱، ۲و ۳) اين ماده شامل حالات ذيل نمی گردد:
۱- درصورتی که عمل قاچاق توسط کارکنان گمرکی، کميشن کار گمرک يا ساير اشخاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاصو په واسطه چې په يو ډول نه يو ډول د هغـو فعاليـت لـه ګمرکـي کارکوونکو سره اړه (ارتباط) ولري.
۲- پـه هغـهٔ صـورت کـې چـې سرغړوونکی، د قاچاق مالونه، د بـل جرمي عمل له لارې لاسته راوړي وي.
۳- په هغهٔ صورت کې چې د قاچاق مالونه، ددې قانون په شپږ شپېتمه ماده کې درج ممنوعه مالونو له جملې څخه وي.
۴- په هغهٔ صورت کې چې شـخص متکرر سرغړوونکی وي.
(۵) که چېـرې درېيمـې کټګـورۍ سرغړونې، ددې مادې په (۴) فقره کې له درج شوو شرايطو څخه له يوهٔ سره يوځای ارتکاب شـوې وي، قضـيه د عدلي تعقيب لپاره واکمنو مراجعو تـه وراندې (محول) کېږي.
(٦) که چېرې سرغړونې ددې مادې په (۴ يا ۵) فقرو کـې لـه درج شـوو شرايطو سره يوځای ارتکاب شوې وي، ددې قانون د يوسلو اووه نوي يمـې مادې په (۱) فقره کـې درج شـوی

که به نحوی از انحاء فعالیت شان بـا کارکنان گمرکـی ارتبـاط داشـته باشد.
۲- درصورتی که متخلـف، امـوال قاچاق را بالاثر عمل جرمی دیگـری بدست آورده باشد.
۳- درصورتی که امـوال قاچـاق از جملـهٔ امـوال ممنوعـه منـدرج مادهٔ شصـت وششـم ایـن قـانون باشد.
۴- درصورتی که شخص، متخلـف متکرر باشد.
(۵) هرگاه تخلفات کتگـوری سـوم توأم بـا یکـی از شـرایط منـدرج فقـرهٔ (۴) ایـن مـاده ارتکـاب گردیده باشد، قضیه جهت تعقیب عدلی بـه مراجـع ذیصـلاح محـول می گردد.
(٦) هرگـاه تخلفـات تـوأم بـا شرایط مندرج فقره هـای (۴ یـا ۵) این ماده ارتکـاب گردیـده باشـد، گـزارش منـدرج فقـرهٔ (۱) مادهٔ یکصد و نود وهفتم این قـانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



رپوټ، په نومورې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شرايطو د ترسره کېدو په هکله، د ګمرک د مامورينو له تصميم سره يو ځای، ضميمه کېږي.

## د جواز لغو

### يوسلو دري اتيايمه ماده:

د ماليې وزارت کولای شي، ددې قانون د نولسمې او شپږ اتيايمې مادې صادر شوي جوازونه د هغو د ورکړې له شرايطو څخه د سرغړونې د تکرار يا شدت په صورت کې لغو کړي.

## د مالونو قاچاق

### يوسلو څلور اتيايمه ماده:

(۱) د لاندې فعاليتونو ترسره کول ددې مادې په مفهوم قاچاق پېژندل کېږي او مرتکب يې ددې قانون له حکمونو سره سم مجازات کېږي:

۱- له ګمرکي پلټنې (بازرسۍ) او څارنې څخه د تېښتې (فرار) او ډډې کولو په منظور، ددې قانون او نورو ګمرکي تقنيني سندونو د حکمونو مغاير د هېواد د ګمرکي قلمرو ته د مالونو

همراه با تصميم مامور ين گمرک در مورد بر آورده شدن شرايط مندرج در مادۀ متذکره، ضميمه می گردد.

## لغو جواز

### مادۀ يکصد وهشتاد وسوم:

وزارت ماليه می تواند، جواز های صادر شدۀ مواد نزدهم و هشتاد و ششم اين قانون را در صورت تکرار يا شدت تخلف از شرايط اعطای آن، لغو نمايد.

## قاچاق اموال

### مادۀ يکصد وهشتاد وچهارم:

(۱) انجام فعاليت های ذيل به مفهوم اين ماده قاچاق شناخته شده و مرتکب آن طبق احکام اين قانون مجازات می گردد:

۱- دخول يا خروج اموال از قلمرو گمرکی کشور مغاير احکام اين قانون و ساير اسناد تقنينی گمرکی به منظور فرار يا اجتناب از بازرسی يا نظارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخلېدل(ننوتل) او خارجېدل.
۲- د واکمنو مقاماتو له اجازې پرته د واردېدو، صادرېدو یا ساتلو په موخه د ممنوعه مالونو حمل او نقل.
۳- د گمرکي محصول له ورکړې پرته په ترانزیت کې د شاملو مالونو پېر او پلور.
(۲) دلاندې فعالیتونو سرته رسول، د تکرار په صورت کې یا پداسې ډول چې د هغو په قصد(نیت) دلالت وکړي، قاچاق پېژندل کېږي:
۱- له هغو مالونو څخه چې ددې قانون د دري اتیایمې مادې له حکم سره سم، له گمرکي دین څخه د کلي یا قسمي معافیت موجب کېږي، د پام وړ استفادې له شرایطو څخه سرغړونه.
۲- ددې قانون د شپږ اویایمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو حکمونو د مغایر مالونو لرل.
۳- د نقلیه وسایلو د تشخیصیه نمبر لرې کول یا په هغهٔ کې تزویر.
۴- د قاچاق وارداتي مالونو پېر، پلور، ساتل او تصرف، پدې شرط چې د هغو

گمرکی .
۲- حمل و نقل اموال ممنوعه به هدف توريد، صدور يا نگهداشت بدون اجازهٔ مقامات ذیصلاح.
۳- خرید و فروش اموال شامل ترانزیت بدون پرداخت محصول گمرکی.
(۲) انجام فعالیت های ذیل، در صورت تکرار یا به صورتی که دلالت به قصد آن را نماید، قاچاق شناخته می شود:
۱- تخلف از شرایط استفادهٔ مورد نظر از اموالیکه مطابق حکم مادهٔ هشتاد وسوم این قانون موجب معافیت قسمی یا کلی از دین گمرکی می گردد.
۲- داشتن اموال مغایر احکام مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ هفتاد و ششم این قانون.
۳- دور نمودن نمبر تشخیصیهٔ وسایل نقلیه یا تزویر در آن.
۴- خرید، فروش، نگهداری و تصرف اموال وارداتی قاچاق، مشروط بر اینکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له قاچاقوالي څخه خبر وي، (که چېرې ګدامدار په ګدام کې د موجودو مالونو د ګمرکي اظهارليک کاپي ونلري، هغه د مالونو له قاچاقوالي څخه خبر ګڼل کېږي).

۵- د مُهر اولاک له منځه وړ ل يـا د نقليه وسايلو يا مالونو په موجودو نورو حفاظتي مميزاتو کې تعويض يا بدلون.

۶- د ګمرک د مامورينو له اجـازې پرته په غير مجاز ځای کې له يوې نقليه وسيلې څخه بلې نقليه وسـيلې تـه د مالونو، مسافرينو او اړونـدو سـفري وسايلو، بارګيري، تخليه او انتقال.

(۳) د الوتکې د کپيتان په واسـطه د لاندې فعاليتونو سرته رسول، قاچـاق پېژندل کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې مالونـه د اړوندې هوايي بارنامې له موجوديـت پرته انتقال کړي يا په الوتکه کې دننه مالونه له بارنامې سره مطابقت ونلري.

۲- هغه مالونه ګمرک ته احضار نکړي چې د هېواد ګمرکـي قلمـرو تـه د داخلېدو په وخت کې په بارنامه کـې

از قاچاق بودن آن مطلع باشد، (هرگاه گدام دار کاپی اظهار نامـهٔ گمرکـی اموال موجود در گدام را نداشته باشد، وی از قاچاق بودن اموال مطلع پنداشته می شود).

۵- از بین بردن مهرولاک، تعویض یا تغییر در سایر ممیزات حفاظتی موجود در وسایل نقلیه و یا اموال.

۶- بارگیری، تخلیه و انتقال امـوال، مسافرین و وسایل سفری مربوط از یک وسیلهٔ نقلیه به وسیلهٔ نقلیه دیگـر در محل غیر مجاز، بدون اجازهٔ مامورین گمرک .

(۳) انجام فعالیت های ذیـل توسـط کپیتـان طیـاره، قاچـاق شـناخته می شود:

۱- درصورتی که امـوال را بـدون موجودیت بارنامهٔ هوایی مربوط انتقال دهد یا اموال داخل طیاره با بارنامـه مطابقت نداشته باشد.

۲- اموال را بـه گمـرک احضـار ننماید که حین دخـول بـه قلمـرو گمرکی کشور در بارنامه شامل، ولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شامل، خو د تللو (عزیمت) پر موقع په الوتکه کې موجود نه وي.

۳- له ګمرکي هوايي ډګر څخه په بهر ساحه کې ناسته وکړي او له هغې څخه په چټکۍ سره ګمرکي مامورينو يا نورو اړوندو مسئولينو ته خبر ورنکړي.

**د مالونو د قاچاق اداري جريمې**

**يوسلو پنځه اتيايمه ماده:**

ددې قانون په يوسلو دوه اتيايمه مـــاده کې درج د قاچاق د جرم اداري جريمې د اړخونو د تراضۍ پربنســـټ، وضـــع کېږي، پرته لدې موضوع د رســـيدګۍ لپاره د ګمرکي حکميـــت ادارې تـــه سپارل کېږي.

**پر قاچاقو د تطبيق وړ مجازات**

**يوسلو شپږ اتيايمه ماده:**

(۱) ددې قانون په يوسلو څلوراتيايمه ماده کې درج مرتکبين، د حالاتو له په پام کې نيولو سره په لاندې توګه جريمه او مجازات کېږي:

۱- د قاچاق مالونو ضبط.

۲- پر قاچاق مال باندې د تطبيـــق وړ

موقع عزیمت در داخل طیاره موجـــود نباشند.

۳-در ساحهٔ خارج از میدان هـــوایی گمرکی نشست نمـــوده و از آن بـــه اسرع وقت به مامورین گمرک یا سایر مسئولین مربوط اطلاع ندهد.

**جریمه های اداری قاچاق اموال**

**مادۀ یکصد وهشتاد وپنجم:**

جریمه های اداری جرم قاچاق مندرج مادۀ یکصد وهشتاد ودوم این قانون، به اساس تراضی طرفین و ضع می گردد، در غیر آن موضوع غرض رسیدگی به ادارۀ حکمیـــت گمرکـــی محـــول می شود.

**مجازات قابل تطبیق بر قاچاق**

**مادۀ یکصد وهشتادوششم:**

(۱) مرتکبین مندرج مـــادۀ یکصـــد و هشتاد وچهارم این قانون با نظر داشت حالات،حسب ذیل جریمه و مجازات می گردند:

۱- ضبط مال قاچاق.

۲- وضع جریمـــۀ معـــادل دو الـــی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین پر وړاندې له دوو څخه تر پنځه برابره د جریمې وضع.

۳- ددې قانون په یوسلو دوه نوي یمه ماده کې درج مجازات.

(۲) که چېرې د سرغړونې ارتکاب له یوهٔ شخص څخه د زیاتو په واسطه صورت ومومي، هر یو په سرغړونه کې د برخې اخیستنې په اندازه جریمه کېږي. په هغهٔ صورت کې چې یو له شریکانو څخه ټوله جریمه ورکړي، نور د جریمې پر ورکړې مکلف ندي.

(۳) که چېرې سرغړوونکی په یوهٔ وخت پدې فصل کې د درج شوو څو سرغړونو مرتکب شي، د هرې سرغړونې پر وړاندې په جلا توګه مجازات کېږي.

(۴) د قاچاق د جرم ضبط شوي مالونه، د واکمنې محکمې د فیصلې پربنسټ مصادره اود ګمرکونو د لوی ریاست په لیکلې موافقه، له قانون سره سم لیلامېږي.

که چېرې د ضبطو شوو مالونو د مصادرې په اړه د محکمې فیصله، د

پنج برابر دین قابل تطبیق بالای مال قاچاق.

۳- مجازات مندرج مادهٔ یکصد و نود ودوم این قانون.

(۲) هرگاه ارتکاب تخلف توسط بیش از یک شخص صورت گیرد، هر کدام به اندازهٔ سهم گیری در تخلف جریمه می گردند. در صورتیکه یکی از شرکاء، تمام جریمه را بپردازد، سایرین مکلف به پرداخت جریمه نمی باشند.

(۳) هرگاه متخلف همزمان مرتکب چندین تخلف مندرج این فصل گردد، در برابر هر تخلف طور جداگانه مجازات می گردد.

(۴) اموال ضبط شدهٔ جرم قاچاق، به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ذیصلاح مصادره و به موافقهٔ کتبی ریاست عمومی گمرکات طبق قانون، لیلام می گردد.

هرگاه فیصلهٔ محکمه در خلال شش ماه مبنی به مصادرهٔ اموال ضبط شده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږو میاشتو په موده کې صادره نشي، ضبط شوي مالونه د هغهٔ هیئت په واسطه چې د ګمرکونو د لوی ریاست لخوا توظیف کېږي، له قانون سره سم لیلام او پیسې یې د فیصلې تر راسپېدو پورې په ودیعت اېښودل کېږي، د محکمې د فیصلې له رارسېدو وروسته، د هغې مطابق اجراآت صورت مومي.

(۵) هغه مالونه چې پدې قانون کې د درج شوو شرایطو د نه بشپړېدو پربنسټ یا ددې قانون له موادو څخه د سرغړونې پر اساس د ګمرک د مامورینو په واسطه ضبطېږي، د واکمنې محکمې لخوا د هغو د مصادرې د حکم له صادرېدو وروسته، د ګمرکونو لوی ریاست په لیکلې موافقې، له قانون سره سم لیلامېږي.

## له قاچاق سره مرتبط وسایل او لوازم

**یوسلو اووه اتیایمه ماده:**

(۱) هغه وسایل او لوازم چې مستقیماً د قاچاق په عمل کې له هغو څخه استفاده

صادر نگردد، اموال ضبط شده توسط هیئتی که از طرف ریاست عمومی گمرکات توظیف می گردد، طبق قانون، لیلام و پول آن الی وصول فیصله به ودیعت گذاشته می شود. بعد از وصول فیصلهٔ محکمه، طبق آن اجراآت صورت می گیرد.

(۵) اموالیکه بر اساس عدم تکمیل شرایط مندرج این قانون یا بر اساس تخلف از مواد این قانون توسط مامورین گمرک ضبط می گردد، بعد ازصدور حکم مصادرهٔ آن از طرف محکمهٔ ذیصلاح، به موافقه کتبی ریاست عمومی گمرکات طبق قانون، لیلام می گردد.

## وسایل و لوازم مرتبط با قاچاق

**مادهٔ یکصد وهشتاد وهفتم:**

(۱) وسایل و لوازمیکه مستقیماً در عمل قاچاق از آن استفاده صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وي، (د وسلې، نقليه وسايطو او د قاچاق د مالونو د لېږد د نورو وسايلو په شمول)، له قاچاقو سره مرتبط وسايل او لوازم پېژندل کېږي، د ګمرکي کارکوونکو په واسطه ضبط او د واکمنې محکمې د فيصلې پربنسټ مصادره او د پرېښودل شوو (ترک شوو) مالونو په توګه له هغو سره معامله صورت مومي.

(۲) د قاچاق مال نيول او ضبط، د قاچاقو د اندازې او د مالک د برخې اخيستنې له په پام کې نيولو پرته، صورت مومي.

(۳) که چېرې په قاچاقو تورن شخص، پدې ماده کې درج ضبط شوي وسايل او لوازم د بل جرمي عمل په پايله کې لاسته راوړي وي، وسايل او لوازم د هغو مالک ته مستردېږي.

(۴) په لاندې مواردو کې نقليه وسايط نه ضبطېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د نقليه وسايطو مالک، د قاچاق په عمل کې د نه دخالت په اړه اثباتيه مدارک، وړاندې

گرفته باشد (بشمول اسلحه، وسايط نقليه و ساير وسايل مورد استفاده انتقال و اخفای اموال قاچاق)، وسايل و لوازم مرتبط با قاچاق شناخته شده، توسط کارکنان گمرکی ضبط و به اساس فيصلهٔ محکمهٔ ذيصلاح مصادره و بحيث اموال ترک شده با آن معامله صورت می گيرد.

(۲) دستگيری و ضبط مال قاچاق بدون نظرداشت اندازه و سهم گيری مالک در قاچاق، صورت می گيرد.

(۳) هرگاه شخص متهم به قاچاق، وسايل و لوازم ضبط شدهٔ مندرج اين ماده را در نتيجهٔ عمل جرمی ديگری به دست آورده باشد، وسايل و لوازم به مالک آن مسترد ميشود.

(۴) در موارد آتی وسايط نقليه ضبط نمی گردد:

۱- درصورتی که مالک وسايط نقليه مدارک اثباتيه مبنی بر عدم دخالت در عمل قاچاق را ارايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې مالک، نقلیه واسطه په ښه نیت او له سوداګریزې متداولې کړنلارې سره سم، د مرتکب په واک کې ورکړې وي. پدې باندې په نه پوهېدو( ناآګاهی) سره چې مرتکب، نقلیه واسطه د قاچاق د فعالیتونو یا نورو غیر قانوني فعالیتونو په منظور تر ګټې اخیستنې لاندې نیسي.

(۵) محکمه مکلفه ده، له رسېدو (مواصلت) څخه پنځه ورځې وروسته، د نقلیه وسایطو او په قاچاقو پورې د نورو داړوندو وسایلو او لوازمو د مصادرې فیصله صادره کړي. نقلیه وسایط او په قاچاق پورې نور اړوند وسایل او لوازم، د واکمنې محکمې د فیصلې پربنسټ، د ګمرکونو د لوی ریاست په لیکلې موافقه، له قانون سره سم لیلامېږي.

<u>نقلیه وسایط</u>

**یوسلو اته اتیایمه ماده:**

(۱) که چېرې د قاچاق مالونو معاملې

نماید.

۲- درصورتی که مالک، واسطهٔ نقلیه را با حسن نیت و طبق طرزالعمل متداول تجارتی در اختیار مرتکب قرار داده باشد. بدون آگاهی از اینکه مرتکب، واسطهٔ نقلیه را به منظور فعالیت های قاچاق یا سایر فعالیت های غیر قانونی مورد استفاده قرار می دهد.

(۵) محکمه مکلف است، در مدت پنج روز بعد از مواصلت، فیصله مصادرهٔ وسایط نقلیه و سایر وسایل و لوازم مرتبط با قاچاق را صادر نماید. وسایط نقلیه و سایر وسایل و لوازم مرتبط با قاچاق، به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ذیصلاح به موافقهٔ کتبی ریاست عمومی گمرکات طبق قانون، لیلام می گردد.

<u>وسایط نقلیه</u>

**مادهٔ یکصد وهشتاد وهشتم:**

(۱) هرگاه مالک واسطهٔ نقلیه حامل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقليه واسطې مالک له نقليه واسطې سره يوځای ونيول او ثابته شي چې د قاچاق مالونو له وجود څخه خبر دی، د قاچاق شوو مالونو د بيې په معادل نغدي جزاء محکوميږي. د تکرار په صورت کې د نغدي جريمې پر ورکړې برسېره، د هغهٔ نقليه واسطه هم مصادره کېږي.

(۲) که چېرې ثابته شي چې مالک يا د نقليه واسطې چلوونکی د مالونو له قاچاقوالي څخه خبر دی، هغه د جرم د شريک په توګه مجازات کېږي.

## د قاچاق د وسايلو او لوازمو نيول او ضبط

يوسلو نهه اتيايمه ماده:

(۱) په قاچاق پورې اړوند وسايل او لوازم، په لاندې حالاتو کې نيول او ضبطيږي:

۱- د قاچاق عمل مشهود وي.

۲- مالونه د لېږد او نقليه واسطه د حرکت په حال کې وي.

۳- مالونه په غير محفوظ عامه او يا

اموال قاچاق با واسطهٔ نقليه يکجا دستگير و ثابت شود که از وجود اموال قاچاق مطلع بوده، به جزای نقدی معادل قيمت اموال قاچاق شده محکوم می گردد. در صورت تکرار علاوه بر پرداخت جريمهٔ نقدی، واسطهٔ نقليه وی نيز مصادره می گردد.

(۲) هرگاه ثابت شود که مالک يا رانندهٔ واسطهٔ نقليه از قاچاق بودن اموال حمل شده مطلع بوده، وی بحيث شريک جرم مجازات می شود.

## دستگيری و ضبط وسايل و لوازم قاچاق

مادهٔ يکصد و هشتاد ونهم:

(۱) وسايل و لوازم مرتبط با قاچاق در حالات ذيل، دستگير و ضبط می گردد:

۱- عمل قاچاق مشهود باشد.

۲- اموال در حالت انتقال و واسطهٔ نقليه در حالت حرکت باشد.

۳- اموال در محل عامه غير محفوظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټ ځای کې وي.

(۲) په شخصي ملکیت کې د مالونو نیول او ضبط یوازې د واکمنې محکمې د دمخه اجازې پربنسټ، صورت مومي.مشهود قاچاق لدې امر څخه مستثني دي

(۳) د قاچاق مالونه، په هغو پورې اړوند وسایل او لوازم په مجرد د ګرفتارۍ ګمرکي ادارو ته او په هغه ځای کې چې ګمرکي تشکیلات موجود نه وي د محل ادارې، د رسید په وړاندې سپارل کېږي.

(۴) که چېرې شخړه (تنازع) په ممنوعه یا قاچاق مالونو پورې مربوط وي، دغه مالونه هم د مال د مالک په لګښت، تر نهایي فیصلې پورې د ګمرک د ادارې لخوا ساتل کېږي او یا د قانوني اجراآتو په منظور، اړوندو مراجعو ته استول کېږي.

## سریع الفساد مالونه او مواشي

### یوسلو نوي یمه ماده:

(۱) واکمنه محکمه مکلفه ده، د سریع

ویا پنهان قرار داشته باشد.

(۲) دستگیری و ضبط اموال در ملکیت شخصی صرف به اساس اجازۀ قبلی محکمۀ ذیصلاح صورت می گیرد. قاچاق مشهود از این امر مستثنی است.

(۳) اموال قاچاق، وسایل و لوازم مرتبط با آن، به مجرد گرفتاری به ادارات گمرکی و در جائیکه تشکیلات گمرکی موجود نباشد، به ادارۀ محل، در مقابل رسید سپرده می شود.

(۴) هرگاه تنازع مربوط به اموال ممنوعه یا قاچاق باشد، این اموال نیز به مصرف مالک مال الی فیصلۀ نهایی از طرف ادارۀ گمرک نگهداری و یا به مراجع مربوطه به منظور اجراآت قانونی ارسال می گردد.

## اموال سریع الفساد و مواشی

### مادۀ یکصد ونودم:

(۱) محکمۀ ذیصلاح مکلف است، حد

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفساد مالونو، د مواشي د قاچاق او نورو هغو مالونو چې د هغو ساتنه لګښتونه ایجاب کړي، له نیولو وروسته اکثرحد د (۲۴) ساعتونو په ترڅ کې، د هغو د مصادرې حکم صادر کړي.
ددې مادې په مفهوم سریع الفساد مالونه، هغه مالونه دي چې ژر تر ژره خپل ماهیت له لاسه ورکوي یا ضایع کیږي.
(۲) که چیرې د مالونو د مصادرې په اړه د محکمې حکم په وخت (په موقع) صادر یا ونه رسیږي، د ګمرک مامورین مکلف دي د مالک په موافقه( په هغهٔ صورت کې چې حاضروي) قاچاق مالونه، د ګمرک د ادارې د مؤظف هیئت تر نظر لاندې لیلام او پیسې یې د محکمې د حکم تر رسیدو پورې په ودیعت کیږدي.

## د زیان نه جبران

**یوسلو یو نوي یمه ماده:**

که چیرې د نیونې یا ضبط په ضمن کې د قاچاق د انسداد د فعالیتونو په بهیر

اکثر درخلال (۲۴) ساعت بعد از دستگیری اموال سریع الفساد، قاچاق مواشی و سایر اموالیکه نگهداری آن ایجاب مصارف را نماید، حکم مصادرهٔ آن را صادر کند.
اموال سریع الفساد به مفهوم این ماده، اموالی است که بزودی ماهیت خود را از دست میدهند یا ضایع می شوند.
(۲) هرگاه حکم محکمه مبنی بر مصادرهٔ اموال به موقع صادر یا مواصلت ننماید، مامورین گمرک مکلف اند با موافقت مالک (در صورتی که حاضر باشد) اموال قاچاق را تحت نظر هیئت مؤظف ادارهٔ گمرک لیلام و پول آنرا الی وصول حکم محکمه به ودیعت بگذارند.

## عدم جبران خساره

**مادهٔ یکصد ونود ویکم:**

هرگاه در جریان فعالیت های انسداد قاچاق ضمن دستگیری یا ضبط، به

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې، مالونو ته زيان ورسېږي، د هغو جبران نشي غوښتل کېدای.

## د مجازاتو حدود

### يوسلو دوه نوي يمه ماده:

د قاچاق د جرم مرتکب په لاندې حالاتو کې، د قاچاق مالونو او له هغو سره د اړوندو وسايلو او لوازمو پر مصادرې برسېره د حبس په مجازاتو هم محکومېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې قاچاق، د مجاز مالونو له ډول څخه وي او بيه يې له يو ميليون(۱۰۰۰۰۰۰) افغانيو څخه زياته وي، په يوهٔ کال حبس.

۲- په هغهٔ صورت کې چې قاچاق، ممنوعه مالونه وي او بيه يې له شلو زرو (۲۰۰۰۰) افغانيو څخه کمه وي، په درې مياشتې حبس او له شلو زرو(۲۰۰۰۰) افغانيو څخه زياته وي، تر شپږو مياشتو پورې په حبس.

۳- په هغهٔ صورت کې چې قاچاق، د غير مجاز مالونو له ډول څخه وي، او بيه يې له پنځوس زرو(۵۰۰۰۰) افغانيو

اموال خساره وارد گردد، جبران آن مطالبه شده نمی تواند.

## حدود مجازات

### مادهٔ يکصد ونود ودوم:

مرتکب جرم قاچاق در حالات آتی علاوه بر مصادرهٔ اموال قاچاق، وسايل و لوازم مرتبط با آن، به مجازات حبس نيز محکوم می گردد:

۱-درصورتی که قاچاق، از نوع اموال مجاز بوده و قيمت آن بيش ازمبلغ يک ميليون (۱۰۰۰۰۰۰) افغانی باشد، به حبس يک سال.

۲- درصورتی که قاچاق، اموال ممنوعه بوده و قيمت آن کمتر ازمبلغ بيست هزار (۲۰۰۰۰) افغانی باشد، به حبس سه ماه و بيشتر ازمبلغ بيست هزار (۲۰۰۰۰) افغانی باشد، به حبس الی شش ماه.

۳- درصورتی که قاچاق، از نوع اموال غير مجاز بوده و قيمت آن بيشتر ازمبلغ پنجاه هزار (۵۰۰۰۰) افغانی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه زیاته او له سلو زرو(۱۰۰۰۰۰) افغانیو څخه کمه وي له شپږو میاشتو څخه تر یوۀ کاله پورې په حبس او له سلو زرو (۱۰۰۰۰۰) افغانیو څخه زیاته وي، له یوۀ څخه تر دریو کلونو پورې په حبس.

۴- په هغۀ صورت کې چې قاچاق مشروط مجاز وي او بیه یې له پنځوسو زرو(۵۰۰۰۰) افغانیو څخه زیاته او له سلو زرو (۱۰۰۰۰۰) افغانیو څخه کمه وي له دریو څخه تر شپږو میاشتو پورې په حبس او له سلو زرو (۱۰۰۰۰۰) افغانیو څخه زیاته وي، له یوۀ نیم څخه تر دوو کلونو پورې په حبس.

## مشدده حالات

### یوسلو دري نوي یمه ماده:

(۱) که چېرې د قاچاق عمل، د دوو تنو (نفرو) یا له هغو څخه د زیاتو په اتفاق ارتکاب شي، مرتکبین ددې قانون په یوسلو دوه نوي یمه ماده کې د درج شوو مجازاتو په اکثر حد محکومېږي،

کمتر ازمبلغ یکصد هزار (۱۰۰۰۰۰) افغانی باشد، به حبس شش ماه الی یکسال وبیشتر از یکصد هزار (۱۰۰۰۰۰) افغانی باشد، به حبس یک الی سه سال.

۴- درصورتی که قاچاق اموال مجاز مشروط بوده و قیمت آن بیشتر ازپنجاه هزار ( ۵۰۰۰۰ ) افغانی و کمتر ازمبلغ یکصد هزار (۱۰۰۰۰۰ ) افغانی باشد، به حبس سه الی شش ماه و بیشتر از مبلغ یکصد هزار (۱۰۰۰۰۰) افغانی، به حبس یک و نیم الی دو سال.

## احوال مشدده

### مادۀ یکصد ونود وسوم:

(۱) هرگاه عمل قاچاق، به اتفاق دو نفر یا بیشتر از آن ارتکاب گردد، مرتکبین به حد اکثر مجازات مندرج مادۀ یکصد و نود ودوم این قانون محکوم می گردند، مجرمین متکرر نیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



متکرر مجرمین هم ددې حکم تابع دي.

(۲) که چېرې د قاچاق عمل د قاچاقبرۍ شبکې له لارې صورت ومومي، د شبکې سازمانوونکی، ددې قانون په یوسلو دوه نوي یمه ماده کې د درج شوو مجازاتو د اکثر حد په دوه چنده محکومېږي.

(۳) که چېرې قاچاقبر د قاچاقو د انسداد د مؤظفینو پر وړاندې وسله وال مقاومت وکړي، تېر لدې چې ددې مقاومت په پایله کې جرح (ټپ) واقع شي یا نشي ، مرتکب د قاچاق مالونو د مصادرې پر جزاء برسېره له (۱۵ څخه تر ۲۰) کاله پورې په حبس محکومېږي.

(۴) که چېرې قاچاقبر، ګمرکي کارکوونکي یا بل شخص چې د دندې په اجراء کې له هغو سره مرسته کوي، په قتل ورسوي، د قاچاق د مالونو پر مصادرې برسېره د اعدام په جزاء او مرستیالان یې له (۱۰ څخه تر ۱۵) کاله پورې په حبس محکومېږي.

تابع این حکم می باشند.

(۲) هرگاه عمل قاچاق از طریق شبکهٔ قاچاقبری صورت گیرد، سازماندهٔ شبکه به دو چند حد اکثر مجازات مندرج مادهٔ یکصد و نود و دوم این قانون محکوم می گردد.

(۳) هرگاه قاچاقبر در مقابل مؤظفین انسداد قاچاق مقاومت مسلحانه نماید، اعم از اینکه در نتیجهٔ این مقاومت جرح واقع شود یا نشود، مرتکب بر علاوه جزای مصادرهٔ اموال قاچاق، به حبس از( ۱۵ الی۲۰) سال محکوم می گردد.

(۴) هرگاه قاچاقبر، کارکنان گمرکی یا شخص دیگری را که در اجرای وظیفه با آنها معاونت میکند، به قتل برساند، بر علاوه مصادرهٔ اموال قاچاق به جزای اعدام و معاونین آن به جزای (۱۰ الی ۱۵ ) سال حبس محکوم می گردند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مالونو د قاچاق په عمل کې د دولتي کارکوونکو ګډون

### یوسلو څلور نوي یمه ماده:

که چېرې کارکوونکي، منسوبین او نور هغه اشخاص چې په یوه ډول نه یو ډول په دولتي ادارو پورې اړوند وي او د قاچاقبرۍ شبکې په سازمانونه (سازمان ورکونه) او اداره کې برخوال(سهیم) وي، ددې قانون په یوسلو دوه نوي یمه ماده کې د درج شوو مجازاتو په دوه نیم چنده محکومېږي.

## د اداري سرغړونو بررسي

### یوسلو پنځه نوي یمه ماده:

د ګمرک د مامورینو اداري سرغړونې د مالونو له ترخیص څخه وروسته د پلټنې د دریوتنو مامورینو یا هغو مامورینو په واسطه چې د ګمرکونو د لوی ریاست لخوا مؤظف شوي وي او د نورو اشخاصو ګمرکي اداري سرغړونه د ګمرک د دوو تنو مامورینو په واسطه چې د اړوند ګمرک د ادارې د واکمن مقام لخوا ټاکل شوي وي، بررسي

## اشتراک کارکنان دولتی در عمل قاچاق اموال

### مادۀ یکصد ونود وچهارم:

هرگاه کارکنان، منسوبین نظامی و سایر اشخاصی که به نحوی از انحاء با ادارات دولتی مرتبط باشند و در سازماندهی و ادارۀ شبکۀ قاچاقبری سهیم باشند، به دونیم چند مجازات مندرج مادۀ یکصد و نود ودوم این قانون محکوم می گردند.

## بررسی تخلفات اداری

### مادۀ یکصد ونود وپنجم:

تخلفات اداری مامورین گمرک توسط سه نفر مامورین تفتیش بعد از ترخیص اموال یا مامورینی که از طرف ریاست عمومی گمرکات مؤظف گردیده باشد و تخلف اداری گمرکی سایر اشخاص توسط دو نفر مامورین گمرک که از طرف مقام ذیصلاح ادارۀ گمرک مربوط تعیین می شود، بررسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي.

## معلوماتو ته د لاسرسۍ واک

**یوسلو شپږنوي یمه ماده:**

د ګمرک مامورین کولای شي، د ګمرک د لوی ریاست په لیکلې اجازه، د اداري سرغړونو د مدارکو د لټولو (جستجو) په منظور، هغو سوداګریزو سندونو او معلوماتي سندونو ته لاسرسي پیداکړي چې د هغو سندونه او سوابق د ګمرک د اداري یا د هغې د غوښتنې پربنسټ له نورو مراجعو سره ساتل کېږي. همدارنګه د ګمرک مامورین کولای شي د اداري سرغړونو د کشف او مخنیوي په منظور، په هغو دفترونو، فابریکو، ګدامونو او نورو ځایونو او ودانیو کې چې په هغو کې د ګمرک حسابونه ساتل کېږي یا په ګمرکي فعالیتونو پورې اړوند اقدامات صورت مومي، لازم تدبیرونه ونیسي.

## د شواهدو رپوټ او راټولول

**یوسلو اووه نوي یمه ماده:**

(۱) د بررسۍ رپوټ په دریو نسخو کې

می گردد.

## صلاحیت دسترسی به معلومات

**مادۀ یکصد ونود وششم:**

مامورین گمرک می توانند، با اجازۀ کتبی ریا ست عمومی گمرکات به منظور جستجوی مدارک تخلفات اداری، به اسناد تجارتی و اسناد معلوماتی دسترسی پیدا کنند که اسناد و سوابق آن توسط ادارۀ گمرک ویا به اساس تقاضای آن نزد سایر مراجع نگهداری می گردد. همچنان مامورین گمرک میتوانند به منظور کشف و جلو گیری از تخلفات اداری تمام تدابیر لازم را در دفاتر، فابریکات، گدام ها و سایر محلات و ساختمانهایی که در آن حسابات گمرک نگهداری یا اقدامات وابسته به فعالیت های گمرکی صورت می پذیرد، اتخاذ نماید.

## گزارش و جمع آوری شواهد

**مادۀ یکصد ونود وهفتم:**

(۱)گزارش بررسی در سه نسخه طور

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لیکلې توګه ترتیب او لاسلیک کېږي، لاندې محتویات پکې شامل دي:
۱- د سرغړونې ځای، نېټه او وخت.
۲- د رپوټ د لاسلیک کوونکو اشخاصو نوم او د هغوی موقف.
۳- نوم، آدرس او د سرغړوونکو د هویت د تثبیت لپاره نور معلومات.
۴- پدې قانون کې د درج شوو سرغړونو تصنیف.
۵- د مالونو موقعیت.
۶- د سرغړونې په ارتکاب کې د استفاده شوو وسایلو توضیح او تشخیص.
۷- د مالونو ډول، کیفیت، کمیت، قیمت منشاء او تعرفوي طبقه بندي.
۸- د محصول او نورو واجب التأدیه ګمرکي دیونو اندازه.
۹- ددې قانون د حکمونو یادول چې د هغو پربنسټ وړاندیز شوې جریمې وضع شوې دي.
۱۰- ددې قانون د یوسلو یو اتیایمې مادې د مندرجاتو مطابق، د ګمرک د مامور او سرغړوونکي لاسلیک.

کتبی ترتیب و امضاء گردیده، شامل محتویات ذیل میباشد:
۱- محل، تاریخ و زمان وقوع تخلف.
۲- اسم اشخاص امضاء کنندۀ گزارش و موقف های شان.
۳- اسم، آدرس و سایر معلومات جهت تثبیت هویت متخلفین .
۴- تصنیف تخلفات مندرج این قانون.
۵- موقعیت اموال.
۶- توضیح و تشخیص وسایل استفاده شده در ارتکاب تخلف.
۷- نوعیت، کیفیت، کمیت، قیمت، منشاء و طبقه بندی تعرفوی اموال.
۸- اندازۀ محصول و سایر دیون گمرکی واجب التأدیه.
۹- ذکر احکام این قانون که به اساس آن جریمه های پیشنهاد شده وضع گردیده است.
۱۰- امضای مامور گمرک و متخلف حسب مندرجات مادۀ یکصد و هشتاد ویکم این قانون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د ګمرک مامورین مکلف دي، په سرغړونه تورن شخص ته بې له ځنډه، ددې مادې په (۱) فقره کـې د ثبـت شوي رپوټ په هکله خبر ورکړي.

(۳) د ګمرک مامورین مکلـف دي، لدې قانون څخه سرغړونوته د رسیدګۍ غونډه دایره او سـندونه او مـدارک راټول (راغونډ) او د شاهدانو اظهارات ثبت کړي. د ګمرک مامورین پـدې منظور د رسیدګۍ د غونـډې نېټـه، ساعت او ځای ټاکي. د رسیدګۍ موده د خبرورکونې له نېټې څخه لـه (۷۲) ساعتونو څخه زیاتېدای نشي.

(۴) د ګمرک مامورین کولای شـي، تورن یا شاهدانو ته اجازه ورکړي تـر څو د رسیدګۍ په غونډه کې د حضور په غرض، خپل اظهارات وړانـدې او ثبت کړي.

(۵) ددې مادې په (۴) فقره کې درج شوي اظهارات، د تورن او شاهدانو (د هغوی د حضُور په صورت کـې) او د ګمرک د دوو تنو مامورینو په واسـطه چې غونډه یې تنظیم او رهبري کـړې

(۲) مامورین گمرک مکلـف انـد، بلافاصله شخص متهم به تخلف را در مورد گزارش ثبت شدۀ مندرج فقـرۀ (۱) این ماده اطلاع دهند.

(۳) مامورین گمرک مکلف اند، جلسۀ رسیدگی به تخلفات از این قـانون را دایر و اسناد و مدارک را جمع آوری و اظهارات شهود را ثبـت نماینـد. مامورین گمرک به این منظور تـاریخ، ساعت و محل رسیدگی جلسه را تعیین می نمایند. میعاد رسیدگی از تـاریخ اطلاع دهی از ( ۷۲ ) ساعت بیشـتر بوده نمی تواند.

(۴) مـامورین گمـرک میتواننـد، به متهم یا شهود اجـازه دهنـد تـا عوض حضور در جلسـه رسـیدگی، اظهـارات خـود را ارایـه و ثبـت نمایند.

(۵) اظهـارات منـدرج فقـرۀ (۴) این مـاده توسـط مـتهم و شـهود (در صورت حضور شـان) و دو تـن از مامورین گمـرک کـه جلسـه را تنظـیم و رهبـری نمـوده، امضـاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، لاسلیک کېږي.

(٦) که چېرې تورن یا شاهدان په پښتو یا دري ژبو ونشي رږېدای، د رسیدګۍ غونډه د هغهٔ ترجمان (ژباړونکي) پـــه حضُور کې چې د جریاناتو د ترجمـــې مسئول دی، پرمخ بیول کېږي.

(٧) د هغې اداري سرغړونې رپوټ چې د ګمرک مامورین د هغې مرتکب شوي دي، له اړوندې کړنلارې سره ســـم، ترتیب او تنظیمېږي.

## د سندونو راټولول او د تصـــمیم نیول

یوسلو اته نوي یمه ماده:

د ګمرک او د مالونو لـــه تـــرخیص د وروسته پلټنې مامورین مکلـــف دي د سندونو او مدارکو له راټولولـــو او د سرغړونو د رپوټونو له بررسۍ وروسته، ددې قانون له حکمونو سره سم، تصمیم ونیسي او هغه د تطبیق لپاره واکمنـــو مراجعو ته واستوي.

می گردد.

(٦) هرگاه متهم یا شهود به زبان های دری یا پشتو صحبت نموده نتوانـــد، جلسهٔ رسیدگی با حضور ترجمانی که مسئول ترجمه جریانات می باشد، پیش برده می شود.

(٧) گزارش بررسی تخلف اداری که مامورین گمرک مرتکب آن شده اند، طبق طرزالعمل مربوط ترتیب و تنظیم می گردد.

## جمـــع آوری اســـناد و اتخـــاذ تصمیم

مادهٔ یکصد ونود وهشتم:

مامورین گمـــرک و تفتـــیش بعـــد از ترخیص اموال مکلف اند، بعد از جمع آوری اســـناد و مـــدارک و بررســـی گزارشات تخلفات مطابق احکام ایـــن قانون، تصمیم اتخاذ نموده و آنرا جهت تطبیق به مراجع ذیصلاح مربوط ارسال نمایند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جریمې پر ورکړې د تصمیم علیه (پرخلاف) اعتراض

**یوسلو نهه نوي یمه ماده:**

(۱) د ګمرک مامورین مکلف دي، پدې قانون کې د درج شوو جریمو د وضع په اړه تصمیم، د تصمیم له صادرېدو وروسته د (۲۴) ساعتونو په ترڅ کې، تورن ته ابلاغ او ورتسلیم کړي.

(۲) ددې قانون د درویشتمې مادې له حکم سره سم د جریمې پر ورکړې مکلف شخص کولای شي، د ګمرک د مامورینو د تصمیم پر وړاندې، اعتراض وکړي.

(۳) که چېرې اعتراض ددې قانون درویشتمې مادې د (۴) فقرې له حکم سره سم صورت ومومي، اعتراض کوونکی مکلف دی، د ګمرکي دین پر ورکړه برسېره د نومړې مادې د (۲) فقرې له حکم سره سم، د جریمې له مجموع مقدار څخه د څلوېښتو فیصدو معادل مبلغ هم تسلیم کړي، پدې شرط

## اعتراض علیه تصمیم به پرداخت جریمه

**مادهٔ یکصد ونود ونهم:**

(۱) مامورین گمرک مکلف اند، تصمیم مبنی بر وضع جریمه های مندرج این قانون را درخلال (۲۴) ساعت بعد از اصدار تصمیم به متهم ابلاغ و تسلیم نمایند.

(۲) شخص مکلف به تأدیهٔ جریمه، مطابق حکم مادهٔ بیست وسوم این قانون می تواند، در برابر تصمیم مامورین گمرک، اعتراض نماید.

(۳) هرگاه اعتراض مطابق حکم فقرهٔ (۴) مادهٔ بیست و سوم این قانون صورت گیرد، اعتراض کننده مکلف است، علاوه بر تأدیه دین گمرکی مطابق حکم فقرهٔ (۲ )مادهٔ متذکره مبلغ معادل چهل فیصد از مقدار مجموع جریمه را نیز تسلیم نماید، مشروط بر اینکه مقدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د سپارنې مجموع مقدار د سرغړونې وړ (مورد) مالونو له بيې څخه زياتى ونکړي.

(۴) د ګمرکي حکميت د اداري پر تصميم د نه قناعت په صورت کې، اعتراض کوونکى مکلف دى شپېته فيصده پاتې جريمه، د ګمرکي حکميت د اداري پرتصميم چې ددې قانون د درويشتمې مادې له حکم سره سم نيول شوى دى، له اعتراض دمخه ورکړي.

(۵) که چېرې تصميم، ګمرکي قرار يا د محکمې حکم د اعتراض کوونکي په ګټه نهايي شي، سپارل شوى مبلغ د (۵) ورځو په موده کې ددې قانون د پنځه ويشتمې او يوسلو پنځه اتيايمې مادې له حکم سره سم هغۀ ته مستردېږي.

(٦) ددې مادې د (۱، ۲، ۳، ۴ او ۵) فقرو مفاد د ګمرک پر هغو مامورينو چې ددغۀ شان اداري سرغړونو په ارتکاب تورن دي، هم د تطبيق وړ دي.

مجموع سپرده از قيمت اموال مورد تخلف تجاوز ننمايد.

(۴) در صورت عدم قناعت به تصميم ادارۀ حکميت گمرکی، اعتراض کننده مکلف است شصت فيصد جريمۀ باقيمانده را قبل از اعتراض بر تصميم ادارۀ حکميت گمرکی که مطابق حکم مادۀ بيست وسوم اين قانون اتخاذ گرديده است، بپردازد.

(۵) هرگاه تصميم، قرار گمرکی يا حکم محکمه به نفع اعتراض کننده نهايی گردد، مبلغ سپرده شده در مدت ( ۵ ) روز طبق حکم مواد بيست و پنجم و يکصدو هشتاد و پنجم اين قانون به وی مسترد می گردد.

(٦) مفاد فقره های (۱، ۲، ۳، ۴ و ۵) اين ماده بالای مامورين گمرک که متهم به ارتکاب چنين تخلفات اداری اند، نيز قابل تطبيق می باشد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوارلسم فصل
## د ترلاسه شوو عوايدو د توزيع(وېشلو) ډول او د مکافاتو ورکړه

**د قاچاقو له جريمو او مصادره شوو مالونو څخه د ترلاسه شوو عوايدو توزيع**

**دوه سومه ماده:**

(۱) د جريمو له اخيستلو او د ليلام شوو مالونو له ليلام څخه ترلاسه شوي عوايد په لاندې توګه وېشل کېږي:

۱- د دولت د وارداتو حساب ته د ټولو جريمو لېږد.

۲- د دولت د وارداتو حساب ته د مصادره شوو مالونو د بيې د پنځوس فيصده انتقال او پنځوس فيصده يې پوليسو او ګمرکي کارکوونکو ، خبر ورکوونکو او د ګمرک د پرسونل نورو همکارانو ته د مکافاتو د ورکړې په غرض.

(۲) د قاچاق د جرم د مصادره شوو

## فصل چهاردهم
## طرز توزيع عوايد حاصله و اعطای مکافات

**توزيع عوايد حاصله از جرايم و اموال مصادره شدهٔ قاچاق**

**مادهٔ دوصدم:**

(۱) عوايد حاصله از اخذ جريمه ها و ليلام اموال مصادره شده، قرار ذيل توزيع می گردد:

۱- انتقال تمام جريمه های حاصله به حساب واردات دولت.

۲- انتقال پنجاه فيصد قيمت اموال مصادره شده به حساب واردات دولت و پنجاه فيصد آن غرض اعطای مکافات به پوليس و کارکنان گمرکی، اطلاع دهندگان و ساير همکاران پرسونل گمرک.

(۲) عوايد حاصله از ليلام اموال

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالونو له ليلام څخه ترلاسه شوي عوايد، د محکمې له قطعي فيصلې وروسته ددې قانون د يوسلو دوه پنځوسمې مادې د (۲) فقرې له په پام کې نيولو سره، ددې فصل له حکمونو سره سم محاسبه او مستحقو اشخاصو ته ورکول کېږي او پاتې يې د دولت د ورادتو په حساب بانک ته تحويلېږي.

## د خبر ورکوونکي مکافات

**دوه سوه يوه يمه ماده:**

هغه شخص چې د قاچاق مال په کشف کې مؤثق خبر ورکړي، په لاندې توګه د مکافاتو مستحق ګرځي:

۱- مؤظف خبر ورکوونکي، د نوموړو مالونو د خرڅلاو د مجموعي بيې پنځه فيصده.

۲- غير مؤظف خبر ورکوونکي، د نوموړو مالونو د مجموعي بيې اووه نيم فيصده.

مصادره شدۀ جرم قاچاق بعد از فيصلۀ قطعی محکمه با نظرداشت فقرۀ (۲) مادۀ يکصد و پنجاه ودوم اين قانون، مطابق احکام اين فصل محاسبه و به اشخاص مستحق تأديه می گردد و متباقی آن به حساب واردات دولت تحويل بانک می شود.

## مکافات اطلاع دهنده

**مادۀ دوصد ويکم:**

شخصی که در کشف مال قاچاق اطلاع مؤثق بدهد، قرار ذيل مستحق مکافات می گردد:

۱- اطلاع دهندگان مؤظف، پنج فيصد قيمت مجموعی فروش اموال مذکور.

۲- اطلاع دهندگان غير مؤظف، هفت و نيم فيصد قيمت مجموعی فروش اموال مذکور.

## د قاچاق مالونو د نیوونکي مکافات

**دوه سوه دوه یمه ماده:**

هغه شخص چې قاچاق مال شخصاً ونیسي او هغه اړوندو مراجعو ته ور تسلیم کړي، په لاندې ترتیب سره د مکافاتو مستحق ګرځي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د قاچاق د انسداد یا ګمرک مؤظفین، قاچاق مالونه له داسې ځایونو څخه ونیسي چې په هغو کې له قاچاقبر سره د نښتې (برخورد) خطر احساس نشي، د نیول شوو مالونو د خرڅلاو له مجموع بیې څخه لس فیصده.

۲- په هغهٔ صورت کې چې له قاچاقبر سره د نښتې خطر محسوس، خو د قتل او جرح پیښه رامنځته نشي، د نیول شوو مالونو د خرڅلاو له مجموع بیې څخه پنځلس فیصده.

د ممنوعه مالونو او مخدرو موادو قاچاق لدې حکم څخه مستثني دی.

۳- که چېرې د ګمرک مؤظف مامور

## مکافات دستگیر کنندهٔ اموال قاچاق

**مادهٔ دو صد ودوم:**

شخصی که مال قاچاق را شخصاً دستگیر و آن را به مراجع مربوطه تسلیم نماید، به ترتیب ذیل مستحق مکافات می گردد:

۱- درصورتی که مؤظفین انسداد قاچاق یا گمرک، اموال قاچاق را از محلاتی دستگیر نمایند که در آن خطر برخورد با قاچاقبر احساس نگردد، ده فیصد از قیمت مجموع فروش اموال دستگیر شده.

۲- در صورتی که خطر برخورد با قاچاقبر محسوس، ولی حادثهٔ قتل و جرح واقع نگردد، پانزده فیصد از قیمت مجموع فروش اموال دستگیر شده.

قاچاق اموال ممنوعه و مواد مخدر از این حکم مستثنی است .

۳- هرگاه مامور مؤظف گمرک

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصاً قاچاق مالونه کشف یا ونیسي، په اړوندو قوانینو کې پــر درج شــوو مکافاتو برسېره، د قانون له حکم سره سم، د ګمرکونو د لــوی ریاســت د مکافاتو مستحق هم پېژندل کېږي.

۴- نور هغه اشخاص چــې د قاچــاق مالونو په نیولو کې له اړوندو مؤظفینو سره یې عملاً مرسته کړې ده، د قاچاق د نیول شــوو مــالونو د خــرڅلاو د مجموع بیې پنځه فیصده.

۵- هغه شخص چې د قاچاق مــال د نیولو پر وخت په قتل ورسېږي یا داسې ټپي شي چې ټپونه د هغــهٔ د شــغل او مسلک د دوام خنډ شــي، د لانــدې امتیازونو مستحق پېژندل کېږي:

- په هغهٔ صورت کې چــې شــخص نظامي کارکوونکی یا منسوب وي، د تقاعد پر حقوقو او ټــاکلو مکافــاتو برسېره خپله دهٔ ته یا یې پاتې کسانو ته پنځه سوه زره تر یو میلیــون افغــانیو پورې.

- که شخص د تقاعد حقوق ونلري، د معلولیت درجې ته په پام ســره خپلــه

شخصاً اموال قاچاق را کشف و یــا دستگیر نماید، بر عــلاوه مکافــات مندرج قوانین مربوط، طبق حکم قانون مستحق مکافــات ریاســت عمــومی گمرکات نیز شناخته می شود.

۴- سایر اشخاصی که در دســتگیری اموال قاچاق با مؤظفین مربوط عمــلاً کمک نموده اند، پنج فیصــد قیمــت مجموع فروش اموال قاچاق دســتگیر شده.

۵- شخصی که حین دستگیری مــال قاچاق به قتل رسیده یا طوری مجروح شود که جراحات مانع ادامهٔ شــغل و مسلک وی گردد، مستحق امتیــازات ذیل شناخته می شود:

- درصورتی که شخص کــارکن یــا منسوب نظامی باشد، بر علاوه حقوق تقاعــد و مکافــات معینــه، بــه خــود وی یــا بازمانــدگان وی پنجصد هــزار الــی یــک میلیــون افغانی.

- هرگــاه شــخص حقــوق تقاعــد نداشــته باشــد، نظــر بــه درجــهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ُته یا یې پاتې کسانو ته، پر ټاکلو مکافاتو برسېره ، اته سوه زره تر یومیلیون او پنځه سوه زره افغانیو پورې.

٦ – په هغهٔ صورت کې چې خبر ورکوونکي یا د قاچاق مالونو نیوونکي له یوهٔ تن څخه زیات وي، ددې قانون په دوه سوه یوه یمه ماده کې درج شوي مکافات د هغو ترمنځ مساویانه وېشل کېږي.

## د مکافاتو نیمايي (مناصفه)

### دوه سوه دریمه ماده:

د قاچاق مالونو چې خاوند یې معلوم نه وي نیوونکی او د هغهٔ مرستیالان، د ټاکلو مکافاتو د مناصفې (نیمايي) مستحق پېژندل کېږي.

پدې فصل کې درج شوي مکافات، د ګمرکونو د لوی ریاست له لیکلې اجازې وروسته د تطبیق وړ دي.

معلولیت به خود یا بازماندگان وی بر علاوه مکافات معینه، هشتصد هزار الی یک میلیون و پنجصد هزار افغانی.

٦- در صورتی که اطلاع دهنده یا دستگیر کنندهٔ اموال قاچاق بیش از یک نفر باشد، مکافات مندرج مادهٔ دوصد و یکم این قانون بین شان مساویانه تقسیم می شود.

## مناصفهٔ مکافات

### مادهٔ دوصد وسوم:

دستگیرکنندهٔ اموال قاچاق و معاونین وی که مالک آن معلوم نباشد، مستحق مناصفهٔ مکافات معینه شناخته می شوند.

مکافات مندرج این فصل بعد از اجازهٔ کتبی ریاست عمومی گمرکات قابل تطبیق می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځلسم فصل

## متفرقه حکمونه

**د محافظت او تنفيذي خاصو عملياتو له ادارې سره همکاري**

**دوه سوه څلورمه ماده:**

د کورنيو چارو وزارت پوليس او نورې اړوندې ادارې مکلف دي، ددې قانون د حکمونو په تطبيق کې د محافظت او تنفيذي خاصو عملياتو له ادارې سره همکاري وکړي.

**د ګمرکونو د کلني رپوټ وړاندې کول**

**دوه سوه پنځمه ماده:**

د مالیې وزارت مکلف دی، د خپلو اجراآتو کلنی رپوټ چې د لاندې معلوماتو لرونکی وي، د وزيرانو شورې ته وړاندې کړي:

۱- د هېواد د ګمرکونو کلنی عملياتي بودجې.

۲- د کارکوونکو تعداد او رتبې.

## فصل پانزدهم

## احکام متفرقه

**همکاری با ادارهٔ محافظت و عملیات خاص تنفیذی**

**مادهٔ دو صد وچهارم:**

پولیس وزارت امور داخله و سایرادارات ذیربط مکلف اند، در تطبیق احکام این قانون و سایر اسناد تقنینی گمرکی با ادارهٔ محافظت و عملیات خاص تنفیذی، همکاری نمایند.

**ارایهٔ گزارش سالانهٔ گمرکات**

**مادهٔ دوصد وپنجم:**

وزارت مالیه مکلف است،گزارش سالانهٔ اجراآت خویش را که حاوی معلومات ذیل می باشد، به شورای وزیران ارایه نماید:

۱- بودجه های عملیاتی سالانهٔ گمرکات کشور.

۲- تعداد و رتب کارکنان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د ګمرکونو راټول شوي عوايد.

۴- د ګمرکي محصول له ورکړې او معافيت څخه د تېښتې په پايله کې لاسه وتلي عوايد.

۵- د نورو ادارو لخوا محول شوي فعاليتونه او د هغوی عکس .

٦- د نورو هغو کړنو (اجراآتو) په هکله معلومات چې د ګمرکونو پر فعاليتونو باندې اغېز ولري.

**د مقررو وضع کول**

**دوه سوه شپږمه ماده:**

د ماليې وزارت کولای شي، ددې قانون د حکمونو د ښه تطبيق په منظور مقررې وړانديز او اړوندې لايحې او کړنلارې چې ددې قانون مغاير نه وي، له پړاوونو څخه تېرې کړي.

**انفاذ او ارجحيت**

**دوه سوه اوومه ماده:**

(۱) دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي او په نافذېدو سره يې د ۱۳۸۴ کال په (۸۴۷) ګڼه رسمي جريده کې خپور

۳-عوايد جمع آوری شدۀ گمرکات.

۴- عوايد از دست رفته در نتيجۀ گريز از پرداخت و معافيت از محصول گمرکی .

۵- فعاليت های محول شده از جانب ساير ادارات و عکس آن.

٦-معلومات در مورد ساير اجراآت که بالای فعاليت گمرکات تأثير داشته است.

**وضع مقرره ها**

**مادۀ دوصد وششم:**

وزارت ماليه می تواند، به منظور تطبيق بهتراحکام اين قانون، مقرره ها را پيشنهاد و لوايح و طرزالعمل های مربوط را که مغاير اين قانون نباشد، طی مراحل نمايد.

**انفاذ و ارجحيت**

**مادۀدوصد وهفتم:**

(۱) اين قانون از تاريخ توشيح نافذ و در جريدۀ رسمی نشر گردد و با انفاذ آن قانون گمرکات منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۸۴۷) سال ۱۳۸۴،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی د ګمرکونو قـــانون، د ۱۳۸۴ کال په (۸۸۱) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د مالونو د ګمرکي بيـــې د ټاکلو مقرره، تعديلونه او د هغهٔ نـــور مغاير حکمونه، ملغي ګڼل کېږي.

(۲) که چېرې ددې قانون له حکمونو څخه کوم حکم د نافذه تقنيني سندونو له حکم سره په مغايرت کې راشـــي، ددې قانون حکم مرجح ګڼل کېږي.

مقررهٔ تعيين قيمت گمرکـــی امـــوال منتشـــرهٔ جريـــدهٔ رســـمی شـــمارهٔ (۸۸۱) ســـــال۱۳۸۴، تعـــــديلات و ساير احکام مغاير آن، ملغی شمرده می شود.

(۲) هرگاه حکمی از احکام اين قانون، با حکم ساير اسناد تقنينی نافـــذه در مغايرت قرار گيرد، حکم اين قـــانون مرجح دانسته می شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایــــات :          (۹۰۰) افغــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور:          (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ISLAMIC REPUBLIC**
**OF**
**AFGHANISTAN**
**MINISTRY OF JUSTICE**

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

# CUSTOMS'ACT

**Date:25th October.2016**
**ISSUE NO:(1235)**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**